

# د عبدالرحمن پژواک

## د پښتو نظم او نثر سبکي ځانګړنې

لیکوال: محمداسرار شینواري

کال: ۱۴۰۱ لمریز

# د عبدالرحمن پژواک
# د پښتو نظم او نثر سبکي ځانګړنې

ليکوال : محمداسرار شينواری
کال: ۱۴۰۱ لمريز

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د عبدالرحمن پژواک د پښتو نظم او نثر سبکي خصوصيات
**ليکوال:** محمد اسرار شينواری
**خپروونکی:** پژواک بنسټ او کليد گروپ
**د ليکلو کال:** ۱۳۹۵ لمريز
**دويم چاپ او انټرنټي بڼه:** ۱۴۰۱ لمريز/ ۲۰۲۲ ميلادي
**مهتمم:** صديق الله بدر

د پژواک بنسټ انټرنټي پته
www.pazhwakfoundation.com
د کليد گروپ انټرنټي پته
www.tkg.af

# نیولیک


سریزه ........................................................................................ ١٦
د څېړنې ارزښت او اهمیت.................................................................... ١٩
د څېړنې میود............................................................................... ٢٢
د موضوع مخینه او شالید...................................................................... ٢٤
١- د عبدالرحمن پژواک پېژندګلوي ........................................................... ٢٨
١-١ زوکړه...................................................................................... ٢٨
١-٢ زده کړه ................................................................................... ٣٢
١-٣ د عبدالرحمن پژواک دندې.................................................................. ٣٤
١-٤ دعبدالرحمن پژواک تخلص او مستعار نومونه.................................................. ٣٧
١-٥ دعبدالرحمن پژواک سفرونه ............................................................... ٣٩
١-٦ د عبدالرحمن پژواک څانګړې کارنامې......................................................... ٤٠
١-٧ عبدالرحمن پژواک د ملګرو ملتونو د ځینو څانګرو کمیټو د رییس په توګه ....... ٤١
١-٨ د عبدالرحمن پژواک مړینه او مزار.............................................................. ٤٢
٢- د شلمې پېړۍ ادبي، سیاسي او فرهنګي بهیر ته یوه کتنه ........................................ ٤٦
٢-١ د عبدالرحمن پژواک سیاسي شخصیت........................................................ ٦٥
٢-٢ دعبدالرحمن پژواک فرهنګي شخصیت......................................................... ٧٩
٢-٣ د عبدالرحمن پژواک ژورنالیستکي شخصیت................................................. ٨٤
٣-سبک....................................................................................... ٨٦
٣-١ د سبک لغوي معنی ......................................................................... ٨٦
٣-١-٢ د سبک اصطلاحي معنی.................................................................... ٨٨
٣-٢ د سبک توکي................................................................................ ٩٢
٣-٢-١ د اثر سوژه ............................................................................... ٩٢
٣-٢-٢ د اثر جوړښت.............................................................................. ٩٣
٣-٢-٣ د اثر بیاني جوړښت.......................................................................... ٩٣
٣-٣ د سبک ډولونه ............................................................................... ٩٣
٣-٤ د سبک د جوړښت عوامل ................................................................... ٩٨
٣-٥ د سبک او مکتب تر منځ توپیرونه ........................................................... ١٠١
٣-٦ د سبک پېژندنې لارې چارې..................................................................... ١٠٣
٣-٧ سبک به څنګه معلوموو؟........................................................................ ١٠٦

۳-۸ د پښتو معاصره شاعري او سبک يې ........................................ ۱۰۹
۴-د عبدالرحمن پژواک د کلام سبکي ځانګړنې........،.............................. ۱۱۸
۴-۱ د عبدالرحمن پژواک شعري سبکي ځانګړنې............................................ ۱۱۸
۴-۱-۱ د کلیمه داره روپۍ ځانګړتیاوې.................................................. ۱۴۶
۴-۱-۲ د حق لمر.................................................................................... ۱۵۰
۴-۱-۳ پام کوه چې رقیبان دې ریبار نه شي.................................................. ۱۵۲
۴-۱-۴ نوی مضمون ................................................................................. ۱۵۵
۴-۲-۵ خنګه وایي لوی اختر دی.................................................................. ۱۵۹
۴-۱-٦ اختر مبارکي.................................................................................. ۱٦۰
۴-۱-۷ زما لېونتوب...................................................................................... ۱٦۲
۴-۱-۸ چا وی چې....................................................................................... ۱٦۴
۴-۱-۹ ځوی د افغانستان............................................................................... ۱٦۵
۴-۱-۱۰ څه به وشي ...................................................................................... ۱٦٦
۴-۱-۲ ادبي صنعتونه.................................................................................... ۱٦۷
۴-۱-۲-۱ تشبه ................................................................................................ ۱٦۷
۴-۱-۲-۲ تجنیس.............................................................................................. ۱٦۸
۴-۱-۲-۳ تضمین.............................................................................................. ۱٦۸
۴-۱-۲-۴ طباق................................................................................................ ۱٦۹
۴-۱-۲-۵ مراعت النظیر........................................................................................ ۱٦۹
۴-۱-۲-٦ تلیمح................................................................................................ ۱٦۹
۴-۱-۳ د عبدالرحمن پژواک د شعر خاصې سبکي ځانګړنې.................................. ۱۷۰
۴-۲ د عبدالرحمن پژواک د هنري نثرونو سبکي ځانګړنې................................. ۱۷۵
۴-۲-۱ سیلۍ................................................................................................. ۱۷۸
۴-۲-۲ د شهید پر مزار شمع............................................................................... ۱۸۰
۴-۲-۳ د عبدالرحمن پژواک د هنري نثر خاصې سبکي ځانګړنې............................ ۱۸۲
۴-۳ د عبدالرحمن پژواک د هنري ژباړو سبکي ځانګړنې.................................. ۱۸۴
۴-۳-۱ مړه بنفشه ......................................................................................... ۱۸٦
۴-۳-۲ سوې ناره ......................................................................................... ۱۸۷
۴-۳-۳ سبا................................................................................................. ۱۸۷
۴-۳-۴ د عبدالرحمن پژواک د ژباړو خاصې سبکي ځانګړنې.................................. ۱۸۸
۴-۴ د عبدالرحمن پژواک د ساده نثرونو سبکي ځانګړنې.................................. ۱۸۹
۴-۴-۱ د استقلال درویشتم کال........................................................................ ۱۸۹
۴-۴-۲ ملي اشعار......................................................................................... ۱۹۱

۴-۴-۳ د عبدالرحمن پژواک د ساده نثرونو خاصې سبکي ځانگړنې..................... ۱۹۳
۴-۵ د عبدالرحمن پژواک د دري اشعارو سبک.............................................. ۱۹۴
۴-۵-۱ مردان پارو پامیزاد........................................................................ ۱۹۷
۴-۵-۲ دختر کوچي................................................................................. ۲۰۳
۵ - دعبدالرحمن پژواک د اشعارو پیغام........................................................ ۲۱۲
۵-۱ د عبدالرحمن پژواک اشعار د فورم او محتوا له مخې............................... ۲۱۳
٦- د عبدالرحمن پژواک اثار......................................................................... ۲۱۴
٦-۱ د عبدالرحمن پژواک شعري اثار.............................................................. ۲۱۵
٦-۱-۱ کلیمه داره روپی............................................................................ ۲۱۵
٦-۱-۱-۱ د ډرامې کارکوونکي...................................................................... ۲۱۷
٦-۱-۱-۲ د ډرامې خلاصه.......................................................................... ۲۱۷
٦-۱-۲ بانوی بلخ..................................................................................... ۲۱۹
٦-۱-۳ ناهید نامه ..................................................................................... ۲۲۱
٦-۱-۴ حدیث خون.................................................................................... ۲۲۲
٦-۱-۵ میهن من...................................................................................... ۲۲۳
٦-۱-٦ گلهای اندیشه ............................................................................... ۲۲۳
٦-۲ د عبدالرحمن پژواک نثري اثار................................................................. ۲۲۴
٦-۲-۱ تعاملات حقوقیه و جزاییه ملي ........................................................... ۲۲۴
٦-۲-۲ مذاکرات ژنیو................................................................................. ۲۲۴
٦-۲-۳ یک زن.......................................................................................... ۲۲۵
٦-۲-۴ چند شعر از پژواک........................................................................... ۲۲۶
٦-۲-۵ گزیده اشعار عبدالرحمن پژواک........................................................... ۲۲۶
٦-۲-٦ احساسات و عواطف........................................................................... ۲۲۷
٦-۲-۷ کودک بیگناه.................................................................................. ۲۲۷
٦-۲-۸ فیلمرغ های شاه ............................................................................. ۲۲۷
٦-۲-۹ یک شب شاعر................................................................................ ۲۲۷
٦-۲-۱۰ خاطرات........................................................................................ ۲۲۷
٦-۳ دعبدالرحمن پژواک ژباړې....................................................................... ۲۲۸
٦-۳-۱ عروج بارکزایي ............................................................................... ۲۲۸
٦-۳-۲ باغبان.......................................................................................... ۲۲۸
٦-۳-۳ پیشوا............................................................................................ ۲۲۹
٦-۳-۴ لمحات بنگال یا مراسلات.................................................................... ۲۲۹
٦-۳-۵ عروس بیکس.................................................................................. ۲۲۹

٦-٣-٦ الماس ناشکن............................................................ ۲۲۹
٦-٣-٧ زن و محمدص............................................................ ۲۳۰
٦-٣-٨ زبور داوود............................................................ ۲۳۰
٦-۴ د عبدالرحمن پژواک انگلیسي اثار............................................................ ۲۳۰
٦-۴-١ اریانا............................................................ ۲۳۰
٦-۴-٢ زوږ افغانستان............................................................ ۲۳۰
٦-۴-٣ پښتونستان ورځ............................................................ ۲۳۰
٦-۴-۴ د پښتونستان مساله ............................................................ ۲۳۰
٦-۴-۵ پښتونستان ............................................................ ۲۳۱
٧ - د استاد خلیل الله خلیلي له نظره د پژواک نظم او نثر............................................................ ۲۳۲
٨ - دپیر محمد کاروان مرثیه ښاغلي پژواک ته ............................................................ ۲۳٦
پایله............................................................ ۲۳۸
مناقشه ............................................................ ۲۴۲
پای پایله ............................................................ ۲۴٦
وړاندیزونه ............................................................ ۲۴۸
ماخذونه ............................................................ ۲۵۰

## د لارښود استاد تقریظ

د ښاغلي محمد اسرار «شینواري» د کندز ولایت د پوهنتون استاد تېرس، چې د وخت د بورډ له خوا د (د عبدالرحمان پژواک د پښتو نظم او نثر سبکي ځانګړنې) سر لیک لاندې ورته ټاکل شوی و، دا دی اوس د څو ځل کتنو او مشورو په نتیجه کې بشپړ شوی او دفاع ته چمتو دی. زه د لارښود استاد په توګه وړ بولم چې د دې کتاب ځینې ځانګړنې په لاندې توګه له تاسو سره شریکې کړم.

**لومړی:** د عنوان ټاکنه د اړوندې څېړنې بشپړه معرفي تر سره کوي، ځکه چې د سبک یا سټایل کلمه د سرلیک په ترکیب کې کارول شوې ده.

**دوهم:** د کتاب په فهرست کې موضوعات سره ښه اوډل شوي دي، د ساري په توګه: د شلمې پېړۍ ادبي، سیاسي او فرهنګي بهیر ته یوه کتنه یا د عبدالرحمن پژواک د کلام سبکي ځانګړنې او یا دې ته ورته نور ستر سر لیکونه او ورسره کوچنې عناوین په ترتیب سره راوړل شوي دي.

**درېیم:** د شکل او منځپانګې له مخې زما له نظره په کې

ټول توکي د اړتیا پر بنسټ توضیح او راوړل شوي دي. د څېړنې د اصولو او پرنسیپونو رعایت په کې په پام کې نیول شوی دی. د پیل خبرې، د موضوع لنډیز، سریزه، د موضوع شالید او ورسره په پای کې نتیجه، مناقشه، پای پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه د کتاب تخنیکي برخې بشپړوي، ټول کتاب په (۱۸۶) صفحو کې بشپړ شوی دی.

زما له نظره نوموړي استاد د خپل وس په کچه زیار ایستلی چې د ادب مینه والو ته د یو سیاسي، ادبي او فرهنګي شخصیت پیژندنه او د هغه آثار در وپیژني، چې دا دی هغه د خپل فکر او دید په رڼا کې د نوموړي حقدار سیاسي، ادبي شخصیت په اړه خپله څېړنه تر سره کړې ده. سره له دې چې نوموړی لیکوال او شاعر د دري برخې په نسبت په پښتو ژبه کې لږ لیکنې او آثار لري، مګر په پښتو ژبه هم د پام وړ مقالې او لیکنې لري. د مثال په توګه د هغه (کلمه داره روپۍ) چې د پښتو ژبې د آزاد شعر بیلګه هم بلل شوې، د ارزښت وړ ډرامه ده چې په دې تېزس کې وربانډې هر اړخیز بحث شوی دی. له ډېرو خبرو څخه تیریږم، ګران لوستونکي د کتاب لوستلو ته ور بولم.

په پایله کې د شینواري صاحب دغه څېړنه او کتاب د ماستری د درجې د تیزس په توګه منم او د لارښود او مرستندوی استاد په توګه زما له خوا تایید دی، نوموړي ته د لابریاوو هیله کوم.

په درنښت

پوهاند محمد رفیق رفیق

د پښتو څانګې استاد

## د سر خبرې

د هرې علمي او پوهنيزې ترفيع لپاره اړينه ده چې يوه موضوع وڅيړل شي، د لېسانس دورې لپاره د مونوګراف ليکل اړين وي چې د يوې ورې رسالې بڼه لري او د ماسترۍ دورې ته د تېزس ليکلو اړتيا وي خو تېزس تر مونوګراف يو څه قوي ليکل کېږي او ډېر کار او څېړنې ته اړتيا لري.

کله چې زموږ د ماسترۍ پروګرام دوه سمسترونه په برياليتوب سره بشپړل شول او درېيم سمستر پيل شو، درانه استاد ښاغلي زلمي هيوادمل، له ټولو ټولګيوالو وغوښتل چې هر څوک دي د تېزس ليکلو لپاره په خپله خوښه موضوع انتخاب او خپل غوښتنليکونه د ماسترۍ بورډ ته تسليم کړي.

ما هم غوره وګڼل چې د ماسترۍ تر بشپړېدو پورې، خپل تېزس وليکم. د تېزس لپاره مې د خپل ذوق او فکر مطابق يو شمير موضوعګانې سره راټولې او لست کړې. بيا مې د موضوعګانو پر ترتيب شوي لست کار وکړ او څلور موضوعګانې مې ور څخه انتخاب کړې، په هغو کې يوه هم همدا اوسنۍ موضوع ( د

عبدالرحمن پژواک د پښتو نظم او نثر سبکي ځانګړنې) وه چې د ماسترۍ د دورې او نورو ملګرو سره مې تر ډېرو مشورو وروسته دا موضوع انتخاب کړه.

بالاخره مې موضوع کره او له خپل لارښود استاد ښاغلي پوهاند محمد رفيق رفيق سره شريکه کړه، هغه هم په ورين تندي راسره دا موضوع ومنله. د خپل لارښود استاد له تاييد وروسته مې موضوع د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د ماسترۍ بورډ ته د اداري مراحلو د تېرولو لپاره وړاندې کړه. موضوع ومنل شوه او پر هغه مې د کار کولو واک تر لاسه کړ.

لومړی مې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په اړه د ليکل شويو ليکنو پلټنه وکړه، بيا مې د خپلې موضوع د څېړلو اړوند اثار را پيدا کړل، هغه مې ولوستل، و مې ارزول او د خپل کار لپاره مې پلان او کاري کړنلاره جوړه او د موضوع پر ليکلو مې پيل وکړ.

زما موضوع ( د عبدالرحمن پژواک د پښتو نظم او نثر سبکي ځانګړنې ) وه. دا چې له کلمه داري روپۍ څخه پرته نور د ده کوم پښتو شعري ټولګه نه وه چاپ شوې، مجبور شوم چې د کابل او نورو مجلو ټول کلکسيونونه وګورم او چاپ شوي اثار يې پيدا کړم.

د ليکلو پر مهال کله کله له ځينو ستونزو سره مخ کيدم خو کله به چې له کومې ستونزې سره مخ شوم نو له خپل لارښود استاد څخه به مې نظر واخيست، يا به مې له نژدې ورسره موضوع شريکوله او يا به مې په تيلفون ترې نظر او لارښوونه

اخیستله. د هغه دې کور ودان وي، په ډیر صمیمت او مینه به یې زما پوښتنې او ستونزې راحلولې او لازمې لارښوونې به یې راته کولې. ما د لارښود استاد په مرسته او لاسنیوی دا موضوع بشپړه کړه او تر خپلې وسې مې وربانديې کار وکړ.

په مجموع کې هره څیړنه خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې لري. دا څیړنه هم ممکن ډېرې ستونزې او نیمګړتیاوې ولري خو بنده تر خپل وس پر ډیر ما تر خپلې وسې وربانديې کار کړی خو له ګرانو لوستونکو څخه هیله کوم چې د دغې موضوع په برخه کې زما نیمګړتیاوې او زما ستونزې د خپل ملي او پوهنیز رسالت له مخې را په ګوته کړي.

همدا شان د دغې څیړنیزې موضوع په بشپړاوي کې چې له ما سره کومو ملګرو مرسته کړې، د هغوی د مرستې مننوی یم. دلته په ځانګړې ډول له لارښود استاد پوهاندمحمد رفیق رفیق، څیړنوال عبدالظاهر شکیب، حبیب الله رفیع، پوهیالی محب الله ترابي .... او نورو څخه نړۍ مننه کوم چې له ما سره یې د موضوع د اړوندو موادو په برابرولو کې تر خپلې وسې مرسته او همکاري کړې ده. د ټولو دې کور ودان وي.

په درنښت

محمد اسرار شینواری

## لنډیز

کله چې یوه علمي پروژه پای ته ورسیږي نو د پروژې د سر له خبرو وروسته او تر لړلیک یا فهرست څخه دمخه د لنډیز په نوم یو عنوان ور زیاتوي. په لنډیز کې یو څېړونکی د ټولې پروژې محتویات په خلاصه ډول راغونډوي او د پروژې د تر ټولو مهمې نقطې په لنډیز کې بیانوي.

ما د خپلې پروژې تر بشپړولو وروسته د خپلې پروژې عمده نقطې په خلاصه ډول را اخیستې دي.

د پروژې په لومړۍ برخه کې مې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په ژوند یعنې چیرته پیدا شوی، کورنۍ، زده کړه، دندو او مصروفیتونو، سیاسي فعالیتونو او په نړیوالو او کورنیو کنفرانسونو کې پر ګډون په مفصل ډول بحث کړی دی.

د دې پروژې په دوهمه برخه کې د هغه وخت پر سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالاتو، له امیر عبدالرحمن څخه شروع تر داوود خان پورې؛ په لنډ ډول بحث شوی دی او بیا د ښاغلي عبدالرحمن پژواک، سیاسي، فرهنګي او ژورنالیستکي شخصیت

په مفصل ډول څېړل شوی دی.

د پروژې په درېیمه برخه کې په خلص ډول د سبک په اړه یو څو خبرې راغلي او بیا ور پسې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د کلمه دارې روپۍ او همدارنګه د ده په شعرونو باندې او د هغه د شعر په سبکي ځانګړنو په ډېر زيات تفصيل او تشريحي ډول بحث شوی دی.

په څلورمه برخه کې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په اثارو باندې په خلاصه ډول بحث شوی دی، ځکه چې له کليمه دارې روپۍ نه بغير د عبدالرحمن پژواک بل کوم پښتو کتاب نه دی چاپ شوی.

وروسته بیا پایله، مناقشه، پای پایله، وړاندیزونه او اخځليکونه د پروژې په اخر کې راوړل شوي دي.

## سریزه

د پښتو ادب په ځانګړي ډول د شعر برخې څېړونکي په دې نظر دي چې د پښتو اوسنی (معاصر ) شعر له شلمې پېړۍ را وروسته پیل شوی چې په پیل کېدو یې زموږ پر هېواد انګریز ښکیلاکګرو ناروا تېری او نادوده ژور اغېز درلود.

د یو شخص پېژندنه، معمولا د ژوندانه په اوږده سفر کې، د هغه د علمي، فرهنګي، ټولنیز، سیاسي کړنو د څرنګوالي او څومره والي له مخې کېږي. په هره ټولنه کې ډېر داسې معمولي اشخاص یا وګړي وي چې پېژندنه یې په څو ټکیو، کرښو یا ګرافونو او یا د کاغذ د څو محدودو پاڼو په مخونو کې تر سره کېدای شي خو د دوی په وړاندې بیا داسې وګړي هم وي چې شخصیت یې له ګڼو اړخونو برخمن او خپل له ثمره ډک ژوند کې یې په علمي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیز لحاظ داسې ارزښناکې کړنې، بریاوې او لاسته راوړنې لرلې دي چې نه یوازې د هغه کورنۍ، ټولنه، ولس او هېواد بلکې د سیمې د هېوادونو او نړۍ په کچه پرې بشریت ویاړي.

که څوک وغواړي چې د لوی شاعر په شعر باندې بحث

وکړي نو څېړونکي ته لازمه ده چې د شعر د تحلیل، سپړنه او تفسیر لپاره موږ اړ یو چې د شاعر ژوند، ټولنې، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي وضعیت، د شاعر او ټولنې اړواپوهنې، دعلم او پوهې کچه، مطالعه، هم عصر ملګري او په ټوله کې ټولنیز وضعیت ته پام وکړو.

کله چې یو څېړونکی په دې اړه پوره څېړنه وکړي او مطلوبې پایلې لاسته راوړي نو بیا کولی شي چې د هغه شعر تحلیل او تجزیه کړي او قضاوت پایلې یې یقیني او د باور وړ دي.

ما هم د پورته څرګندونو په رڼا کې خپله پروژه ترتیب او تنظیم کړې ده.

په لومړي برخه کې مې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک پیژندګلوي تر سر لیک لاندې د نوموړي له زوکړې تر مړینې پورې د ژوند په بېلابېلو پړاوونو، زده کړو، دندو او سیاسي ماموریتونو باندې په تفصیل سره رڼا اچولې ده.

په دوهمه برخه کې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د وخت سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او ژورنالیستکي برخې رڼا شوې دي.

په درییمه برخه کې د سبک او د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د شعرونو، هنري نثرونو، ساده نثرونو او ژباړو پر مختلفو اړخونو بحث شوی او دا ټول تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

په څلورمه برخه کې د ارواښاد عبدالرحمن پژواک پر لیکل شویو او ژباړل شویو منظومو او منثورو اثارو په تفصیل بحث شوی دی. په دې برخه کې مو د نوموړي اثار په ځانګړې کټګوریو باندې ویشلي او په جلا جلا ډول تر مطالعې او څېړنې لاندې

نیولي دي.

په پای کې له خپل لارښود استاد ښاغلي پوهاند محمد رفیق رفیق څخه د زړه له تله مننه کوم چې په خپلو لازمو او گټورو لارښوونو، وړاندیزونو او نظرونو یې له ما سره د دې اثر په بشپړتیا کې پوره پوره مرسته وکړه. له الله ج څخه ورته د ډیر، سوکاله او خوشحاله عمر غوښتنه کوم.

همدا شان له ټولو هغو دوستانو څخه هم مننه کوم چې د دې اثر په بشپړتابه کې یې له ما سره خپلې مرستې نه دي سمپولې، دوی ته هم د الله ج له دربار څخه سوکاله ژوند او اوږد عمر غواړم.

# د خېړنې ارزښت او اهمیت

په انساني ټولنه کې هر کار او عمل د یوه ځانګړي هدف او موخې لپاره تر سره کیږي که هدف نه وي، نو هیڅوک به د یوه کار په تر سره کولو لاس پورې نه کړي، نو ځکه ویل کېږي، کومه څېړنه چې تر سره کیږي، د څیړونکی موخه باید د هغې څېړنې په برخه کې روښانه او جوته وي. له دې سره باید د هغې موضوع په اړه د یوې نوې نظریې اثبات یا هم د موضوع د یوه تیاره ګوټ روښانه کول وي.

که یو څېړونکی و انګیري چې د یادې څېړنې په تر سره کولو کې تر پخوانیو څیړنو دی غوره څیړنه کولی شي او پر ځان باور ولري چې کولی شم دغه موضوع تر نورو څیړونکو ښه وڅیړم نو ښه ده. که دغې موضوع ته د چا نه وي ور پام شوی او دی وکړای شي چې د نورو څیړونکو پام ور واړوي، دا هم د ارزښت وړ کار دی.

که څه هم د پښتو شعر و شاعری د څېړلو او ارزونې په برخه کې د یو شمیر بېلابېلو لرغونو، کلاسیکو او معاصرو شاعرانو پر شعرونو او د هغوی د ژوندانه د چاپیریال پر موضوعګانو باندې

ښلاښلي ځېړنې شوې دي خو ښاغلی عبدالرحمن پژواک په معاصرو شاعرانو کې یوه داسې لویه هستۍ ده چې تل به یې پر فرهنګي، ځېړنیزو او تاریخي هڅو، شاعرۍ او ادبي هلو ځلو پښتو او دري ادب نازېږي او ویاړي. خو له بده مرغه باید ووایم چې تر اوسه پورې د دغې لویې هستۍ د هڅو د سپړلو او خلکو ته یې د ښودلو په برخه کې هیڅ داسې اغېزناک ګام نه دې پورته شوی چې څوک پرې حساب وکړي. له همدې امله مې وېتېیله چې خلکو ته د دې لویې هستۍ د ورپېژندلو لار پرانیزم ځکه تر هغو چې لار خلاصه نه شي، څوک دا هڅه او جرئت نه کوي چې پر یوه داسې نامعلومه لار سفر وکړي چې مخکې پرې څوک تللي نه وي. له دې کبله ما د دغې لویې هستۍ او خزانې د راسپړلو د لار پرانیستلو دا هڅه وکړه. له ادبپېژندونکو او څېړونکو ښخه هیله لرم چې د دغه حقدار شاعر حق لکه څنګه چې دی همغسې ادا کړي.

موږ هغه وخت د خپلو لویو هستیو او لویو شخصیتونو په ارزښت، قدر او قیمت پوهېږو چې زموږ په منځ کې نه وي او یا یې هم د رسمي پلټنو او سپړنو په پار موږ ته را وپېژني او دا زموږ لویه بدبختي ده.

ما په دې اثر کې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک ژوند، د هغه د وخت سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او نورو مسایلو ته پاملرنه کړې ده او همدارنګه د دغه لوی شاعر هغه ادبي پنځوونې چې د هیواد په دواړو ژبو پښتو او دري یې کړي دي را ټول او بیان کړي دي.

لکه څنګه چې د نورو شاعرانو پر هستونو خلکو تبصرې کړې او نظريات يې وړاندې کړي او په کتابونو او مجلو کې يې پرې مقالې ليکلې دي، هغومره پر پژواک صاحب او د هغه پر هستونو چا کار نه دی کړی.

په دې اثر کې زما ټول تمرکز، د ښاغلي پژواک په شعر باندې دی خو بايد ووايم چې له کليمه دارې روپۍ پرته د هغه کومه شعري ټولګه په پښتو ژبه نه ده چاپ شوې.

له دې کبله تر اوسه پورې دغه پټه خزانه د هيچا له خوا سپړل شوې نه ده خو ما د دې خزانې د راسپړلو لپاره د لارې د خلاصولو په موخه د دغه اثر د ليکلو هوډ وکړ تر څو ادب خېړونکي وکولی شي په دې برخه کې رښتوني او ژورې څېړنې تر سره کړي.

## دڅیړنې میتود

د څېړنـې لپـاره د میتـود د غـوره کولـو موضـوع اوسـنۍ موضـوع نه ده، کـه څـه هـم دا مهـال پـه پښـتو کـې یـو شـمیر څیړونکـي د خپلـو څیړنـو پـه برخـه کـې پـه ظاهـره د میتـود پـه اړه پـه سر کـې څـه نـه وایـي خـو پـه حقیقـت کـې د دوی څېړنـې د یـوه میتـود تابـع دي ځکه هـره څیړنـه د یـوه میتـود پـر بنسـټ تـر سره کیـږي او بـې لـه میتـوده څېړنـه د څېړونکـي کار سـتونزمنه وي او څېړنـه لـه علمـي اړخـه بـل لـور تـه بیایـي.

پـه نـړۍ کـې د څېړنـې پـه برخـه کـې یـو شـمیر میتودونـه شـته خـو د موضـوع د څرنګـوالي او شرایطـو لـه مخـې څیړونکـی بایـد د خپلـې څېړنـې لـه شرایطـو او اصولـو سره سـم میتـود غـوره کـړي.

مـا هـم د دې څېړنـې لپـاره کتابتـوني میتـود غـوره کـړ. کتابتـوني میتـود یعنـی دا چـې تـر ډېره بریـده مـې لـه کتابتونونـو او کتابونـو کار اخیسـتی او د هغـه پـر مټ مـې خپلـه څیړنـه بشـپړه کـړې ده ځکـه د خپلـې څېړنـې د موضـوع د مفرداتـو پـه پـام کـې نیولـو سره دې تـه اړ وم چـې د خپلـې څېړنـې ډېـر شـمیر مواد لـه کتابتونونـو تر لاسـه کـړم. مـا د عبدالرحمـن پـژواک آثـار او هغـه کتابونـه او مجلـې راغونـډ کـړل

چې د هغه شعرونه په کې چاپ شوي وو. د هغو تر کره کولو او ارزيابي کولو وروسته مې د ليکلو پړاو د ياد ميتود پر بنسټ پيل کړ .

په ټوله کې کتاب پر څو برخو ويشل شوی، د هرې برخې تر سر ليک لاندې بيا يو شمير واړه عنوانونه راغلي تر څو د څېړنې په برخه کې د لوستوالو لپاره نور هم وضاحت ولري او د ماخذونو يادونه هم شوې ده.

## د موضوع مخينه او شاليد

د هر تحقيقي اثر د بشپړولو په موخه څېړونکی اړ دی چې د موضوع د لا ښه وضاحت په منظور له تخنيکي پلوه ورته يو عنوان، مخينه يا په ساده اصطلاح شاليد وکاږي. له دې څخه د محقق او څېړونکي هدف دا وي چې خپل ځان او لوستونکو ته دا معلومه کړي چې ايا کومه موضوع چې موږ د تحقيق په موخه انتخاب کړي پخوا تر ما کوم بل چا پرې کار کړی که نه.

له بده مرغه لکه څنګه چې د پښتو ادب په نورو شاعرانو باندې ليکوالو او څېړونکو څېړنې کړي، پر ښاغلي پژواک يې ليکنې او څېړنې نه دي کړي.

د ارواښاد پژواک د ژوند، اثارو او افکارو په اړه د لومړي ځل لپاره يو لنډه يادونه په اوسني ليکوال کې راغلې ده، د دې اثر ليکوال ارواښاد عبدالروف بېنوا دی.

په دې ليکنه کې ارواښاد بېنوا د پژواک لنډ ژوند ليک ليکلی او د ده پر فرهنګي خدمتونو يې هم لنډه رڼا اچولې ده. دغه معلومات په څلورو مخونو کې وړاندې کړای شوي دي.

د پژواک صاحب بله يادونه په کابل مجله کې شوې ده، چې

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي خیړنیزه خپرونه ده. د ۱۳۸۵ لمریز کال (۵-٦) ګڼه ،(۱۲-۳۱) مخونو کې د ( د غرونو پژواک ) تر سر لیک لاندې د خیړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار یوه ارزښتناکه مقاله خپره شوې ده. په دې مقاله کې ښاغلي عبدالله بختاني د ارواښاد عبدالرحمن پژواک تقریبا مفصل ژوند بیان کړی دی او د ځنګزن سرلیکونو په ترخ کې یې د هغه پر کورنۍ او زیږیدنه، زده کړه، عملي ژوندانه، ډیپلوماتیکو هلوځلو، دژوند پر وروستیو کلونو، ارمانجن وفات او فرهنګي هڅو خبرې کړې دي. د دې مقالې په وروستۍ برخه کې د پژواک صاحب د زیږیدو پر ځای (غزني) او پلرني ټاټوبي (ننګرهار) په اړه هم معلومات وړاندې شوي دي.

د دې مقالې پاتې برخه د ۱۳۸۵ لمریز کال په (۷-۸) ګڼه کې راغلې ده. په دې ګڼه کې عبدالله بختاني بیا هم د ځنګزنو سرلیکونو په ترخ کې د ارواښاد پژواک پر اثارو، کلمه داره روپۍ، افسانه های مردم، ګلهای اندیشه، ګزیده های اشعار، حدیث خون، پیشوا، باغبان او پر ځینو بیلګو هر اړخیز بحث کړی دی.

بله یادونه د پژواک صاحب په حدیث خون نومې شعري ټولګه کې شوې ده. نوموړې ټولګه د ښاغلي پژواک د دري شعرونو ټولګه ده چې دري پښتو شعرونه هم په کې راغلي دي.

په دې شعري ټولګه کې ښاغلي حبیب الله رفیع یو څو صفحې سریزه لیکلې ده چې د هغه په ترخ کې یې د عبدالرحمن پژواک په فرهنګي او سیاسي ژوند باندې خبرې کړې دي.

د پژواک صاحب بله یادونه د عبدالشکور قیومي په کتاب (د

پښتني کلتور په بډاينه کې د عبدالرحمن پژواک دريځ ) کې راغلې ده. په دې کتاب کې د پژواک پر ژوند، سياسي او فرهنګي هڅو او د هغه د اثارو په اړه بحث شوی دی.

## ۱- د عبدالرحمن پژواک پېژندګلوي

### ۱-۱ زوکړه:

اروانښاد عبدالرحمن پژواک د هیواد تکړه او پیاوړی لیکوال، ژورنالست او تاریخپوه تیر شوی دی چې د هیواد په ملي ژبو پښتو او دري یې په زړه پورې شعرونه او لیکنې کړې دي.

اروانښاد عبدالرحمن پژواک د قاضي عبدالله زوی او د اروانښاد ملاشیر جان اخوند زاده لمسی دی چې د نسب لړۍ یې ملک غازي خان ته رسیږي چې د بابر پاچا هم عصر و.

اروانښاد قاضي عبدالله د خپل وخت یو جید او مشهور عالم تیر شوی دی. نوموړي په غیر رسمي توګه په ننګرهار، کابل، میدان، پېښور، هزاره او پنجاب کې فقه، عربي، منطق، ریاضي، تفسیر او احادیث د وخت له مشهورو او جیدو علماوو څخه په مختلفو مدرسو کې زده کړې وکړې. قاضي عبدالله د خپل وخت مشهور عالم (قاضي عبدالرحمن) څخه د قضا د علم په برخه کې زده کړه کړې وه.

قاضي عبدالله کله کله په پښتو ښه شعر هم وایه او شعري طبعه یې لرله او له کابل مجلې سره قلمي همکار و. محمد اسلم

( معروفي ) په خپل کتاب ( باغباني او باغبانان) چې د همدغې منطقې اوسیدونکی و، قاضي عبدالله د خپلې منطقې د مشهورو علماوو په جمله کې راولي او په دري ژبه یې داسې لیکلي دي:

(( قاضي عبدالله خان پسر ملا شیر جان اخوندزاده، مرد سنگین، عالم جید، شخص فصیح، مبلغ و منور بود.

عزت نفس و کرامت انساني داشت، در مقابل قوم مهربان، برده بار و باگذشت بود، مهمان دوست و اشنا پرست بود. در دایزنگي، غزنی و کابل قاضی بود و رئیس تمیز مجلس عالی اعیان که در زمستان سال ۱۳۱۴ هجري شمسی در کابل وفات و در باغباني به خاک سپرده شد)).

**په دې اړه یوه مرثیه کې وایي:**

پدر ان قبله گاه امجد من
مهین اموزگار ابجد من
مرا استاد و پیرو پیشوائي
خجسته سیرت و فرخنده رائی
پدر کو قله ارشاد من بود
نخستین مرشد و استاد من بود
ز فیض دانش تفسیر قران
میان حق و باطل بود فرقان
چو او قران را تفسیر میکرد
قلوب منکران تسخیر میکرد
احادیث محمد داشت از بر

همه گفتار او حرف پغمبر
اگر کس سینه او باز کردی
الم نشرح لک اغاز کردی
نشان کرسی امر قضا بود
خطابش ایت الکرسی بجا بود
چو نامش از کلام الله امد
خجسته نامش عبدالله امد
رفیق عاشقان و عارفان بود
که خود از زمره این مردمان بود
(۸- ۸۱)

د ارواښاد عبدالرحمن پژواک د زوکړې د نیټې په اړه اختلاف موجود دی او ټول لیکوال سره په یوه خوله نه دي.

استاد عبدالروف بینوا په خپل اثر ( اوسنی لیکوال) کې په دې اړه لیکي:

(( ښاغلی عبدالرحمن پژواک د مرحوم قاضي عبدالله خان زوی د ۱۳۳۴ ه ق کال په پای کې د غزني په ښار کې زیږیدلی دی)). (٦ – ٢٠٦)

ښاغلی عبدالله بختاني خدمتگار په خپلې یوې مقالې کې چې (د غرونو پژواک) په نامه په کابل مجله کې خپره شوې ده، د پژواک د زوکړې په اړه لیکي:

(( د ننگرهار د سره رود د باغوانیو په کلي کې، د احمدزیو د معروف خیلو د قبیلې یوه درنه کورنۍ اوسیږي، په دې کورنۍ کې گڼ شمیر روښانفکران، عالمان، ملایان او استادان شته او

تیر شوي دي، مرحوم قاضي عبدالله جان د خپل وخت معزز سپین روبی د کورنۍ جګه شمله وه، د دیني علومو دغه مشهور عالم، په ۱۳۳۴ ه ق کال د غزني قاضي شو، کال چې پای ته رسیده، د هغه په کاله کې د زوی زیری وشو)). (۲۳ – ۱۳)

د هیواد تکړه لیکوال څیړنپوه حبیب الله رفیع په خپل اثر (هغوی چې بیا نه راځي ) کې د استاد پژواک په اړه لیکي:

(( عبد الرحمن د غزني د بالاحصار په لمن کې داسې وخت دنیا ته راغی چې له یوې اوونۍ راهیسې د هیواد غرونه او رغونه، کلي او کورونه، دښتې او درې د جهاد تکبیرونو په سر اخیستې و ې او د ده د غوږونو لومړی اذان همدا د جهاد تکبیرونه شول او همدې تکبیرونو او د وطن د ازادۍ شعارونو د ده د مغزو د سپین کتاب دیباچه په زرینو کرښو پیل کړه.

هو! استاد عبدالرحمن پژواک د ۱۲۹۷ لمریز کال د کب په ۱۶ نیټه چې د ۱۹۱۹ کال د مارچ له شپږمې سره سمون خوري وزیږیده او دا داسې وخت و چې تر دې پوره یوه اوونۍ وړاندې د کب په ۹ په کابل کې د افغانستان بشپړه ازادي اعلان شوې وه او د هیواد په هره ختڼه کې ځوانانو د غزا لپاره ځانونه چمتو کول او په تورو یې لاسونه وهل او په دې توګه د استاد د ژوند سفر د افغانستان د ازادۍ له سفر سره یو ځای پیل شو او په تحت الشعور کې یې جهاد، ازادۍ او د وطن مینې ځان ته پوخ ځای جوړ کړ.(۲۸ – ۲۴۱)

په دې وروستیو کې (بانوی بلخ) نومې اثر کې چې د عبدالرحمن پژواک د دري اشعارو ټولګه ده، ښاغلي عتیق الله

پـژواک چـې د عبدالرحمـن پـژواک ورور دی، یـوه اوږده سریـزه پـرې لیکلـې ده، د نومـوړي د زوکـړې نیټـه یــې (۱۹۱۹) م کال د مـارچ (۷) مـه کښلـې ده، چـې لـه ۱۲۹۸ لمریـز کال سره سـمون خـوري. نومـوړی لیکــي:

(( قابـل تذکـر است کـه نـزد برخـی از نویسـندگان محتـرم هنگام نـگارش سـوانح و زندگـی نامـه، مرحـوم پـژواک در مـورد سـال تولـد و زادگاهـش اشـتباهات اندکـی رخ داده است، چنانچـه بعضـی محـل تولـد او را دهکـده، باغبـاني کـه قریـه ابانی و اجـدادی اوسـت، خوانده و نیـز تاریـخ تولـد او را بـا اندکـی تفـاوت ضبـط نمـوده انـد، شـاید بعضـی لغـزش هـا هـم در اثـر تحویـل سـنه، هجـري به سـنه، عیسـوی و یـا بـر عکـس رونمـا گردیـده است)). (۸- ۷)

لنـډه دا چـې نومـوړي نیټـه د عبدالرحمـن پـژواک ورور عتیـق الله پـژواک چـې د هیـواد تکـړه تاریخپـوه هـم دی، ثـاکل شـوی ده، زمـا په نظـر دغـه وروسـتۍ نیټـه (۱۹۱۹) م چـې لـه ۱۲۹۸ لمریـز کال سره سـمون خـوري، د تائیـد وړ او سـمه ده.

## ۱-۲ زده کړه:

کلـه چـې ښـاغلی عبدالرحمـن پـژواک لـږ لـوی شـو نـو لومړنـۍ زده کـړې یـې لـه خپـل پـلار څخـه پیـل کـړې، دا نـو هغـه وخـت و چـې په افغانسـتان کې نـوی حکومـت راغلـی و او د افغانسـتان ځوان دولـت د هیـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې ښـوونځي پرانسـتي وو.

همـدا و چـې د ده د تعلیـم لمـر څـرک د ننګرهـار د بالاباغ لـه ( مطلـع دانـش) نومـي ښـوونځي څخـه وشـو ، دریـیـم ټولګـي تـه تـر

رسیدو وړانـدې د دوی کـډه لـه باغوانیـو نـه پـه سـمه سـیده لاره د خوړیانـو کـړې تـه وختلـه او ده د دریـیم ټولگـي درسـونه د کـړې پـه لومـړنې ښـوونځي کـې ولوسـتل. بیـا یـې پـلار کابـل تـه راوبلـل شـو او څلـورم ټولگـی یـې د کابـل د اندرابیـو پـه لومـړنې ښـوونځي کـې ولوسـت.

استاد پـژواک چـې څـو پـه ښـې او کیـڼ پوهیـده او سـترگې یـې غړولـې نـو هغـه د چـا خـبره :

(( مالا گل بوی کړی نه و بهار تیر شو)).

د خپلـواک هیـواد فضـا د کـورنې اړو دوړو ناولـو سـیلیو لانـدې کړه او د ښـمنانو زمـوږ پـر هیـواد یـوه خونـړۍ کورنـۍ جگـړه وتپلـه، تـر دې چـې د ازادۍ روان کاروان پـه ټپـه ودریـد، وحشـیانه چـور او وژنـې هـر څـه لـه مینځـه یـو وړل او د هیـواد خپلواکـي او ازادي نویـو خطرونـو تهدیـد کـړه، لـه دې سره د ښـوونځیو پـه تـړل کیـدو د اسـتاد پـژواک د زده کـړې لـړۍ هـم وشـلیدله خـو د وطـن او ازادۍ مینـې یـې نـور هـم پـه مغـزو کـې خپـل رنـگ پـوخ کـړ.

عبدالرحمـن پـژواک د هیـواد تـر نجـات وروسـته پـه حبیبیه لیسـه کـې خپلـو زده کـړو تـه دوام ورکـړ، ځپانـد اسـتعداد یـې د غوړیدنـې موقـع ومونـده، د ښـوونځي پـر محـدودو درسـونو اکتفـا نـه کولـه بلکې د پراخـې او ژورې مطالعـې لاره یـې ونیولـه. دینـې زده کـړې یـې لـه پـلاره کولـې، د انگلیسـي زده کـړې تـه یـې خاصـه توجـه وکـړه، لـه درس سره د مینـې او د ځپانـد اسـتعداد پـه برکـت یـې حبیبـي لیسـه پـه لـوړه سـویه سر تـه ورسـوله او بیـا د طـب پـه جدیـد التاسـیس پوهنځـي کـې شـامل شـو. دی د لـوړ اجتماعـي شـعور درلودونکـی

ځـوان و چـې د سـاینس مضامیـن یـې خـوښ نـه شـول او تـر دوه میاشـتې درس وروسـته یـې دا پوهنځـی پرېښـود او د هیـواد د همـدې یوازینـې پوهنځـي پـه پرېښـودلو سره د لـوړو زده کـړو بلـه لاره نـه وه نـو د تحصیـل لـړۍ یـې همدلتـه ختمـه شـوه او ورسره ډېـر ژر د ده پـلار چـې دا وخـت د تمیـز محکمـې رئیـس و، وفـات شـو او د کـور بـار د مـشر زوی پـه توګـه د ده پـه غـاړه شـو. (۲۸ - ۲۴۲)

بیـا وروسـته د دوو کالـو لپـاره د سـکاټلینډ د (ایـډن بـرګ) د پوهنتـون د بیـن المللـی روابطـو او عمـلي ژورنالیـزم پـه څانګـه کـې زده کـړه وکـړه او پـه دې تـرڅ کـې یـې انګریـزي ژبـه ډېـره ښـه زده کـړه. (۲۳- ۱۵)

## ۱-۳ د عبدالرحمن پژواک دندې:

ارواښـاد عبدالرحمـن پـژواک د هیـواد سـیاسي ، فرهنګـي او ادبي نامتـو شـخصیت دی ، چـې پـه خپـل وخـت کـې نـه یـوازې دننـه پـه هیـواد بلکـې پـه سـیمه او نـړۍ کـې د بـاوري او ځلانـدو ځیـرو څخـه وپیژنـدل شـو .

اسـتاد عبدالرحمـن پـژواک د افغانسـتان یـو وتلـی دیپلومـات، لیکـوال، شـاعر او ژورنالسـت و، هغـه لومړنـی دنـده د پښـتو ټولنـې د تاریخ پـه څانګـه کـې پـه ۱۳۱۶ لمریـز کال، د ژبـاړن پـه توګـه خپـل علمـي او ادبي کار پیـل کـړ.

د ښـاغلي کوشـان پـه قـول ارواښـاد پـژواک خپـل لومړنـی اثـر پـه همـدې وخـت کـې ولیکـه او خپـل دویـم اثـر، چـې د (عـروج بارکزایـي ) ژبـاړه ده او د ادوارد الاسـیس پیـرس تالیـف دی، د ښـاغلي محمـد

عثمان صدقي په مرسته وژباړه او چاپ کړ.
بیا وروسته د دوو کالو لپاره د سکاټلینډ د ایډن برګ د پوهنتون د نړیوالو اړیکو او عملي ژورنالیزم په څانګه کې زده کړه وکړه او په دې ترڅ کې یې انګریزي ژبه ډېره ښه زده کړه.
کله چې د مطبوعاتو مستقل ریاست جوړ شو، د نشراتو د عمومي مدیریت د دویمې څانګې مدیر مقرر شو.
په ۱۳۱۸ لمریز کال، ۱۹۳۸م کال کې اروانښاد عبدالرحمن پژواک د (اصلاح) ورځپاڼې مسوول مدیر مقرر شو، څو میاشتې وروسته د باختر اژانس د لوی مدیریت چارې ور وسپارل شوې.
په ۱۳۲۰ لمریز کال ، ۱۹۴۱ م کې د پښتو ټولنې د مشر (لوی مدیر) په توګه وټاکل شو. تر دوو کالو او څو میاشتو وروسته بیا د مطبوعاتو د مستقل ریاست په نورو پوستونو کې مؤظف شو او دوه نیم کاله نور یې مطبوعاتي او نشراتي دندو ته دوام ورکړ.
په دغه وخت کې د اروانښاد عبدالرحمن پژواک زیات اثار، مقالې، ادبي نثرونه، داستانونه، ژباړې او شعرونه چاپ او خپاره شول او د هیواد د ښه تکړه ادبي شخصیت په توګه مطرح شو .
څرنګه چې عبدالرحمن پژواک له سیاست سره زیاته مینه درلوده نو یې د نشراتو له لوی مدیریت څخه استعفا ورکړه او په ۱۳۲۵ لمریز کال، ۱۹۴٦ م کال کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د اطلاعاتو لوی مدیر شو. په کال ۱۳۲۷ لمریز، ۱۹۴۸ م کې په لندن کې د افغان سفارت د دویم سکرتر او مطبوعاتي اتشې په توګه مقرر شو. وروسته په همدې ځای کې د کار او کارګر د نړیوالې موسسې کارکوونکی شو. څه موده لا نه وه تیره چې هغه

کار یې هم پرېښود او په واشنګټن کې دافغان سفارت د فرهنګي او مطبوعاتي اتشې په توګه وټاکل شو. په کال ۱۳۲۹ لمریز کال، ۱۹۵۰ م کال په لندن کې د افغان سفارت د فرهنګي اتشې په توګه وګومارل شو او تر ۱۳۳۲ لمریز، ۱۹۵۳ م کاله پورې یې خپلې دندې تر سره کړې.

اروابناد عبدالرحمن پژواک د خپل سیاسي او ډیپلوماتیک ماموریت په څنګ کې د برتانیې له ارشیفونو څخه له نږدې لیدنه وکړه او په دې لړ کې یې په ځانګړې توګه د افغانستان او د پښتونستان پیژندنې په اړه اثار خپاره کړل.

اروابناد عبدالرحمن پژواک له اوو کالو ماموریت وروسته په ۱۳۳۲ لمریز کال کې بیرته هیواد ته راستون شو او د بهرنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو د درییمې څانګې لوی مدیر او د ملګرو ملتونو د څانګې د امر په توګه په کار وګومارل شو. په ۱۳۳۴ لمریز کال، ۱۹۵۵ م کې د سیاسي چارو لوی مدیر شو او په همدغه کال د هغو علمي او ادبي خدمتونو له امله چې پښتو ژبې او ادب ته یې کړي وو، د پښتو ټولنې د عالي شورا له خوا د پښتو ټولنې افتخاري غړی وګمارل شو.

په ۱۳۳۷ لمریز کال، ۱۹۵۸ م کې د ملګرو ملتونو په موسسه کې د افغانستان تلپاتې نماینده وټاکل شو.

د خپلې پوهې او درایت له مخې ځوارلس کاله دې دندې کې پاتې شو. د دې اصلي دندې په بهیر کې په باندونګ او بلګراد کې د ناپیلو هیوادونو په کنفرانسونو کې د افغاني هئیتونو غړیتوب یې هم په غاړه و. په ۱۳۴۶ لمریز کال، ۱۹٦۷ م کې د

ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ د یوویشتمي غونډې د رییس په توګه وټاکل شو، د عمومي اسامبلۍ د هغې غونډې رییس هم و چې د نامبیا په اړه جوړه شوې وه. د حقونو د کمیسیون او د ملګرو د موسسې د ځینو نورو کمیسیونونو ریاستونه یې هم کړي دي.

ارواښاد عبدالرحمن پژواک په ۱۳۵۱ لمریز کال ۱۹۷۲ م په بن کې، په ۱۳۵۲ لمریز کال، ۱۹۷۳ م په دهلي کې او بیا په ۱۳۵۵ لمریز کال، ۱۹۷۶ م کې نوموړی په لندن کې د افغانستان د لوی سفیر په حیث ټاکل شوی و. په ۱۳۵۷ لمریز کال، ۱۹۷۸ م کال هغه په لندن کې و چې د افغانستان نظام بدلون ومومند. ځرنګه چې پژواک صاحب له نوي رژیم سره په نظر او عقیده کې مخالف و، له خپلې دندې یې استعفا وکړه. (۴۳-۱۹)

## ۱-۴ د عبدالرحمن پژواک تخلص او مستعار نومونه:

د تاریخ په اوږدو کې ډیر شاعران، لیکوال او مولفان تیر شوي دي چې د ځینو ملحظاتو له مخې خپل نومونه او تخلصونه په خپلو اثارو کې په ښکاره ډول نه دي څرګند کړي او په بېلابېلو تخلصونو یې خپل شعرونه او لیکنې خپلو هیوادوالو ته رسولي دي.

لیکوال خپل تخلص د دې لپاره غوره کوي چې په هره ټولنه کې په یوه نامه او یا د یوې سیمې، قوم ډیر شاعران او لیکوال په یوه نوم وي، یا هغوی ته ځان منسوب ګڼي نو د خپل ذوق مطابق تخلص غوره کوي. له ډیر پخوا راهیسې زموږ د پښتو، دری او اردو ژبو شاعران قومي یا محلي دویم نومونه لري او د

خپل ځان او شهرت لپاره د خیال او فکر مطابق او تناسب یوه نوم د تخلص لپاره غوره کوي.

تر څو وکولای شي چې په آینده کې په اسانۍ سره په ټولنه کې وپیژندل شي او د ګډوډیو مخه ونیول شي.

د (بانوی بلخ) کتاب په سریزه کې ښاغلی عتیق الله پژواک د عبدالرحمن پژواک د تخلصونو په اړه لیکي: ((عبدالرحمن پژواک چون به سن تمیز رسید و به سرودن شعر و نگارش نثر پرداخت، «مړاوی» تخلص می کرد و بعدآ تخلص «وفا» را بر گزید و از ان به بعد متخلص «ارمانجن» شد و هنگام فراغت از مکتب عالی حبیبیه در سال ۱۳۱۴ «پژمان» تخلص می کرد)). (۸ -۷)

د هیواد پیژندل شوی څیړونکی عبدالله بختانی خدمتګار د پژواک د دغه تخلص د غوره کولو په اړه لیکي:(( د متنوعو معلوماتو او تعلیماتو خاوند، با استعداده تعلیمیافته ځوان، د کابل د ادبي انجمن غړی او د تاریخ د څانګې د انګریزي ژبې ترجمان وټاکل شو، شعرونه، ترجمې او لیکنې یې د «ارمانجن» په تخلص خپریدې، په ۱۳۱۸ لمریز کال د سید جمال الدین افغان د پنځوسم تلین د لمانځنې لپاره علمي کنفرانس و، په کنفرانس کې ښاغلي ارمانجن په انګریزي ژبه عالمانه وینا وکړه، په پای کې د کنفرانس غړي صدراعظم والا حضرت سردار محمد هاشم ته معرفي کیدل، نوموړي د دغه ذکر شوې وینا ډېره ستاینه وکړه، وینا وال ته یې وویل چې د ارمانجن تخلص نه دې تیر شي، ځکه چې د هغه په عقیده، هندي لحن یې درلود نو «پژواک» تخلص یې غوره کړ.
(۲۳-۱۵)

د تخلص په اړه ډېر نظريات نور هم موجود دي چې ده د خپلو ځينو ملګرو او مينه والو په تاکيد او دا چې د وطن لپاره يې ډيرې هيلې درلودې د «پژواک» تخلص يې غوره کړ چې وروسته بيا د ټولو ورونو او فاميلي تخلص شو.

## ۱-۵ د عبدالرحمن پژواک سفرونه:

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د خپل رسمي او غير رسمي کارونو لپاره د نړۍ مختلفو هيوادونو لکه: اندونيزيا، عراق، سوريې، لبنان، المان، هندوستان، پاکستان، فرانسې، انګلستان، کانادا، الجزاير او کولمبيا ته سفرونه کړي دي. (۴۶-۸۹)

د دغه سفرونو په جريان کې د نړۍ په مختلفو هيوادونو کې په ځينو کنفرانسونو کې د افغانستان نماينده ګي کړې ده.

۱- په الجزاير کې د ناپېيلو هيوادونو د مشرانو په کنفرانس کې د ولسمشر ځانګړې استازی او د افغان پلاوي مشر، (۱۹۷۳ م ) کال.

۲- په پاکستان کې د اسلامي هيوادونو د مشرانو په کنفرانس کې د ولسمشر ځانګړې استازی او د افغان پلاوي مشر، (۱۹۷۳ م) کال.

۳- په کولمبو کې د ناپېيلو هيوادونو د مشرانو په کنفرانس کې د افغاني پلاوي غړی، (۱۹۷۷م) کال. (۱۰-۲۴۹)

ښاغلی عبدالرحمن پژواک څو څو ځله هندوستان او پاکستان ته سفرونه کړي دي، هلته د هغو هيوادونو له مشرانو او نورو چاروا کو سره يې د افغانستان پر مشکلاتو زياتې خبرې کړې دي.

په پاکستان کې به یې هره ورځ په لسګونو افغان مهاجرینو سره خبرې کولې او د دوی مشکلات به یې اوریدل. ځینې وختونه یې د مریضۍ له امله هم هندوستان، پاکستان او واشنګټن ته سفرونه کړي دي.

### ۱-٦ د عبدالرحمن پژواک ځانګړې کارنامې:

۱- پژواک د افغانستان په بهرني سیاست کې یوه بې ساري ځلانده او نومیالۍ څیره وه. د افغانانو له منځه په لومړي ځل ده په ملګرو ملتونو کې لوړه څوکۍ تر لاسه کړې ده.

۲- څوارلس کاله یې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان ښه استازولي کړې ده.

۳- یوازینی افغان دی چې د ملګرو سرمنشي پاتې شوی دی.

۴- د خپل برخلیک حق هم د پژواک په هڅو د ملګرو ملتونو په منشور کې ثبت شو، چې د ټول بشریت لپاره یو ستر نړیوال حقوقي خدمت ګڼل کیږي.

۵- د شلمې زیږدی پیړۍ په شپږمه لسیزه کې د هغه طرحې له سیاسي او مالي کړکیچه ملګري ملتونه وژغورل چې دغه طرحه تر اوسه د پژواک د فورمول په نامه یادیږي. (۴۷- ۱۴۱)

### د افغانستان له لوري بین المللي کنفرانسونو کې د عبدالرحمن پژواک استازیتوب:

۱- د اندونیزیا (باوندنګ) د افریقایي او اسیایي هیوادونو په لومړني کنفرانس کې د افغاني پلاوي غړی. (۱۹۵۵) میلادي کال

۲- په قاهره کې د بې طرفه هیوادونو په مقدماتي کنفرانس کې د افغانستان استازی، (۱۹٦۱) میلادي کال.
۳- د یوګوسلاویا په بلګراد کې د بې طرفه هیوادونو په لومړني کنفرانس کې د افغانستان استازی، (۱۹٦۱) میلادي کال.
۴- په الجزایر کې د اسیایي او افریقایي هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په دویم مقدماتي کنفرانس کې د افغانستان استازی.
۵- د ملګرو ملتونو په عمومي ناسته کې د افغاني هیت د مشر په توګه ګډون.
٦- د ملګرو ملتونو په اقتصادي او اجتماعي غونډو کې د افغاني هیت د مشر په توګه.
۷- په ملګرو ملتونو کې په وچه کې د راګیرو هیوادونو د حقوقو په خوندي کولو کې د افغانستان دولت استازی.
۸- د ملګرو ملتونو په هغه غونډه کې چې د بشر حقوق او د بیان ازادۍ لپاره وې، د افغانستان استازیتوب.
۹- د پرمختګ او تجارت په بورډ کې د افغانستان نماینده. (۸-۲٦)

کله چې عبدالرحمن پژواک په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازی و، د کار تر څنګ د ملګرو ملتونو په سیاسي، اجتماعي او حقوقي غونډو کې د افغانستان په استازیتوب ګډون کړی و.

## ۱-۷ عبدالرحمن پژواک د ملګرو ملتونو د ځینو ځانګړو کمیټو د رییس په توګه:

۱- هغه ځانګړې کمیته چې د عمان د حالاتو د تحقیق لپاره تاکل شوې وه، د کمیتې رییس.
۲- هغه کمیته چې د ملګرو ملتونو د منشور د بیا تجدید نظر په اړه جوړه شوې وه او په دې کمیته کې د نړۍ د ټولو هیوادونو غړي شامل وه، د کمیتې رییس.
۳- هغه ځانګړې کمیته چې په (۱۹۶۳ ) میلادي کال، په جنوبي ویتنام کې د بودایانو د حقوقو لپاره ګومارل شوې وه، د کمیتې رییس.
۴- د اوږدې مودې لپاره د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د سازمان د کمیتې رییس.
۵- د ملګرو ملتونو د هغې ځانګړې عمومي اسامبلۍ د غونډې رییس چې د (نامبیا) په اړه جوړه شوې وه.(۸-۲۷)
ښاغلی عبدالرحمن پژواک د قوي استعداد، منطق او ریښتینولۍ خښتن و او د انسان دوستۍ او قوي نظریاتو په درلودلو سره یې د ملګرو ملتونو زیاتره ریاستونه او نورې دندې په سمه توګه رهبري کړې دي.

## ۱-۸ د عبدالرحمن پژواک مړینه او مزار:

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د خپل ژوند په وروستیو شیبو کې ډیر ضعیفه شوی و. یو سهار وختي د سهار لمونځ د ادا کولو لپاره پاڅیږي، په دغه وخت کې برق ځي او په تشناب کې غورځیږي. پښه یې ماتیږي او څو میاشتې له هغه تپ څخه په کور پریوزي. بیا په وروستیو کې د هغه میرمن هم وفات کیږي، یو غم یې څو

چنده کیږي، د زړه تکلیف ورته پیدا کیږي او بالاخره د غمونو تاب نه شي راوړلی.

((اروابښاد عبدالرحمن پژواک د خپل ثمر لرونکي ژوند په پایله کې د ۱۳۷۴ لمریز کال د جوزا په ۱۸ مه، د ۱۴۱۶ ه ق کال د محرم الحرام په ۱۰ مه، د ۱۹۹۵ میلادي کال د جون په ۸ مه د پنجشنبې د ورځې په څلورنیمو بجو د ورپېښې ناروغۍ له امله د (۷٦) کالو په عمر د پېښور په حیات اباد کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې)).(۴۳- ۴۰)

انا الله وانا الیه راجعون

په سبا یې جنازه په ډېر عزت او درناوي په باغوانیو کې د دوی په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه. جنازې ته یې د سره رود او د ننګرهار د نورو سیمو ګڼ خلک، علماء، روحانیون، لیکوال، شاعران، سپین ږیري او مشران راغلي وو چې پیر سید احمد ګیلاني، مولوي محمد یونس خالص او حاجي عبدالقدیر هم په کې شامل وو.

د عبدالرحمن پژواک د مړینې له امله، د ملګرو ملتونو د موسسې د عمومي اسامبلې غونډې د یوې دقیقې چوپتیا په توګه احترام او غمرازي څرګنده کړه. د نوموړې موسسې د سر منشي ښاغلي پیتروس غالي د افغانستان د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه او نورو شخصیتونو له خوا د عبدالرحمن پژواک کورنۍ ته د تعزیت تلګرافونه او پیغامونه ورسېدل.

په افغانستان او پاکستان کې خپرونو، د بي بي سي راډیو او د نړۍ مطبوعاتو په ډېر تاثر د هغه مرحوم د وفات خبر خپور کړ او

د هغه پر ژوندانه، اثارو او کارنامو مثبتې تبصرې وکړې.
په فرهنګي محافلو کې د هغه مړینه ستره ضایعه وبلل شوه او په دې مناسبت د یادونې، نمانځنې او تعزیت غونډې جوړې شوې دي.
د عبدالرحمن پژواک د څلویښتی په مناسبت په کابل کې د خوشحال فرهنګي ټولنې له خوا، د افغانستان د لیکوالو د ټولنې په تالار کې یو محفل جوړ شو. د الرحمن د سورې د پیل د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره د عبدالرحمن پژواک روح ته د رحمت او مغفرت دعا وشوه، کارونه او کارنامې یې وستایل شوې، شعرونه یې واورول شول و خاطرات یې تازه شول او یوه درنه مشاعره وشوه.
په دغه درنه غونډه کې د هیواد تکړه او وتلي لیکوال عبدالله بختاني خدمتګار په خپله وینا کې د عبدالرحمن پژواک په اړه وویل:
(( د مرحوم استاد پژواک شخصیت مختلف بعدونه لري، هغه د پښتو، فارسي او انګریزي ژبو لیکوال و، هغه ادیب، شاعر، داستان لیکونکی، ادبي مترجم، فولکلور څیړونکی، ژورنالست، سیاست پوه او د ډیپلومات و. هغه علمي، ادبي، سیاسي او اجتماعي شخصیت و، د هغه شخصي ژوند بې الایشه، وارسته او محترمانه و، هم یې پخپله د نورو احترام کاوه او هم نورو د هغه. هغه ډیر مغرور او کلانکار او ډیر متواضع او خاکسار و، له لویانو سره لوی او له وړو سره ووړ و. که ملي غرور، د نفس مناعت، خودي او وقار یې د ستاینې وړ و، نو تواضع او خاکساري یې تر ستاینو لوړه وه. د هغه په باب که هر څه ووایم د موضوع حق نه ادا کیږي نو ځکه د

دي دول شخصيت د ټولو ابعادو را برسيره کول، د ژورو څېړنو او د پراخ علمي، تحقيقي سيمنار ايجاب کوي)).( ۲۳-۲۲)

د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د مړينې په اړه د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه خپل خفګان داسې څرګند کړی دی:

(( د اروښاد عبدالرحمن پژواک خدمتونه د ماموريت په بهير کې د يادونې وړ دي، د نوموړي هڅه او هاند په ورسپارل شويو دندو کې په تيره بيا په نړيواله کچه د افغانستان د لا پيژندنې او د هغه د موقف د اوچتولو په برخه کې د ستاينې وړ دي)).

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د خپل ژوند په وروستي کال د پښتونخوا پيښور په حيات اباد کې په يوه عادي کور کې خپل ورور سره اوسيده او د هيواد دردونو د خپل ځاني درد درنې څپې ترې هيرولې. هر وخت يې پر خپل حال شکر کاوه او د هيواد پر حال به يې افسوس کاوه.

## ۲- د شلمې پیړۍ ادبي، سیاسي او فرهنګي بهیر ته یوه کتنه

ارواښاد عبدالرحمن پژواک د شلمې پیړۍ د دوهمې لسیزې په وروستیو کې (۱۹۱۹) میلادي کال دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې. عبدالرحمن پژواک (۷٦) کاله ژوند کړی او په افغانستان کې ډېرې زیاتې واکمنۍ یې په سترګو لیدلې دي.

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د اعلیحضرت شاه امان الله د واکمنۍ پر مهال وزېږېد او سم د واره یې د استقلال غرور او د ازادۍ انګازې د ژوند له لومړیو ورځو څخه په غوږونو کې ځای ونیو، ځکه په دغه وخت کې شاه امان الله له انګریزانو څخه خپله واکمني اعلان کړه.

د شاه امان الله په وخت کې ماشوم و، خو د حبیب الله کلکاني چې (د سقاو په زوی مشهور ) دی د ماشومتوب له حالته بیرون او د نوې تنکۍ ځوانۍ هوا پرې لګېدلې و.

لنډه دا چې د ارواښاد عبدالرحمن پژواک د ماشومتوب او ځوانۍ دورې د امیر امان الله خان، حبیب الله خان کلکاني، اعلیحضرت محمد نادرشاه له واکمنیو او د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ له لومړیو کلونو سره برابره وه. د پوخوالي او

سپین ږیرتوب دوره یې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ له دویمې نیمایي، د سردار محمد داود خان له جمهوریت او د غویي له کودتا وروسته د نورمحمد تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله له وخت سره هم مهاله وه.

تر ټولو لومړی به د دغو واکمنیو په سیاسي، ټولنیز و او اقتصادي حالاتو لنډې خبرې وکړو او تر دې وروسته څیړنه تر ډیره بریده د شلمې پیړۍ هغه مهال را چاپېروي چې ارواښاد عبدالرحمن پژواک په کې ژوند کړی دی.

د دې لپاره چې د اصلي موضوع د څېړنې لپاره یو څه لاره هواره شي، تر شاه امان الله خان تر مخه د امیر حبیب الله خان دورې ته یو ځغلنده کتنه کوو او ورپسې به په کرونو لوژیکه توګه د نورو واکمنیو پر حالاتو د موضوع له اړتیا سره سم رڼا واچوو.

د امیر عبدالرحمن له مړینې وروسته د هغه مشر زوی امیر حبیب الله خان د (سراج الملت والدین) په نامه پر تخت کښیناست.

امیر حبیب الله خان هڅه وکړه هغه تړون چې پلار یې له انګریزانو سره کړی و، نوی او ځینې بدلونونه په کې راوړي، خو انګریزانو دې کار ته غاړه کېښنښوده او پرده یې هم دا تړون وتاپه.

امیر حبیب الله خان عصري زده کړې کړې وې خو په هیواد کې یې د نوي مدنیت له څو بیلګو پرته د یادونې وړ زیاتې چارې نه دي تر سره کړې. سره له دې ده ته له پلاره یو ارام حکومت پاتې و، څکه چې پلار یې په هیواد کې د سر سړی نه و پرېښی چې څوک سر جګ کړي.

د اعلیحضرت حبیب الله خان په وخت کې د حبیبې په نامه یو ښوونځی او همدارنګه یو پوځي ښوونځی، چې وروسته په حربي ښوونځي ونومول شو، تاسیس شول. دغه راز یې سراج الاخبار افغانیه خپور او په کابل کې یې دوې چاپ خونې، څو پاڼې، باغونه، سړکونه او دمه ځایونه ودان کړل. (۴۸-۵۵)

(( د سراج الاخبار افغانستان لومړۍ ګڼه د مولوي عبدالروف په مدیریت، د جنورۍ (۱۱) نیټه، په (۱۹۰٦) میلادي کال کې نشر شوه او بیا دغه جریده د انګریزانو په لمسون، د یو څه وخت لپاره مصادره شوه؛ مګر څو کاله وروسته د مشروطه غوښتونکو له خوا بیا په (۱۹۱۱) میلادي کال کې د سراج الاخبار افغاني تر نامه لاندې د محمود طرزي په مدیریت په خپرونو پیل وکړ.

محمود طرزي د افغانستان د منورو ځوانانو د ذهني پرمختیا او ودې په لار کې او د (افغاني ځوانانو) په نهضت کې ستره ونډه اخیستې وه. په دې فکري تحول کې د پښتو ژبې نثري او نظمي ادبیاتو ته لوړ مقام ورکړ شو او یو شمیر پښتانه شاعران او لیکوال رامیدان ته شول.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې د لیتوګرافۍ، زینکوګرافۍ مطبعې هم جوړې شوې دي. عصري طب د لومړي ځل لپاره په ملکي او عسکري روغتونونو کې رواج وموند. ترکانو او هندیانو د ناروغانو په درملولو کې ډیره مرسته کړې ده.

کوم ښه کار چې د امیر حبیب الله خان په دوره کې شوی دی، هغه د معارف په درسي نصاب کې د پښتو ژبې تدریس و او مرحوم صالح محمدخان د پښتو ژبې د تدریس لپاره درسي

کتابونه لیکلي دي)). (۳۵-۹)

په دغه مهال کې په ځینو هیوادونو کې د ازادۍ غوښتني غورځنګونه رامنځته شوي وو. په مجموع کې د نړۍ بڼه بدله شوې وه خو امیر دغو بدلونونو ته چندان پاملرنه نه کوله، همدا علت و چې د مشروطه غوښتني غورځنګ یې ونه شو زغملی او ویل به یې:(( د نوو هڅو او پرمختګونو هر څه منو پرته له مشروطیته)).

د مشروطه غوښتونکو غوښتني هغه څه وي چې امیر ته د هغو زغمل ګران تمامیدل، دلته به د موضوع د روښانتیا په منظور، د دې غورځنګ د مرام ځینې ټکې را واخلو:

۱- د اسلامي اصولو اطاعت، د قران عظیم الشان په سپیڅلتیا باور او د ټولو اسلامي حکمونو منل.

۲- د ملي حقونو د تر لاسه کولو او د حکومتي رژیم د مشروطه کولو په لاره کې پرله پسې هڅې، د ملت د استازو په ګډون د ملي واکمنۍ او قانون برلاسي.

۳- د عامو خلکو هڅول د ښه ژوند د لارو چارو په لور او همدا راز د ناوړو دودونو ردول.

۴- د افغانستان د قومونو او قبایلو تر منځ د ښه تفاهم او پخلاینې او ملي یو والي ټینګښت.

۵- د سولې او پخلاینې له لارې د ملت سمونه، نه په زور او د وسلې په کارونه.

٦- د ښوونې او روزنې پراختیا او د خلکو د ویښتیا د اسانتیاوو او د مطبوعاتو رامنځته کولو هڅه.

۷- د خلکو د استازو په ګډون د انتخاباتو له لارې د ملي شورا

را منځته کول.

۸- د افغانستان د اساسي خپلواکۍ او ازادۍ تر لاسه کول او له باندنۍ نړۍ سره د اقتصادي او سیاسي اړیکو پراختیا، ځکه چې په هغه وخت کې د افغانستان امیر نه شوای کولای چې د بریتانوي هند له دولت پرته له بل دولت سره اړیکي ولري.

۹- د ټولنیز عدالت او مساوات د اصولو سپیڅلتیا.

۱۰- د نوي مدنیت او صنعت د بنسټونو د پراختیا په رڼا کې د ښارونو او واټونو جوړول او د اوبو او بریښنا د زیرمو په کار اچول.

له موضوع سره په تړاو کې یوازې د مشروطیت د غورځنګ د ځینو غړو نومونه یادوو:

میر قاسم خان، مولوي عبدالرووف اخوند زاده، مولوی عبدالواسع اخوند زاده، مولوی عبدالرب، غلام محي الدین افغان، عبدالجلال خان، پروفیسور غلام محمد خان، کاکا سید احمد خان لودین، سردار عبدالرحمن خان، سردار عبد الحبیب خان، بابا عبدالعزیز خان، محمد بسمل، تاج محمد خان بلوڅ او نور .... (۴۸- ۵۷)

د یادونې وړ ده چې د دې غورځنګ د مشرانو پر وژلو سر بیره، ډیر غړي یې بندیان شول چې د امیر له مړینې او د اعلیحضرت شاه امان الله واک ته له رسیدو وروسته خوشې شول.

که څه هم د عبدالرحمن خان له مړینې وروسته امیر حبیب الله خان یو شمیر بندیان له جیلونو او سیاه چالونو څخه خوشې او ځینې سیاه چالونه یې وران کړل او د عبدالرحمن خان په پرتله یې نرم طبیعت درلود او په عام ډول خلک ورڅخه خوښ وو، ځکه

چې تر ده د مخه دوره کې خلکو ډېرې ستونزې او تکليفونه ليدلي وو، خو د نوموړي له خوا د عمر په وروستيو کې د مشروطيت د غورځنګ ټکول او د دغه غورځنګ د غړو بنديانول او وژل د دې لامل شو چې د خلکو او په ځانګړې توګه د روښانفکرانو د نفرت سبب شو.

کله چې امير حبيب الله خان ووژل شو، په کابل کې امير امان الله خان د پاچاهۍ اعلان وکړ او يوه اعلاميه يې صادره کړه. په دې اعلاميه کې چې د ۱۹۱۹ ميلادي کال د فبرورۍ په ۲۸ مه نيټه يې صادره شوه، دا مهال د امير حبيب الله خان له مړينې څخه يوازې اووه ورځې تيرې شوې وې، ده په دې اعلاميه کې داسې وويل:

(( ای د افغانستان معظم ملته!

ما د پلار د شهادت پر وخت د سلطنت و کالت په کابل کې پر عهده درلود او اوس په هغه اصالت د امانت دروند بار متوکلا او معتصما بالله پر غاړه اخلم. کله چې ستر ملت زما پر سر د پاچاهۍ جوغه کښيښووله ما عهد وکړ چې د افغانستان دولت به لکه د نړۍ نور مستقل قدرتونه د هيواد په داخل او خارج کې ازاد او مستقل وي. د افغانستان خلک به د قانون تابع وي، بېګار او نور جبري کارونه بند دي، دلته به ډېر اصلاحات راځي، چې هيواد په نړۍ کې خپل مناسب ځای ومومي، زه به د (و شاور هم فی الامر) په اساس د هيواد چارې اجرا کوم.

تاسې به د خپل دين او هيواد په چارو کې ډېر هوښيار اوسئ او په بېدارۍ به وطن ساتئ، زه تاسې او ټول اهل اسلام او

ټول بني نوع انسان ته خیر او سعادت غواړم)).
اعلیحضرت امان الله خان د دې اعلامیې په پای کې د خپلې مفکورې او موخو ځینې مهم ټکي د تاکید په توګه بیا یاد کړل :
۱- افغانستان باید ازاد او خپلواک دولت شي، هغه باید له خپلو ټولو حقونو څخه برخمن وي چې نور خپلواک دولتونه د هغو خاوندان دي.
۲- تاسې به زما د مرحوم پلار د وینو په کسات اخیستو کې په خپل ټول ځواک سره را سره مرسته وکړئ.
۳ – ملت باید ازاد و اوسي نه ښایي چې هیڅ یو فرد تر ظلم او استبداد لاندې راشي.
(د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه ) اثر لیکوال، د اعلیحضرت امان الله خان د رفورم او اصلاحاتو په اړه داسې نظر څرګندوي:
((امان الله خان د پاچاهۍ له پیل څخه د هغو ټولو کارو اجرا تر لاس لاندې ونیوله چې په خپله لومړۍ وینا کې یې ملت ته وعده ورکړې وه، د پاچا لوی مشاور او همکار محمود طرزي ریفورمونه په ډېر بصیرت فورمولبندي کړل او بیا یې په ترتیب سره پاچا پر هغه لاره روان کړ چې د هغه عصر رښتیانۍ غوښتنه وه.
د ریفورم ډېر مهم اړخ د قوانینو طرح او تطبیق و چې د قانون تر حاکمیت لاندې یو قانونمند دولت منځته راشي.
امان الله خان ځینو اروپایي هیوادونو ته سفرونه هم کړي دي او په دې ترخ کې بریالی شو چې د المان له حکومت څخه شپږ ملیونه مارکه د اتو کالو لپاره پور کړي، نوموړي دا پیسې د

فابریکـو پیرودلـو تـه ځانګړې کـړې او یـو شـمیر صنعتـي ماشـینونه او فابریکـې یـې وپېرودلـې.

۱- د وړیو وربشلو فابریکه.

۲- د کشمیرې اوبدلو او سپنسي تاوولو فابریکه.

۳- د کوره سان د اوبدلو فابریکه.

۴- د کوره جیم د اوبدلو فابریکه.

۵- د تنې جوړولو کوچنی ماشین.

٦- د مېوې د ساتلو ماشین.

۷- د شیدو د ساتلو ماشین.

۸- د کوچو د ساتلو ماشین.

۹- د کرنې ماشین.

۱۰- د فولادو د کار ماشین.

۱۱- د اوبو را ایستلو بمبه تسالس.

۱۲- د جراحۍ الات او درمل.

۱۳- د قند جوړولو ماشین.

۱۴- د چرګوړو د ایستلو ماشین.

۱۵- د چاپ افیسټ ماشینونه.

۱٦- د نوټونو د چاپ لپاره د زینګوګرافي ځانګړې کمرې.

۱۷- د ننګرهار لپاره د قند جوړولو بشپړه فابریکه.

۱۸- د جبل السراج د سپنسي تاوولو فابریکه ..... او نور.

همدارنګـه ۴۱ موټرونـه، د اطفایـې ۱۲ موټرونـه، لـه اتـو لودسـپیکرونو سره د راډیـو دسـتګاه، د روغتونونـو د لګښـت وړ د یـوه کال درمـل، د بریښـنا سـامان او لـوازم....

د دې تـر څنـګ يـې دغـه لانـدې پوځـي تجهيـزات هـم پيـرودلي دي.

١- ٥٣٥٠٠ توپک، له هر توپک سره ١٠٠٠ کارتوس.

٢-١٠٦ توپونه، له هر توپ سره ١٠٠ ګولۍ.

٣- ٨ الوتکې.

٤- ٦ ټانګونه.

٥- ٥ زغره وال موټرونه.

٦- ١٠٠٠ اوسپنيزې خولۍ.

٧- ٣٥٠ دوربينونه.

همدارنګـه د اکسرېـز ماشـينونه، د حسـاب ماشـين، د پنيـر او کوچـو ماشـينونه او نـور....

د اعليحـضرت امـان اللـه خـان د واکمنـۍ پـه څـو کلنـه دوره کـې دغـه لانـدې ماڼـۍ ودانـې شـوي دي.

- قصر امانيه: د پغمان په باغ بالا کې، ١٣٢٠ کال.

- د سـتوري ماڼـۍ: چـې د امـان اللـه خـان د وخت ډيـرې پريکړې پـه همـدې ماڼۍ کـې کيدلې.

( يادونـه: دا ماڼـۍ اوس د بهرنيـو چـارو وزارت ملکيـت دی، خـو په غلطـه پـه راډيـو، ټلويزيـون او مطبوعاتـو کـې د سـتور ماڼـۍ يـا قـصر سـتور پـه نامـه ياديـږي چـې سـتور او سـتوري يـو له بلـه سره پـه معنـی کـې د ځمکـې او اسـمان توپيـر لـري).

- د دار الامان ماڼۍ.

- سراج العـمارت، د ننګرهـار ولايـت مرکـز، جلاابـاد کـې پـروت دی او داسـې نـورې ودانـۍ.... (٤٨-٥٩)

په اماني عصر کې د پښتو معاصر ادب، د انتظار په خلاف، مخ په ځوړ روان شو. د دغې دورې ډېر شعرونه په لاس کې نشته او یو دوې بیلګې یې چې ځینو ادبپوهانو دغو شعرونو ته د نوي او ابتکاري شعر په نظر کتلي دي. لومړی بیلګه:

امیر امان الله خان
چې غازي دی بې مثال
و ملت د افغان
و بخښل استقلال
قانون و ائین جوړ کئ له دوی د دین
د پاره د مسلمان

د نوي او ابتکاري شعر د پاره تر هر څه د مخه د ژبې سموالی حتمي دی؛ که ژبه له ګرامري قواعدو سره سمون ونه لري، لکه « و ملت د افغان وبخښل استقلال» یا« قانون و ائین جوړ کئ له دوی د دین» نو دغسې شعر (؟) اصلا شعر نه ګڼل کیږي. ابتکاري خو یې لا په ځای پریږده.

په پورتني شعر (؟) کې له وزن څخه بې خبري او سکتې په «نوي شعر» تعبیر شوي دي. د شاعر احساس د قدر وړ دی خو له بده مرغه نه یې د نظم ژبه سمه ده، نه وزن لري، نه تصویر لري، نه تشبیهات یا نور شعري تلازمات او نه کومه نوې مفکوره.

اوس د همدغه وخت د شعر (؟) یوه بله نمونه چې لاس ته راغلې ده، و به ګورو:

شاه غازي امیر امان الله خان
عادل، عاقل، عامل، کامل

ملک محکم او قوي دی افغانستان

متین، رصین، حصین، سنگین

دغه بیلګه چې له پورتنۍ بیلګې څخه کوم امتیاز لري، هغه دا دی چې ژبه یې څه سمه ښکاري.

د دغې پورتنۍ یادونې لومړی مقصد دا دی چې په اماني عصر کې د معاصر ادب د پیلامې لپاره، لکه ځینو چې ادعا کړې ده، قناعت بخښونکی دلیل نشته او دغه عصر له سراجي عصر څخه په ادبي لحاظ وروسته پاتې کیږي. دوهم مقصد دا دی چې د شعر او ادب وده او ترقي په میخانیکي ډول له ټولنیزې ترقۍ سره اړه نه لري. کیدای شي چې د هوسا او بسیا ټولنې د شرایطو پر ځای په بحراني حالاتو کې ښه شاعران او لیکوال پیدا شي. (۳۲- ۵۸)

د اعلیحضرت امان الله خان په وخت، د حبیبي له لیسې پرته د اماني او امانیه په نومونو نورې لیسې هم جوړې شوې. دارالمعلمین چې مخکې جوړ شوی و، تر نهم ټولګې پورې لوړ کړی شو. ورپسې رشدیه غازي، رشدیه استقلال، د تلګراف مسلکي ښوونځی، صنایع، اصول تحریر، اصول دفترداري، زراعت، قضاوت، حکام، مساحت، دارالعلوم، دارالحفاظ، رشدیه جلال اباد، رشدیه کندهار، رشدیه هرات، رشدیه مزار، رشدیه قطغن، د پولیسو ښوونځی، د موزیک ښوونځی، د قالینو اوبدلو، انجنیري، طب او نور ښوونځي پرانستل شول او د لومړي ځل لپاره د نجونو متوسطه هم پرانیستل شوې ده.

د دغو یو شمیر زیاتو ښوونځیو په څنګ کې د لویانو لپاره

د اکابـرو کورسـونه هـم پرانیسـتل شـول. د کادر پرسـونل د روزلـو لپـاره یـو ګـڼ شـمیر محصلیـن (نجونـې او هلـکان) ترکیـې، المـان، فرانسـې، لنـدن، ایتالیـې او نـورو هیوادونـو تـه د لـوړو زده کـړو لپـاره ولیږل شـول، تـر څـو د افغانسـتان د نـوي او عـصري ښـوونې او روزنـې او همدارنګـه د هیـواد د پرمختـګ او پراختیـا او اصلاحاتـو کـې پـه زړه پـورې ونـډه واخلـي.

لـه سـیاسي خپلواکـۍ څخـه وروسـته پـه ملـک کـې مطبوعاتـو هـم یـوه نـوې بڼـه اختیـار کـړه او د خلکـو د ذهنونـو د روښـانولو لپـاره جریـدو، ورځپاڼـو او مجلـو پـه خپرونـو پیـل وکـړ. پـه دغـه وخـت کـې د هیـواد پـه بېلابېلـو ولایاتـو کـې لـږ و ډېـر (۲۳) جریـدې، ورځپاڼـې، مجلـې خپریدلـې، لکـه:

امـان افغـان، افغـان، طلـوع افغـان، ارشـاد النسـوان، اتحـاد مشرقـي، سـتاره افغـان، اتفـاق اسـلام، بیـدار افغـان، اتحـاد اسـلام، ابـلاغ، اخبارحقیقـت، ثـروت، انیـس، نسـیم سـحر، نـوروز، فریـاد، مجلـه معـارف، اردو، ائینـه، عرفـان، غـازي، اصلاح، مجموعه عسـکریه، مجموعـه صحیـه، پښـتون ږغ، معـرف معـارف.... او نـورې.

پـه دغـو ورځپاڼـو او مجلـو کـې پـه تیـره بیـا پـه امـان افغـان او انیـس کـې یـو شـمیر لیکوالـو او د لـوړو زده کـړو خاوندانـو خپلـې مقالـې لـه دولـت څخـه پـه ملاتـړ او د امپریالیـزم پـه ضـد خپـرې کـړې دي. دغـو مقالـو د کمیـت او کیفیـت پـه دغـه لـس کلنـه دوره کـې د مطبوعاتـو پـه نـړۍ کـې پـه دري اسـاسي ټکـو بانـدې زور اچولـی و.

۱- د سیاسي خپلواکۍ ساتنه او ملاتړ.

۲-نیشنلیزم.

۳- د ژوندانه په برخه کې د اصلاحي او عصري مفکورې روزل.

د امان الله خان د واکدارۍ په وروستیو کلونو کې یو بل نوی گام هم پورته شو او هغه دا چې د دولتي ورځپاڼو او جریدو ترڅنگ د لومړي ځل لپاره ملي جریدې (خصوصي) هم رامنځ ته شوې او په همدې توگه دولت یوه یوه سینما په کابل، پغمان او جلال اباد کې جوړه کړې وه او یو تیاتر هم په پغمان کې جوړ کړای شوی و. همدارنگه په کابل کې د دوو لویو کتابخانو په جوړولو لاس پورې شوی و او د لومړي ځل لپاره د راډیو یوه کوچنۍ دستگاه له خارج څخه راوړل شوه او په خپرونو یې پیل وکړ. بیا له خارج څخه بطرۍ لرونکې راډیو گانې راوړل شوې او خلکو ته ورکړل شوې.

د دې ټولو مسایلو په څنگ کې د پښتو ژبې د علمي پالنې او روزنې لپاره په دغه دوره کې لار هواره شوې ده او هغه دا چې په شاهي ارگ کې د پښتو پوهانو یوه علمي او تحقیقي ټولنه جوړه شوې وه او د (مرکه د پښتو) په نوم یې بللې ده. (۳۵-۱۲)

تر دې وروسته کله چې د ۱۹۲۹ میلادي کال په جنوري کې اعلیحضرت امان الله خان استعفی وکړه او پر ځای یې ورور سردار عنایت الله خان واک په لاس کې واخیست خو تر دریو ورځو زیات یې ونه شوای کولای چې مقاومت وکړي. په دې توگه اماني نظام ړنگ او پر ځای یې حبیب الله چې د سقاو په زوی مشهور و. د کابل پر تخت ډېره ولگوله.

حبیب الله د اسلام په عنوان کولو سره د هیواد ټول پرمختیایي

بهیر متوقف کړ او د وروڼو د قتل او قتال صحنه یې توده کړه.

دا چې د سقاو زوی ځنګه له واکه بیواکه شو، په دې اړه اروانښاد کاندید اکاډمیسن عطایي لیکي:

(( سقاویانو ته ټول وطن یاغي و او اوس یې په میدان کې غټ حریفان لکه امان الله او غلام نبي خان څرخي له میدانه ایستلي وو خو یو قوي شخصیت چې د جنګ او تدبیر ډیر پوخ قهرمان و، پاته او قدم په قدم د ده د زندی کولو لپاره رانږدي کیده، د سپه سالار سره درې ډیر کلک پاخه هوښیار با تدبیره او په خلکو کې د لوی اعتبار خاوندان وروڼه هم ولاړ وو او دا ماشین یې پر مخ را روان کړی و.

محمد هاشم خان په مشرقي (ننګرهار) کې کار وکړ او هغوی یې تنظیم کړل، شاه ولي خان د سپه سالار د اوامرو او په خپله سپه سالار فقط د مختلفو قبیلو خلک را ټول او جرګې یې جوړولې او دا دومره ستړی کار و چې څو واره سپه سالار ناروغه هم شو .

دغه قومونه متحد شول او پر کابل را روان شول، د اکتوبر په میاشت کې د توپونو مرمۍ د ارګ پر دیوالو ومښتې، حبیب الله چې مایوسه شو، نو د ارګ د خزانو او وسلو سره شمالي ته وتښتید.

د کابل له فتحې سره سپه سالار محمد نادرخان د محمد نادر شاه په نامه پاچا شو او د سقاو زوی د نیولو امر صادر شو، د سقاو زوی حبیب الله له ملګرو سره ونیول شو او په لومړي ځل کې دا کسان په دار وځړول شول:

۱- په خپله حبیب الله بچه سقاو.

۲- سید حسین وزیر جنگ.
۳- حمیدالله د حبیب الله ورور.
۴- ملک محسن د کابل والي.
۵-شیر جان د دربار وزیر.
٦- محمد صدیق د پکتیا فرقه مشر.
۷- محمد محفوظ(هندوستاني ) امنیه قوممندان.
۸- عبدالغني خان قلعه بیګي.

له دغو اعدامونو سره د بچه سقاو حاکمیت سقوط وکړ او اعلیحضرت محمد نادر شاه د کابل پر تخت کښیناست.

په افغانستان کې د حبیب الله کلکاني په مشرۍ د رامنځته شوي اړو دوړ په نهه میاشتنۍ موده کې ټول افغانستان په تېره بیا کابل له هره پلوه زیانمن شو. له یوې خوا د دغو خلکو بدوي ژوند او بې پروايي او له بلې خوا د اعلیحضرت امان الله خان له پلويانو سره د دوی د جګړو په پایله کې کابل ښار او په ځانګړې توګه ارګ په کنډواله بدل شو.

کله چې د ۱۹۲۹ میلادي کال د اکتوبر د میاشتې په پنځلسمه سپه سالار محمد نادر خان کابل ته ننوت او سیده د ارګ د سلامخانې ماڼۍ ته ورغی او ویې ویل چې دی په خپله شخصا د پاچاهۍ ادعا نه لري او غواړي چې د هیواد د نوي پاچا د ټاکلو لپاره لویه جرګه را وغواړي چې زه د سلطنت نیولو لپاره نه یم راغلی خو درې تنو په ډېر ټینګار سره وویل چې له تاسو پرته دا درونډ بار هیڅوک نه شي پورته کولای او د افغانستان خلک دا نه مني، تر اوسه امنیت نه دی ټینګ شوی، حبیب الله کلکاني او

د هغه ملګري لا نه دي نيول شوي، په دې وخت کې پرته له دې چې تاسې يې په خپله ومنئ بله چاره نه شته. له هغې وروسته سپه سالار محمد نادر خان ګويا د هغوی فکر د اکثريت نظر وګاڼه او ويې ويل: وينئ چې اوس له دې بله لار نه لرم، ځو دغه دروند پيټی پر اوږو نه کړم. په دې وخت کې حضرت مجددي (نور المشايخ) را وراندې شو او د محمد نادر خان پر سر يې پګړۍ د تاج او جوغې په توګه ور وتړله او پس له دوه ساعته چې سالون ته سپه سالار محمد نادر خان ننوتلی و، د ها خوا اعليحضرت نادر شاه راووت.

اعليحضرت محمد نادرشاه د دې تر څنګ د قبايلو او ولسي خلکو او روحانينو پام هم ځانته را واړاوه او د همدوی په ملاتړ يې اغتشاش ته د پای ټکی کښيښود او حتی د خپلې واکمنۍ پر مهال به يې د امنيتي ستونزو په وخت کې هم له دوی څخه مرسته غوښتله، د دې تر څنګ يې د هيواد له ابادۍ او اقتصادي چارو سره هم مينه درلوده او په دې برخه کې يې هم ګامونه پورته کړي دي.

د بيلګې په توګه د دې لاندې فابريکو او کارځايونو نومونه يا دولای شو:

۱- د صابون جوړولو فابريکه، د ۱۳۰۹ کال سلواغه.

۲- د موټرو د ترميم فابريکه، د ۱۳۱۰ کال د وږي لسمه.

۳- د کانسروي فابريکه (د مېوو او نورو شيانو د ساتنې او سمون لپاره ) ۱۳۱۱ ه ش.

۴- د تېلو د اېستلو فابريکه، د ۱۳۱۰ کال ورى.

۵- د تنې جوړولو فابريکه، ۱۳۰۹ کال د ليندۍ لومړۍ نيټه.
٦- د مرکز د ترکاڼۍ فابريکه، ۱۳۰۹ کال.
۷- د جورابو او بنيان اوبدلو فابريکه، د ۱۳۰۹ کال.
۸- د سپڼسيو د تاوولو او اوبدلو فابريکه (جبل السراج) ۱۳۱۱ کال.
۹- د وړيو د وريشلو او اوبدلو فابريکه، کندهار.
۱۰- د دار الامان د ترکاڼۍ فابريکه (۱۳ ماشينونه).

همدارنګه دی د خپلو تدابيرو په مرسته په دې بريالی شو چې د پانګوالو توجه جلب او هغوی پانګې اچونې ته وهڅوي، چې دغه هڅونه د دې لامل ګرځيده څو په هيواد کې فابريکې جوړې او د يو شمير هيوادوالو لپاره د کار زمينه برابره شي. دا هم له چا نه پټه نه ده چې دی له اقتصادي ستونزو سره مخامخ وو، خو د دې تر څنګ يې وار خطا نه کړ او د اقتصاد د پياوړتيا لارې چارې يې هم موندلې.

هغه مهال چې شاهي ارګ ته د پوهنې شاګردان راغوښتل شوي وو او کتار ولاړ وو، د غونډې د جوړيدو موخه دا وه چې پر شاګردانو به سوغاتونه ويشل کيږي. په دې غونډه کې د دولت لوړ رتبه پوځي او ملکي مامورين هم حاضر وو، کله چې شاه غوښتل سوغاتونه په خپل لاس وويشي، په داسې حال کې چې د شاګردانو مخې ته ولاړ و، له دويم کتار نه يو تن چې عبدالخالق نوميده، د خپل يوه ملګري محمود خان پر اوږه خپله تمانچه کيښوده او نادر خان يې درې ډزه په ټټر وويشت، له

ویشتلو سره سم پر ځمکه راولوید. عبد الخالق خپله تمانچه پر ځمکه وغورځوله ځکه چې هغه بله موخه نه درلوده، یواځې د اعلیحضرت نادر خان وژل یې موخه وه. دا هغه ځای و چې تر دې پیښې یو کال د مخه غلام نبي خان څرخي په کې په ډېر فجیع ډول وژل شوی و.

په دې ترتیب د ۱۳۱۲ لمریز کال د لړم شپاړسمه، د ۱۹۳۳ م د نوامبر په اتمه نیټه د اعلیحضرت محمد نادر خان واکمنۍ څلور کلنه دوره پای ته ورسیده.

د یادونې وړ ده چې دا و خت د اعلیحضرت نادر خان ورور محمد هاشم خان چې د صدارت چارې یې پر غاړه وې، تر دې پیښې د مخه د هیواد شمالي ولایتونو ته تللی و.

د اعلیحضرت محمد نادرشاه له وژل کیدو وروسته د هغه (۱۹) کلن زوی محمد ظاهرشاه د المتوکل علی الله په نامه د کابل پر تخت کښیناست.

د پاچا کورنۍ چې ډېر ستر غړی یې له لاسه ورکړی و خو په دې بیا ډاډه و چې د مرحوم اعلیحضرت ورونه په خاصه توګه محمد هاشم خان ډېر هوښیار، باتدبیره او د سیاست په رمز اګاه شخصیتونه وو.

په کورنۍ شورا کې ځوان هلک پاچا محمد ظاهر شاه د مجلس په راس کې د رییس په حیث کښیني خو نظر او فیصلې ټولې د مشرانو په خاصه توګه د صدراعظم محمد هاشم خان له نظر سره مطابقت کیدلې.

کورنۍ شورا چې پاچا محمد ظاهر شاه ومانه، نو د اساسي

اصولنامې مطابق ټول ملت ورته تابعیت وکړ، نوم یې په خطبه کې یاد شو او سکه یې په نامه ووهله خو د کورنۍ شورا په مصلحت محمد ظاهر شاه د المتوکل علی الله لقب هم ځانته وټاکه چې ځلوېښت کاله یې د نامه ضمیمه و. (۴۸-۷۸)

اعلیحضرت ظاهر شاه د شاه په توګه وظیفه اجرا کوله خو ټول واک د ده کاکا سردار محمد هاشم خان په واک کې وه، د دولت کارونه ټول هاشم خان اداره کول.

تر سردار محمد هاشم خان وروسته سردار شاه محمود خان د صدراعظم په توګه وټاکل شو. سپه سالار سردار شاه محمود خان یو نرم طبیعته ا و دموکرات سړی و، د خپل صدارت له پیل څخه یې ځینې ولسي کارونه پیل کړل چې د خلکو د خوښۍ باعث وګرځیدل او کله چې به په ټولنه کې راڅرګند شو نو خلکو به لاسونه ورته پړکول او د زنده باد دیموکراسي شعارونه یې ورکول.

کله چې ده ته د صدارت چارې وسپارل شوې، د ډیموکراسۍ د تمثیل په منظور یې چې لومړی کار وکړ، هغه دا و چې د اماني دورې کوم روښانفکران چې سردار محمد هاشم خان بندیان کړي وو، ده خوشې کړل. په بندیانو کې داسې کسان هم وو چې تر ۱۵ کالو زیات قید پرې وتلی و او دا موده یې په زندان کې تیره کړې وه.

د دې بندیانو له ډلې څخه یو هم ارواښاد عبدالهادي داوی و چې له بند وروسته د شورا د مجلس ریاست او بیا د سفارت دنده ور وسپارل شوه.

له سردار شاه محمود خان څخه وروسته سردار محمد داوود

خان صدر اعظم وټاکل شو. که څه هم د داوود خان په صدر اعظم کیدو سره د راغلي ډیموکراسۍ لمن ټوله شوه خو په عوض کې دولتي کارونه ګړندي شول. لویې پروژې تر کار لاندې ونیول شوې، د کابل، کندهار، هرات لوی سړکونه، د سالنګ لویه لار، د نغلو، سروبي، درونټې او هلمند د برېښنا فابریکې، د ننګرهار کانال، د هلمند پروژه او نور....

له داوود خان وروسته بیا ډاکتر محمد یوسف صدراعظم کیږي. د ده په دوره کې د انتخاباتو، اساسي تشکیلاتو، مطبوعاتو او قضایي تشکیلاتو او صلاحیتونو قوانین یې ترتیب کړه او د پاچا تر توشیح وروسته نافذ شول.

د احزابو او ولایتي جرګو قوانین یې ترتیب کړل او د تصویب لپاره یې د دولسمې دورې شورا، او ولسي جرګې ته وړاندې کړل.

له ډېرو سیاسي تغییراتو وروسته سردار محمد داوود په داسې حال کې چې په سفر تللی و، د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ په ۲٦ مه نیټه، د شپې له خوا د یوې پوځي کودتا له لارې د چارو واګې په لاس کې واخیستې او د پاچا رژیم ته یې د تل لپاره د پای ټکی کېښود او جمهوري نظام یې اعلان کړ.

د سه شنبې د سهار په اوو بجو د راډیو افغانستان له لارې د ده وینا، چې د پاچایۍ د ړنګیدو او د جمهوریت د رامنځته کیدو په اړه وه، خپره شوه.

## ۲-۱ د عبدالرحمن پژواک سیاسي شخصیت

ښاغلی عبدالرحمن پژواک په هغه وخت کې وزیربده چې په

ټول هیواد کې د ازادۍ غړونو له پخوا څخه خپلې انګازې خپرې کړې وې، څو کاله وروسته هیواد بیا د بحران خوا ته ځي او دا اثرات په ټول هیواد او په ځانګړې ډول د عبدالرحمن پژواک په روح او روان باندې ډیر اغیز کوي او له نوموړي څخه د څو بعدي شخصیت د جوړیدو لپاره شرایط برابر وي چې د همدې شرایطو په بهیر کې استاد پژواک د سیاست لوړې پوړۍ ته رسیږي او داسې سیاستمدار چې واقعي سیاست په صداقت ولاړ بولي، د سیاستمدار په نوم له خپل ملت سره دوکه او فریب کول لوی او نه بخښوونکې خیانت بولي.

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د قضیې ژورې ارزیابي او تحلیل کوي. هغه به ویل په سیاست کې ښکاره هیلې خلک غولوي او ګمراه کوي باید د قضیې ژورو ته لاړ شوو او رښتنولې ښکاره کړو.

د هیواد تکړه لیکوال حبیب الله رفیع د عبدالرحمن پژواک د سیاسي شخصیت په اړه په خپل کتاب( هغوي چې بیا نه راځي) کې لیکي:

((تر تحصیل او مطبوعاتي ماموریت وروسته د عبدالرحمن پژواک د ژوند دربیمه دوره د ده د سیاسي ماموریتونو او خدمتونو دوره ده، د ده بې ساري استعداد د نظر انداز کولو نه و، همغه ؤ چې د ارواښاد علي محمد خان تر استعفی وروسته، استاد پژواک د باندینیو چارو په وزارت کې مقرر شو چې د افغانستان په خارجي ساحه کې کار وکړي. استاد پژواک ماته وویل: چې ما د افغانستان له خارجي سیاست سره مخالفت نه درلود نو ځکه مې دا ماموریت ومانه، دا ځل استاد په لندن کې د افغانستان د لوی

سفارت د دوهم سکرتر په حیث مقرر شو چې ورسره د مطبوعاتي اتشې وظایف هم ور وسپارل شول.
ده په خپل ټول توان کار ته ملا وتړله او هلته يې د افغانستان د معرفي کولو لپاره په انګلیسي ژبه د رسالو او کتابونو په خپرولو لاس پورې کړ، ده هلته د یوه خپاره شوي کتاب په مقدمه کې نادرخان د یوې جبهې د سپه سالار او امان الله خان د استقلال د محصل په توګه یاد کړ چې دا د افغانستان د هغه وخت د دولت له پالیسۍ سره ډیره مخالفه خبره وه او سردار محمد نعیم خان پرې غوسه شو، دي هم ځوان زلمي و او استعفی یې ورکړه.
وروسته یو ځل بیا په واشنګټن کې د افغاني سفارت د مطبوعاتي اتشه په حیث وټاکل شو او له هغه وروسته په لندن کې د افغاني سفارت مطبوعاتي اتشه مقرر شو او پر دې ماموریتونو سربیره یې هر کال د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې هم د افغانستان نمایندګي کوله. استاد بیا په کابل کې د باندینیو چارو وزارت ته را تبدیل شو چې څه وخت د باندینیو چارو د وزارت د دریمې سیاسي څانګې مدیر، بیا د ملګرو ملتونو د څانګې کفیل او بیا د سیاسي څانګې لوی مدیر وټاکل شو)). (۲۸- ۲۴۷)
پژواک د ۱۳۵۷ ل کال د غویي د اوومې له پوځي کودتا وروسته په لندن کې د سفارت له څوکۍ نه استعفا وکړه او د یوه ژمن او ملي ډیپلومات په توګه په بهر کې د پناه غوښتنې پر ځای خپل هیواد ته راستون شو، کابل ته له راتګ سره سم د وخت د حکومت له خوا په کور کې تر څارنې لاندې ونیول شو.
پژواک د شوروي لښکرو له خوا د افغانستان تر نیواک وروسته

د انقلابي شورا لـه نـوي مـشر ببرک کارمـل سره پـه هغـه ليدنـه کـې چـې د کارمـل پـه ډېـر ټينـګار يـې لـه هغـه سره وکـړه، پـه «پلاروطنـي ملـي جبهـه کـې » د همـکارۍ پـه اړه د نومـوړي لـه وړانديـز څخـه ډډه وکړه.

پـه ۱۹۸۰ ميـلادي کال د اسـتاد پـژواک ناروغـي سـخته او د ډاکټرانـو د ټينـګار لـه املـه اړ شـو چـې د درملنـې لپـاره ډيـلي او ورپسـې لنـدن تـه لاړ شي، د افغـان ليکـوال اسدالله شـعور پـه وينـا، نومـوړی لـه عملياتـو او نسـبي روغتيـا وروسـته بيرتـه کابـل تـه راغی او د هيـواد د ازادۍ او د خلکـو د ټاکلـو لپـاره يـې لـه يـو شـمير همفکـره دوسـتانو او ځوانانـو سره پـه ګـډه پـه پټـه «د بـشري حقونـو ټولنـه » جـوړه کـړه.

عبدالرحمـن پـژواک لـه درملنـې وروسـته، د افغانسـتان د ازادۍ غوښـتونکو خلکـو لـه حقونـو څخـه د ملاتـړ تـر لاسـه کولـو او لـه يـو شـمير افغـان شـخصيتونو او سـياسي کړيـو سره د خـبرو پـه موخـه المـان تـه لاړ.

پـه دې تـرڅ کـې پـه لويديـځ المـان کـې د پاکسـتان سـفارت د خپـل حکومـت پـه لارښـوونه اسـتاد پـژواک تـه بلنـه ورکـړه چـې د يـو لـړ خـبرو اتـرو او د افغـان لانجـې د اوارۍ لپـاره هغـه هيـواد تـه لاړ شي. اسـتاد پـژواک هـم بـې لـه ځنـډه پاکسـتان تـه لاړ.

پـه پاکسـتان کـې لـه درې مياشـتنۍ اسـتوګنې او خـبرو اتـرو وروسـته، پـژواک د يـوه هوښـيار ديپلومـات پـه توګـه يـو ځـل بيـا لـه افغانانـو او ملګـرو ملتونـو سره د مفاهمـې لپـاره اروپـا او امريـکا تـه لاړ خـو پـه ۱۹۸۳ کال پـه جلاوطنـۍ کـې د افغانانو پـه سـياسي فعاليتونو

کې د ګډون لپاره یو ځل بیا پاکستان ته ستون شو. نوموړي د خپلې دې استوګنې په ترڅ کې په خپلو بېلابېلو لیکنو، شننو، مرکو او وېناوو کې مجاهدین په پوځي او سیاسي جبهو کې د یووالي د نشتوالي ناوړه پایلو ته ځیر کړل.

څرنګه چې د پاکستان حکومت د استاد پژواک دغه ملي کړنې له خپلو ګټو او پلانونو سره په ټکر کې لیدې نو په پاکستان کې یې د نوموړي استوګنه نوره نه شوه زغملی، په رسمي توګه یې هغه نامطلوب کس اعلان کړ او امر یې وکړ چې ژر تر ژره د پاکستان خاوره پرېږدي. په پای کې هغه د ملګرو ملتونو د پناه غوښتونکو د دفتر په منځګړیتوب امریکا ته لاړ.

(۴۶-۸۳)

پاکستان له ښاغلي عبدالرحمن پژوا ک څخه وغوښتل چې د ډیورند کرښې د تائید په اړه یو څه ولیکي خو پژواک له هغه څخه انکار وکړ. له پاکستان څخه د پژواک اخراج مسئله هم دا علت کیدای شي چې د شخصي ګټو لپاره په ملي ګټو باندې معامله وکړي او کیدای شي دغه لاندې نور علتونه وي چې پژواک به همیش لپاره ویل:

۱- باید پرېنږدو چې تاریخ په غلط ډول باندې تکرار شي چې د جنګ په میدان کې یې همیشه ګټو خو د سیاست په میدان کې یې همیشه بایلو.

۲- د پاکستان له هیواد څخه غوښتنه لرم چې واضح کړم چې له مجاهدینو سره کمک د اسلام مبارک دین له وجایبو څخه دی او که د امریکا د حمایت جلبولو لپاره دي.

۳- مجاهدین او مبارزین دي باید خپل راتلونکي عواقب او مبارزه خپله معلومه کړي بلکې ټول گروپونه واړه او لوی د خدای ج او خلکو پر وړاندې خپل مسوولیت ادا کړي.
۴- هغه غوښتل ټولې سلاګانې او کمکونه نیغ په نیغه د اصلي اشخاصو په لاس کې ورکړل شي او په مستقیم ډول دې افغانستان ته انتقال شي، پاکستان باید دا موقع برابره کړي.
۵- د افغانستان ټول نظامي خلک چې د نړۍ په هر ګوټ کې اوسیږي، ټولو ته دې برخه ورکړل شي، د هغوی له تجربو او پوهې څخه استفاده وشي، نه باید له یو څو محدودو کسانو سره مشوره وشي او ټول واک د هغوی په لاس کې وي.
٦- د کمکونو په توزیع کې له ټولو رهبرانو سره یو شان چلند وشي (له یو بام او دوه هوا ) څخه کار وانه خیستل شي.
۷- نور نو هغه وخت تللی دی چې درې قسمه، څلور قسمه او اووه قسمه خبرې وکړل شي.
۸- په امریکا او روسیه کې یو نفر یا یو ګوند حکومت نه کوي بلکې ټول خلک او ګوندونه د حکومت جز وګرځي او که چیرې څوک په ملي ګټو خپلې ګټې لوی ګڼي او که د روس او امریکې اهداف تعقیبوي، له دې څخه بله لویه ګناه نشته ده.(۸-۴۱)

په دې لړ کې عبدالرحمن پژواک خپل احساسات په لاندې شعر کې داسې بیان کړي دي:

بیا نه شم مهاجر په دې وطن کې به
که پخپله دوی محتاج د انصار نه شي

په رحمن او په خوشال مې سلام وايه
بیا گذر به زما د دوی په مزار نه شي
د مومند او د ختک د غر پژواک یم
خو فغان مې جگ د دوی له کوهسار نه شي
(۹- ۵۱)

دا راز له سیاسي اړخه د پښتونستان له مسالې سره عبدالرحمن پـژواک زیاتـه مینـه او لیوالتیـا لرلـه او د ده زیـات شـمیر لیکنـې پـر همدغـه محـور را څرخـي، ان تـر دې چـې څـو ځانگـړي اثـار يـې هـم پـه انگریـزي لیـکلي دي.

۱-پښتونستان
۲- د پښتونستان ورځ
۳- د پښتونستان مساله

نومـوړي پـر دې نظـر و چـې بایـد دې پراخـې پرگنـې تـه د خپلـې ارادې حـق ورکـړای شـو، ځکـه د پښتونسـتان خلـک د ټولـو کلتـوري مناسـباتو، تاریـخ، ژبـې او نـورو ټولـو ځانگړنـو لـه مخـې د یـو ملـت حیثیـت لـري چـې اسـتعمار د دوی حقـوق غضـب کـړي، خـو دوی حـق لـري چـې د بیـن الـدول او بـشري حقونـو لـه مخـې د (خـود ارادیـت) حـق ولـري.

څرنگـه چـې دغـه مسـاله تاریخـي، سـیاسي او حقوقـي خـواوې لـري، نـو پـر دې بنسـټ اسـتاد پـژواک د ملگـرو ملتونو په سـازمان کې د خپلـو سـیاسي هلـو ځلـو پـه لـړ کـې چـې د ټـول بشریـت لپـاره یـو سـتر نړیـوال حقوقـي خدمـت گڼـل کیـږي چـې هغـه د خپلـې ارادې

حق پر مسالې ټینګار و، ځکه د خپلې ارادې حق (د حق خود ارادیت) اصل د ملګرو ملتونو د منشور په لومړۍ، پینځه پنځوسمه او شپږ اویایمه مادو کې د بین المللي حقوقو د اصولو په ډله کې یو ثابت اصل منل شوی دی او په تطبیق یې د نړۍ ټول دولتونه مکلف شوي دي.

عبدالرحمن پژواک دغه اړتیا او ملي تمایل په رښتیني توګه درک کړ او یو لړ داسې ژوندي اسناد او حقایق یې نړیوالو ته وړاندې کړل چې له واقعیت او حقیقت څخه به یې نړیوال محاکم انکار و نه شي کړای او د دغې مسالې قانوني او حقوقي غوښتنه به د ټولو انصاف پالونکو په مخ کې د یوه روڼ ثبوت په توګه پروت وي.

دلته به د عبدالرحمن پژواک د هغې وینا لنډیز وړاندې کړو چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په دوه ویشتمه غونډه کې یې کړې او بیا یې د پښتونستان په اړه د پاکستان د استازي اعتراض ته هم ځواب ویلی او دا ټکی په ښکاره ترې جوتیږي چې ارواښاد پژواک د خپلې سیاسي پوهې او درایت له مخې د پښتونستان مسالې ته د حق خود ارادیت پر اصل څومره ښه ثابته اتکاء کوي:

(( ځینې نورې جدي مسئلې هم شته چې د بین المللي اندیښنې سبب کیږي او د اسیایي هیوادونو خلک متاثره کوي، ځینې دغه مسئلې نوې او ځینې پخوانۍ دي، په هغو مسایلو سربیره چې د ملګرو ملتو په مخکې تر غور لاندې نیول شوي دي، ځینې نورې مسئلې هم شته چې دلته د هغوی په باب

بحث نه دی شوی، دغه ټولې مسئلې کولای شي چې د سولې او ارامۍ د اختلال سبب شي.

لکه څرنګه چې په ټولو بین المللي چارو کې همکاري ډېره ضروري ده، سخته ویجاړه شوې ده. د اسیا د سلګونو ملیونو خلک ارامتیا، چې په دغه له تحمل څخه وتلې شخړو پورې اړه لري، موږ د هغو ټولو په باب اندیښمن او هیله لرو چې د دغو شخړو د را ولاړو شوو مشکلاتو د دوستانه حل لپاره د اختلافونو او جنجالونو سوله ییز حل تر لاسه کړی شو.

زموږ د هیواد په ګاونډ کې د پښتونستان د خلکو او د پاکستان د حکومت تر منځ شخړو یوه خطرناکه وضعه منځته راوستلې ده چې د منطقې اینده سوله او امنیت تهدیدوي، د هغو خلکو او مځکې سر نوشت چې دواړه له کشمیر څخه لوی دی د دې اختلاف موضوع ده.

د پښتونستان خلک یوازیني خلک وو چې د نړۍ په دې منطقه کې د انګریزانو له خوا ربړول کیدل او د خپلې ازادی د ګټلو او د استعمار په ضد مجادلې په لاره کې یې خپل ځانونه قربان کړي دي. د دوی له دې ټولو مجادلې سره سره عجیبه دا ده چې دوی یوازیني خلک وو چې د خپل سرنوشت د ټاکلو له حق څخه محروم پاتې دي. افغانستان د پښتونستان د خلکو مطالبه جدا تائیدوي، متاسفانه د پښتونستان د کشالې د مسالمت امیزه حل او د خبرو له لارې څخه د حل د لارې د پیدا کولو لپاره زموږ کوښښونه له ناکامۍ سره مخامخ شوي دي.

موږ بیا هم امید وار یو، دې ته دوام ورکوو چې څو د پاکستان

حکومت د موضوع پر اهمیت وپوهیږي او لـه هغـوی سره د دغـه راز شخړو لپاره لـه بیـن المللـي منـل شـویو اساسـاتو او معیارونـو سره سـم او د خلکـو او ملتـو د سرنوشـت د ټاکلـو حـق مطالبـه وکـړي، مـا پـه خپلـه وینـا کـې یـو شـمیر مهمـو موضوعاتـو تـه چـې د عمومـي ټولنـې د دې دورې د اجنـډا لـه مهمـو فقـرو څخـه دی، اشـاره ونـه کـړه، مگـر دا لـه دغـو فقـرو سره زمـوږ د بـې علاقـه گـۍ دلیـل نـه دی.

د عبدالرحمـن پـژواک لـه دې وینـا څخـه وروسـته د پاکسـتان اسـتازي حنیـف خـان د ملگـرو ملتونـو پـه عمومـي ټولنـه کـې داسـې وویـل:

(( د افغانسـتان نماینـده پـه خپلـه وینـا کـې هغـه څـه چـې دە د پښتونسـتان او د پښتونسـتان د خلکـو د خـود ارادیت مسـاله بللـې ده، منځتـه را ایسـتلې دي، زه پـه خپلـه یـو تـن پښـتون او د پاکسـتان د نفوسـو د جمعیـت غـړی یـم، مـوږ د پاکسـتان یـوه نـه بېلیدونکـی جـز تشـکیلوو، دغـه حالـت پـه خپلـه زمـوږ پـه اراده منځتـه راوسـتل شـوی دی.

مـوږ پـه هغـه ریفرنـډم کـې چـې د ۱۹۴۷ میـلادي کال په اگسـت کـې د هنـد د وایسرای (لارډلویـي مونـت بېتـن) تـر نظـارت لانـدې، چـې چنـدان د پاکسـتان دوسـت هـم نـه و، وشـو، خپلـه ارزو لـه پاکسـتان سره د الحـاق لپـاره څرگنـده کـړه، پـه هغـه ریفرنـډم کـې د هغـې منطقـې پـه سـلو کـې نـوي پښـتنو د پاکسـتان پـه طرفـدارۍ رائـې ورکـړې.

پـه همدغـه ډول و چـې مـوږ د پاکسـتان جـز شـو او تـل بـه د پاکسـتان یـو جـز اوسـو ، هیـڅ قـوه یـا پـه قـوې بانـدې هیـڅ ډول

تهدید دي وضعي تـه تغییر نـه شي ورکـولای، هـر څـه چې پېښـېږي پېښ دې شي.

ایـا اجازه راکـوئ پوښـتنه وکـړم چـې د افغانسـتان نماینـده تـه چا اجـازه ورکـړه چـې زمـوږ پـه نماینـده ګـی خـبرې وکـړي؟ پـه پاکسـتان کـې د پښـتنو شـمیر د افغانسـتان پـه نسـبت زیـات دی، کـوم شـی چـې د پښـتونسـتان پـه نـوم یادیـږي، د افغانسـتان د حاکمـه حلقـې د یـوه اقلیـت لـه تخیـل څخـه پرتـه بـل شـی نـه دی، مـوږ پوهیـږو چـې زمـوږ وروڼـه افغانـان لـه دې مفکـورې سره هـم فکـره نـه دي، د پاکسـتان د خلکـو پـه مقابل کـې عموما او د پاکسـتان د پښـتنو خلکو پـه مقابـل کـې خصوصا ډیـر دوسـتانه احساسـات لـري. مـوږ پښـتنو د پاکسـتان د جوړولـو لپـاره وجنګیـدو، د هغـه لـه تمامیـت څخـه مـو دفـاع وکـړه او دې کار تـه بایـد دوام ورکـړو)).

له دې وینا وروسته استاد پژواک بیا داسې وویل:

(( د پاکسـتان نماینـده زمـا د خبرو پـه مقابـل کـې د ځـواب ویلـو د خپـل حـق څخـه اسـتفاده کـړې ده، دغـه ځـواب لکـه چـې مـې وویـل، د پاکسـتان حکومـت د پښتونسـتان د خلکـو د خـود ارادیـت له حـق څخـه انـکار کـړی. د پښـتونسـتان د خلکـو دغـه غوښـتنه د خـود ارادیـت لـه حـق څخـه پرتـه بـل څـه نـه ده، زه فکـر کـوم چـې د دې ټولنـې غـړي پوهیـږي چـې پاکسـتان پـه ځینـو وختونـو کـې خپـل سیاسـت د خـود ارادیـت د حـق پـه اسـاس را وړانـدې کـوي او هغـه داسـې وخـت د ی چـې لـه هغـه څخـه خـاص مقصـد پـه نظـر کـې ولـري.

دغـه حقیقـت چـې پـه دې موضوعاتـو کـې دوه معیارونـه شـته

دي، زما د پښتون ورور لـه ويناوو څخـه ثابتـه شـوه او هـم دا چـې د پاکسـتان نمايـنده هغـه ريفرنـډم تـه اشـاره وکـړه چـې پـه ۱۹۴۷ ميلادي کال کـې شـوی و، پـه دې موضـوع کـې هـم فکـر کـوم چـې د پاکسـتان د موقـف تحليـل ضروري دی. مـوږ بايـد د دې ريفرنـډم پـه بـاب د پاکسـتان موظـف ( چـې پـه خپلـه د پاکسـتان نمايـنده هـم وويـل د انگريـز د وايسـرای تـر نظـارت لانـدې شـوی دی، پـه يـاد ولـرو، غـواړم تکرار کـړم چـې دغـه ريفرنـډم د انگريزانـو د يـو وايسـرای تـر نظـارت لانـدې شـوی دی، مگـر پاکسـتان پـه يـوه بـل مـورد کـې مثـلا د کشـمير پـه مسـاله کـې څلـور انتخابـات چـې هلته شـوي دي، هيـر کـړي دي او هغـه د خلکـو د ارادې مظهـر نـه گڼـي، د پاکسـتان نمايـنده وويـل چـې پـه هغـه ريفرنـډم کـې پـه سـلو کـې نـوي پښـتنو رايـه ورکـړه چـې پـه پاکسـتان پـورې مطلـق کيـږي، دلتـه بايـد نـوي پوښـتنې پـه نظـر کـې ولـرو، لومـړی پـه دې ريفرنـډم کـې چـې د هند د وايسـرای تـر نظـارت لاندې وشـو، د پښتونسـتان د خلکو لپـاره يوازې يـوه لاره وړانـدې کـړی شـوه او هغـه دا چـې يا پـه هنـد پـورې ملحـق شي او يـا پـه پاکسـتان پـورې او بلـه لاره ورتـه نـه وه.

پـه هغـه وخـت کـې د پښتونسـتان د خلکـو ادعـا دا وه چـې د خپـل سر نوشـت د ټاکلـو لـه حـق څخـه د پښتونسـتان د دولـت د اسـتقلال لپـاره اسـتفاده کـړي، مگـر دغـه لاره ورتـه نـه وه پريښـودله شـوې، پـه همـدې علـت د پښتونسـتان پـه سـلو کـې پنځـوس فيصده نفـوس لـه ريفرنـډم سره پريکـړه وکـړه.

هـر څـوک کـولای شي چـې پـه دې بـاره کـې د هغه وخت اسـنادو تـه مراجعـه وکـړي، هغـوی پـه هغـه ريفرنـډم کـې برخـه وانخيسـتله.

که چیرې وویل شي چې په سلو کې نوي خلکو د پاکستان په طرفدارۍ رایه ورکړې، حقیقت نه لري.
د پاکستان نماینده وویل، چې دی په خپله یو پښتون دی، په دې باره کې څه شک او تردید نشته او زه په دې خوشاله یم چې هغه پښتون دی، مګر ما وویل چې د پښتونستان موضوع د پښتونستان د خلکو او د پاکستان د حکومت تر منځ یوه کشاله ده، ښکاره ده چې د پاکستان نماینده د پاکستان د حکومت غړی دی.
د پاکستان نماینده وویل چې د پاکستان جمهور رییس په خپله یو ممتاز پښتون دی، زه په دې هم اعتراف کوم چې جلالتماب جنرال محمد ایوب خان یو تن پښتون دی، مګر د دې خبرې معنی دا نه ده چې د هغه د ریاست جمهوري په دوره کې د پښتنو په حقوقو باندې تېرې نه دی شوی او یا له دغه حق څخه انکار نه دی شوی. دغه راز باید هېر نه کړو چې هغه بله ورځ د پاکستان وزیر خارجه په دې تولنه کې د هند د مسلمانانو د حقوقو په باب شکایت کاوه، زما اشنا هیره کړه چې یو ممتاز مسلمان د هند مشر دی ولې دغه خبره د پاکستان په نزد بې تفاوته ده؟
مور په دغه موضوع کې مداخله نه کوو، د ا د پښتونستان د خلکو او د پاکستان د حکومت تر منځ کشاله ده. څرنګه چې دغه کشاله د خود ارادیت د حق پر اساس ولاړه ده، مور د هغې ملاتړ کوو.
لکه څرنګه چې د نړۍ په ټولو برخو کې د خود ارادیت د

حق ملاتړ کوو، دا یوازینی ټکی و چې غوښتل مې هغه څرګند کړم.

افغانستان د خاورې یا نفوسو کومه تقاضا نه لري، دا موضوع باید پوره واضحه کړی شي، که چیرې ټول پښتانه زما د اشنا په شان چې دلته یې وینا وکړه، وغواړو، چې پښتونستان د پاکستان جز وي، موږ به لومړنی هیواد واوسو چې په رسمیت یې وپیژنو په دې شرط چې همدا اوس یو ریفرنډم هلته اجرا ء شي خو په هغې کې د دې خلکو د خود ارادیت حق ور وسپارل شي. موږ به په پاکستان پورې د هغوی د الحاق فیصله یا هره بله فیصله چې هغوی کړي، ومنو، مګر طبعا غواړو چې دغه ریفرنډم د یو بل مقام تر نظارت لاندې مثلا د ملګرو ملتونو د موسسې تر نظر لاندې وشي یا نور ترتیبات ورته ونیول شي.

مګر هغه ریفرنډم، چې د انګریز د وایسرای تر نظارت لاندې شوی دی؛ هغه وایسرای، چې د پښتونستان خلکو دوه پیړی له هغه هیواد سره وجنګیدل، داسې ریفرنډم به نه وي، چې موږ هغه تایید کړو. (۴۳-۱۶۲)

عبدالرحمن پژواک صاحب د خپل اوږد ځواب په لړ کې دوو مهمو ټکو ته په ځوابي بڼه ځواب ورکوي، وايي چې لومړی خو دا ټاکنې د هند د وایسرای لارډ لویي مونټ بیټن تر نظارت لاندې تر سره شوی، بله دا چې په دې کې پښتنو ته دوه داسې اختیاره ورکړل شوي وو، چې دواړه یې د پښتنو خوښ نه وو، یعنې له هند او یا له پاکستان سره دې ملحق شي، دریيم دا چې که د ریفرنډم او ټاکنو مساله دومره قوي وي نو پاکستان خو د کشمیر

پر سر هم څلور ځلې ټاکنې کړې، ولې په هغه مورد کې پر ټاکنو اتکاء نه لري، په دې توګه پاکستانی استازی د ده د دې استدلال پر وړاندې چوپه خوله پاتې شو.

### ۲-۲ د عبد الرحمان پژواک فرهنګي شخصیت:

لوی ادیب، تکړه ژورنالست او پوه سیاستمدار عبدالرحمن پژواک، په ۱۳۲۵ ه ش ۱۹۴٦ میلادي کال کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د اطلاعاتو لوی مدیر شو . په ۱۳۲۷ ه ش ۱۹۴۸ میلادي کال په لندن کې د افغاني سفارت د دوهم سکرتر او مطبوعاتي اتشې په حیث مقرر شو، وروسته همملته د کار او کار ګر د بین المللي موسسې کارمند شو. څه موده چې تیره شوه، هغه کار یې پرېښود او په واشنګټن کې د افغان سفارت د فرهنګي او مطبوعاتي اتشې په صفت وټاکل شو. له څه مودې وروسته کابل ته راغی، دلته یې دوه میاشتې تیرې کړې. په ۱۳۲۹ ه ش، ۱۹۵۰ م کال په لندن کې د افغان سفارت د فرهنګي اتشې په توګه وګومارل شو او تر ۱۳۳۲ ه ش ۱۹۵۳ م کاله پورې یې خپل وظایف سر ته رسول.

عبدالرحمن پژواک، په لندن کې د خپل ماموریت په دوران کې، سربیره پر خپلو دیپلوماتیکي دندو، خپل مطالعات هم پراخول او قلمي خدمتونه یې هم تر سره کول. په دې لړ کې به یې بریټش موزیم ته هم تګ راتګ کاوه او د پښتو خطي نسخې یې له نظره تیرولې. د افغانستان او برتانیې د روابطو ارشیفي اسناد یې هم کتل او یادداشتونه یې ترې اخیستل. په نتیجه

کې په دې بریالی شو چې هملته په لندن کې د افغانستان د تاریخ، فرهنګ، سیاست او روانو مسالو په ارتباط په انګریزي ژبه کتابونه او رسالې ولیکي او خپرې کړي.

عبدالرحمن پژوا ک په بهر کې له اووه کاله خدمت وروسته، په ۱۳۳۲ ه ش کال بیرته هیواد ته راغی او د بهرنیو چارو په وزارت کې د سیاسي دربیمې څانګې لوی مدیر او د ملګرو ملتونو د څانګې د امر په حیث په کار وګومارل شو. په ۱۳۳۴ ه ش ۱۹۵۵ م کال کې د سیاسي چارو لوی مدیر شو او په همدغه کال د هغو علمي او ادبي خدمتونو له امله چې عبدالرحمن پژواک، پښتو ژبې او ادب ته کړي وو، دپښتو ټولنې د عالي شورا له خوا د پښتو ټولنې افتخاري غړی وګمارل شو. (۲۳-۱۶)

ارواښاد عبدالرحمن پژواک هغه ملي مفکر او دریځوال شاعر دی چې له وخت نه وړاندې وړاندوینې یې زموږ په نننې سیاسي ټولنیز چاپیریال کې په څرګنده تر سترګو کیږي. ارواښاد پژواک یو ټولنپوه شاعر و. پردې پوهیده چې یو مهال به د نوموړې په تاټوبي یعنې افغانستان کې داسې ملي ضد څیرې به را برسیره شي چې نه یوازې به پر خپلو ناوړو کړو پښیماني نه کوي بلکې ویاړي به هم پرې. پژواک دغه حالت په لاندې ټکو داسې انځوروي:

د پردی په غلامۍ کې رقابت کړي
تینګ ولاړ په خپل سیالي دي دا وګړي

لکه لنګ د حمام دي واړه پژواکه
د هر تن د ځان کالي دي دا وګړي

لکه څنګه چې د پژواک له لیکنو او کړنو څخه جوته ده، نوموړي د افغانستان د جلا شوي برخې پښتونخوا په مساله کې ډیر جدي ډیپلومات و او په دې ملي مساله کې یې هیڅ وخت له مصلحت او جوړجاړي څخه کار نه دی اخیستی او تل د خپلو پښتنو جلا شوو بې حقوقو ورونو په خوا کې د هغوی له حقوقو څخه ننګه او دفاع کړې ده. په دې برخه کې نوموړي ډیر ژبور او له قوي استدلال څخه برخمن و. د ده په استدلال او ژبورتوب کې دري داسې مهمې مسالې نغښتي وې چې د نوموړي له ژبورتوب سره یې مرسته کوله.

**لومړی:** پژواک سره له دې چې په ادبیاتو کې یې ښې پنځونې کړې، د حقوقو په برخه کې هم لوستی و او خو یوازې لوستنه له یوه قوي استدلال سره مرسته نه کوي.

دویم: هغه ډیر عمر په ډیپلوماتیکو برخو کې کار کړی و.

دریېم: نوموړی د یوه ملي احساس درلودونکی هیوادپال انسان و، هر څه یې د خپل هیواد د سرلوړی لپاره تر سره کول، نه د شخصي ژوند لپاره. (۴۶– ۶۹)

د عبدالرحمن پژواک لومړنی ماموریت د کابل ادبي انجمن د تاریخ په څانګه کې د انګلیسي ژبې له ترجمانی نه پیل شو او ورسره د ده عملي، علمي او ادبي کارونه هم شروع شول.

پژواک د ژوند په دوو مهمو څانګو کې ژوره مطالعه وکړه چې دا

ځانګې ادب او حقوق وو. د ادب په ساحه کې یې د هیواد لرغوني ادبیات په خاص ډول ویدي سرودونه په انګلیسي ژبه کې په ژوره توګه مطالعه کړل او د انګلیسي ژبې زاړه او نوي ادبیات یې ولوستل. د پښتو او دري کلاسیک ادبیات یې په جوش او ذوق مطالعه کړل، د پښتو ولسي ادبیات یې د زړه په غوږونو واوریدل، چې دې ټولو د ده پر ادبي تخلیقاتو ژور اغیز وکړ او د ادب له دې ټولو خمونو څخه یې د خپلو تخلیقاتو لپاره یو ځانګړی پوخ رنګ تر لاسه کړ.

همدا راز د قانون په ساحه کې پژواک اسلامي حقوق او قوانین له هماغه ماشومتوب نه زده او بیا یې په غور مطالعه کړل. د نړیوالو حقوقو ژوره مطالعه یې وکړه او ورسره یې پښتني دودونه او نرخونه په ډیر غور له مشرانو او نرخیانو نه واوریدل، ویې لیکل، مطالعه او څیړنه یې پرې وکړه چې دې علمي پانګې بیا د ده پر وروستیو سیاسي فعالیتونو ژور اغیز درلود.

عبدلرحمن پژواک په دې علمي او کلتوري مؤسسو کې د ماموریت په ترخ کې خپل ګڼ پاخه علمي او ادبي تخلیقات ټولنې ته وړاندې کړل. په پښتو کې یې لومړی ځل په ۱۳۱۷ کال د ازاد شعر په قالب کې یې د «کلیمه داره روپۍ» ډرامه ولیکله او د دې اثر په لیکلو سره یې په پښتو کې یو داسې شعر رامنځ ته کړ چې تر څه بریده یې د پښتو له لنډیو نه رنګ اخیستی او په دې ډول یې د پښتو شعر ملي اصالت یې خوندي کړی. اروابښاد پژواک په دغه وخت کې د «ګلهای کوهی» په نامه د پښتو پر ولسي شاعرۍ خوږه او له نوښته ډکه لیکنه وکړه چې

کابل مجلې پر له پسې نشر کړه. هغه د پښتو ملي افسانې په خوړه ادبي دري ژبه د «افسانه های مردم» په نامه ولیکلې او په همدې وخت کې یې د «پروانه» په نامه یوه ادبي مجله خپره کړه چې یوازې یوه ګڼه یې نشر شوه.

په حقوقي ساحه کې یې د «تعاملات حقوقیه و جزائیه ملي» د رسالې په لیکلو سره لومړی ځل د پښتونولي نرخونه او کودونه چې له زرګونو کلونو راهیسې سینه په سینه راروان وو، په بشپړ درایت او فصاحت د کاغذ پر مخ خوندي کړل او د نړۍ د حقوقي نظامونو په کتار کې یې د پښتونولۍ اساساتو ته هم ځای ورکړ.

د لبنان د نامتو ادیب جبران خلیل د «پیامبر» ادبي کتاب یې په همدې وخت کې د «پیشوا» په نامه په پخه ادبي دري ژبه وژباړه.

د پژواک د شاعرۍ پیل هم د ده په نوې ځوانۍ کې شوی و او په پښتو او دري ژبو یې شاعري کوله، د ده دري شاعري تر ډېره ځایه د ابوالمعانی میرزا عبدالقادر بیدل ادبي لار پالي او پښتو شاعري یې د لسان الغیب رحمان بابا د شاعرۍ په رده روانه ده چې ورسره د پښتو ولسي ادب رنګ هم په کې جوت دی.

هزار خم نکند مست می پرستان را
چنانچه ذره خاکی وطنپرستان را

دا یې د همدې وخت د ملي شاعرۍ یوه هڅوونکې او وېښوونکې بیلګه ده. (۲۸ -۲۴۳)

پورته ذکر شوې خبرې ټولې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د ضمیر غږ و او په دې ډول یې د شعر ګڼې پارچې خلق کړې چې

وروسته یوه برخه شعرونه یې د « حدیث خون» او «میهن من» په نومونو خپرې کړې او نور شعرونه یې خواره واره او ناچاپه پاتې دي.

### ۲-۳ د عبدالرحمن پژواک ژورنالستیکي هڅې

عبدالرحمن پژواک د ادب او ژورنالیزم په ډګر کې د متنوعو معلوماتو او تعلیماتو خاوند و. هغه په اصلاح ورځپاڼه او په باختر آژانس کې کار وکړ او د (     ) په نامه یوه مجله یې هم راوکښله چې د لومړۍ ګڼې تر خپرېدو وروسته، له چاپ نه پاتې شوه هیواد تکړه لیکوال عبدالله بختانی خدمتګار د ده د ژورنالیستکي هڅو په اړه لیکي:

((عبدالرحمن پژواک په ۱۳۱۸ ه ش، ۱۹۳۹ میلادي کال کې د اصلاح د ورځپاڼې سر محرر «مسؤل مدیر » یا چیف ایډیټر شو ، څو میاشتې وروسته نوموړي ته د باختر اژانس د لوی مدیریت چارې هم ور وسپارلې شوې، په ۱۳۲۰ ه ش، ۱۹۴۱ میلادي کال د پښتو ټولنې د مشر «لوی مدیر» په حیث وټاکل شو . تر دوو کالو او څو میاشتو وروسته بیا د مطبوعاتو د مستقل ریاست په نورو پوستونو کې موظف شو او دوه دوه نیم کاله نور یې هم مطبوعاتي او نشراتي وظایفو ته دوام ورکړ)).     (۲۳-۱٦)

وطن استاد ته ګران ؤ، د وطن مینې یې په زړه کې ټوپونه وهل، له وطنه بېلیدل، د وطن له خدمته بېلیدل او له خپلې مینې بېلیدل ورته د زغم نه وتلی بېلتون و او له وطن نه بهر کار کول ورته د یوه بې شعوره ماشین کار ښکارېده.

استاد پژواک د ژورنالیزم په ډګر کې له خپرېدو مخکې د

اثارو لـه سانسـور سره کلک مخالـف و. کلـه چې تـر ۱۹۳۹ میلادي کال وړانـدې پـه افغانسـتان کـې د مطبوعاتـو د ازادۍ پـه اړه د نـوي قانـون د جوړولـو هڅـې پيـل شـوې او دې قانـون خپـل ليکنـي مراحل طـی کـول، اسـتاد پـژواک لـه دې مـادې سره چـې مقالـې تـر خپريـدو وړانـدې سانسـورېدلې کلـک مخالفت وکـړ.

د هيـواد تکـړه ليکـوال حبيـب اللـه رفيـع وايـي، عبدالرحمـن پـژواک مـا تـه پـه يـوه ليـک کـې ليـکلي: (( زه پـه دې کار سره پـه اقليـت محـض کـې پاتـې شـوم او لـه دې سره مـې لـه کاره اسـتعفی وکـړه چـې څـه مـوده پـه کالـه ناسـت وم)).

پـه دې ترتيـب پـه مطبوعاتـو کـې د عبدالرحمـن پـژواک خدمـت لـه اختناقـي سياسـت سره د مبـارزې پـه نتيجـه کې پـای تـه ورسـيد او لـه داخلـي مختنـق سياسـت سره يـې دايمـي کرکـه پيـدا شـوه او بيـا د ژونـد تـر پايـه کـه څـه هـم د لويـو لويـو څوکيـو وعـده ورکـړل شـوه، حـاضر نـه شـو چـې د وزارت او حتـی د صـدارت تـر څوکيـو پـورې ماموريـت ومنـي. (۲۸ -۲۴۷)

د ادب او ژورنالیـزم د خدمـت پـه دې دوره کـې، د نومـوړي زيـات اثـار، مقالـې، سرمقالـې، ادبي نثرونـه، داسـتانونه، ترجمـې، شـعرونه او کتابونـه چـاپ شـول او لـه دې سره د پـوره شـهرت خاونـد شـو او د ښـه تکـړه دانشـمند ليکـوال پـه توگـه ومنـل شـو.

# ۳- سبک

څرنګه چې زما د تیزس موضوع د عبدالرحمن پژواک د پښتو د نظم او نثر سبکي ځانګړنې دي نو دلته اړ یم چې یو څه د سبک د لغوي او اصطلاحي پېژندنې په هکله بحث وکړم.

## ۳-۱ د سبک لغوي معنی:

د سبک لغوي معنی په هکله د پښتو پښتو تشریحي قاموس کې داسې راغلي دي:

۱- طرز، روش، لار

۲- هغه خاص دود یا طرز چې یو شاعر یا هنرمند د هغه په اساس خپل احساس او ادراک بیانوي.

سبک د یو ادبي اثر له مشخصاتو څخه یو دی، چې د هغه په وسیله یو اثر له نورو اثارو څخه رابیلیدای شي. د سبک حقیقي معنی د سرو یا سپینو زرو ویلي کول او په قالب کې اچول دي، مجازا د بیان او څرګندونې خاص دود ته ویل کیږي.

۲- په ښه او زړه وړنکې توګه د کلماتو اوډنه.(۱۹-۳-۲۵۰)

د هیـواد تکـړه لیکـوال اروابـښـاد اسـتـاد محمـد صدیـق روهــي د سـبک لغـو ي معنـی پـه هکلـه داسـې لیـکلي:

((سـبک عـربي کلمـه ده او پـه لغـت کـې د سرو او سـپینو زرو ویلي کولـو او پـه کالـب کـې اچولـو تـه ویـل کیـږي، د فـارسي ژبـې پخوانیـو ادیبانـو د سـبک پـر ځـای د فن، طرز، سـیاق، شـیوه، اسـلوب او داسـې نـورې کلمـې اسـتعمالولې. پـه اوسـني وخـت کـې د سـبک اصطـلاح ډیـره تعمیم شـوې ده.

د عـربي د«سـبک» پـه مقابـل کـې اروپایـان، د «سـټایل، سـټیل» اصطـلاح اسـتعمالوي چـې د لاتینـي ژبې له «سـتیلوس» څخه مشـتق شـوه او «سـتیلوس» هغـه الـه وه چـې تیـره څوکـه یـې درلـوده او د هغې پـه وسـیله بـه پـر مومیایـي تابلوګانـو بانـدې لیکنـې کیـدې، هـر چا بـه چـې پـه دغـه فـن کـې مهـارت درلـود، د غـوره سـتیلوس خاونـد ګڼـل کیـده. ورو ورو د دغـې کلمـې مفهـوم پـراخ شـو، پـه ځینـو قاموسـونو؛ لکـه «امریکـن کالـج ډکشـنري » کـې د انګریـزي (

) پـه اتلسـو مختلفـو، مګـر سره پـه ورتـه معنـی ګانـو راغلـی دی.

د (لانګمیـن ) پـه قامـوس کـې د سـټایل مشـهور مانـاوې داسـې راغلـي دي:

۱- د کلمـو د انتخـاب ډول: پـه تیـره هغـه ډول کلمـې چـې د هغـو پـه وسـیله د یـو لیکـوال یـا ویانـد لیکنـې او ویناوې لـه نـورو څخـه امتیـاز پیـدا کـوي.

۲- د کار یـا یـوه عمـل د اجـرا کولـو عمومـي طریقـه چـې د هغـې

له امله یوه شخص، ډلې یا د زمانې د یوې مقطع بیلګه ییزې ځانګړتیاوې څرګندیږي.

۳- د ټولنیز سلوک یا مشخصې سلیقې ډېر عالي ډول.

۴- فیشن، په تیره د کالیو فیشن او داسې نور.

### ۳-۱-۲ د سبک اصطلاحي معنی:

د انګریزي ژبې په یوه ادبي قاموس کې راغلي دي:« سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وایي چې په خورا ښه ډول د لیکونکي انفرادیت، مفکوره او ذهني مراد څرګند کړي. سبک د دوو توکونو له ترکیب څخه جوړیږي: مفکوره او د لیکوال انفرادیت «انډیویدوالیټي» هر کله چې په بشري ټولنه کې هیڅکله هم دوه تنه عین شخصیت نه لري نو ځکه موږ عین سبکونه نشو موندلی، حتی د یو سړي شخصیت هم په مختلفو وختونو او جلا شرایطو کې یو ډول نه وي. له دې امله هغه انفرادي سبکونه چې د یوې کټګورۍ لاندې راځي په نسبي ډول د ټیپولوجي د معیارونو په اساس مطالعه کیږي. په یوه سبک کې هغه څه چې لوستونکی یې درک کوي، یوازې لیکل شوې مفکوره نه ده بلکې ځینې نورې ضمني اشارې ورسره شته چې د لیکوال د شخصیت بیلوونکې نښې ګڼل کیږي. (۵۰ – ۲۴۰)

د ((سبک پوهنې)) اثر لیکوال، د سبک په اړه لیکي چې روهي صاحب یې یو تعریف داسې کړی دی:

(( د ژبې د کارولو هره خاصه طریقه چې د یوه لیکوال، ادبي

مکتب، ادبي بهیر یا صنف ځانګړنه وي، سبک یې بللې شو.

د لغتونو د انتخاب طرز، د جملو د جوړښت ډول، خیال، انځورونه، وزن د بدیعي صنایعو د راوړلو طریقه او یا بله هره ژبنۍ ځانګړنه د یو خاص سبک په پېژندنه کې مرسته راسره کولی شي)). (۳۷- ۲۲)

د سبک په اړه ارواښاد دوست محمد دوست شینواري په ((د ادب تیورۍ اساسونه )) کې د ادبپوهنې د اصطلاحاتو قاموس کې لیکلي :

(( د یوه لیکوال او هنرمند په اثارو کې تر هر څه زیات ایډیالوژیک یووالی لیدل کیږي. یو لیکوال چې غواړي د ژوند کوم پرابلم ته خپله لاره ولټوي، طبعا هغه لاره ورته په ګوته کوي، کومه چې د خپل قناعت او خپلې عقیدې له مخې په نظر کې لري، له دغه ځایه د ده په اثارو کې کله په یوه بڼه او کله په بله بڼه هماغه یوه ایډیا تکراریږي.

د دغو خصوصیاتو مجموعه چې له یوې خوا د لیکوال او هنرمند اثار د نورو له اثارو ممتاز او جلا کوي او له بلې خوا د ده په اثارو کې تکراریږي، هنري او ادبي سبک او ستیل ویل کیږي.

ادبي سبک د لیکوال په ایجاد کې د ایډیا او ترسیم د اساسي خصوصیاتو هغه مجموعه ده چې د ده په اثارو کې تکراریږي او د ده د اثارو لوري ته یو تر بله شباهت ورکوي. کله کله ځینې خلک ادبي سبک د ادبي مکتب په نامه هم یادوي خو اوس عامه منل شوې اصطلاح دا ده چې سبک یوازې د یوه هنرمند او لیکوال په

اثر کې د مضمون او فورم د بیلوونکیو اساسي خصوصیاتو مجموعې ته ویل کیږي.

د لیکوال د سبک په باب د روسي ادب یو پیاوړی نقاد(دوبر ولویف) په ۱۸٦۱ میلادي کال کې لیکلي: « د یوه پیاوړي انځورګر په ایجاداتو کې هر څومره تنوع چې وي، بیا هم یو داسې عام څه په نظر کې راځي چې هغه د ټولو یو ګډ خصوصیت وي او همیشه هغه د نورو لیکوالو له اثارو جلا کوي)). (۳۸ – ۹۴)

د ادبي څېړني نومې اثر لیکوال، د سبک په اړه ډیرې مفصلې خبرې کړې دي:(( سبک د کره کتنې اصطلاح ده چې د ځینو په نظر نوع او د ځینو نورو په نظر یو کل دی، چې د هغې په وسیله د افادې وصف یا ډول پیژندل کیږي. د یوه بل تعریف له مخې سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وایي چې په خورا ښه ډول د لیکونکي شخصیت، مفکوره او ذهني مفکوره عینا تمثیل کړي، که څه هم د دغه مقصد لاسته راوړل ډیر ګران دي؛ مګر لیکونکی زیار باسي تر کومې چې بشري محدودیتونه اجازه ورکوي، دغه مقصد تر سره کړ ي.

سبک له دوو عنصرو څخه مرکب دی، مفکوره او د لیکونکي شخصیت. هر کله چې په بشري ټولنه کې هیڅکله هم دوه تنه عین شخصیت نه لري؛ نو ځکه موږ عین سبکونه نه شو موندلی)). (۳۱-۸۵)

د هیواد پر کاره او تکړه لیکوال سید محی الدین هاشمي په خپل اثر د ادبپوهنې ځانګې کې د فارسي ژبې کتاب (درباره

ادبیـات و نقـد ادبي ) د دویـم ټـوک پـه حوالـه د سـبک پـه اړه داسـې
څرګندونـې راوړي دي چې لـږه برخـه بـه یـې دلتـه را واخلـو:

سبک د معیار له ژبې څخه انحراف دی.

سـبک د لیکنـې یـا وینـا فکـري ځانګړنـه ده چـې د تفکیـک وړ
دی.

سـبک د ژبـې د ځانګړنـې څرګندونـه ده، د هغـې د عاطفـي
محتـوا او منځپانګـې لـه نظـره سـبک پېژندنـه د دې چـارو مطالعـه ده.

سبک د ژبې د بېلابېلو سرچینو انتخاب او ټاکنه ده.

سبک د شاعر د ذوق او قریحې باندینۍ څېره ده.

سبک پخپله انسان دی.

سبک د روح څېره ده.

سبک تداوم یا دوام دی.

سـبک د هغـو جریانونـو ټولګـه ( مجموعـه ) ده چې لیکـوال یې
د خپـل فکـر او نظـر د بیانولـو لپـاره کاروي.

سـبک د هـر وګـړي د بیـان ځانګـړې لاره او طریقـه ده چـې د
خپلـو افـکارو، احسـاساتو او عواطفـو د څرګندولـو لپـاره یـې کاروي.

لیکـوال، تـر دې وروسـته د ادبي سـبک د یـوې جامـع پېژندنـې
پـه اړه لیکـي:

«ادبي سـبک د یـو اثـر یـا د ادبي اثـارو مجموعـې یـوه ځانګـړې
لاره ده. لـه همـدې املـه ده چـې مـوږ وایـو: د حافـظ سـبک، لرغونـی
سـبک، حـماسي سـبک، عراقـي سـبک...». (۵۰-۲۴۴)

د (پښـتو شـعر سـبکونه) نومـې اثـر لیکـوال، د سـبک پـه اړه پـه

خپل کتاب کې داسې لیکي:

(( د یوه لیکوال سبکي وحدت له هر څه د مخه د هغه هنرمند په هنري اشارو کې ښه احساس کیدای شي ځکه چې له یوه پلوه د یوه لیکوال ځانګړی طرز له لیکلو څخه معلومیږي او له بل پلوه یې د یوه لیکوال د ادبي او هنري قهرمانانو په کرکټرونو کې لیدلی شو نو سبک له موږ سره په هنري ژوند کې همدا مرسته کوي چې د سبک په واسطه موږ کولی شو یو هنرمند وپیژنو او یو قهرمان د ده د سبک په واسطه معلوم کړو. لکه د خوشحال خان او رحمن بابا پیژندنه چې دواړو په یوه وخت کې ژوند کاوه خو د بېلو بېلو سبکونو خاوندان وو. سبک په هنر او لیکوالي کې یو ځانګړی طرز، روش او فکر دی او هر لیکوال او هنرمند د خپل سبک په واسطه پیژندل کیږي)). (۲۰-۱۹)

## ۳-۲ د سبک توکي:

پاسپیلوف د سبک توکي درې اړخونه ښودلي دي. د اثر سوژه، د اثر جوړښت او د اثر بیاني جوړښت د سبک توکي بولي.

### ۳-۲-۱ د اثر سوژه:

سوژه د یو لړ منطقي او کرونولوژیکي یا ناکرونولوژیکي پیښو یون دی چې یو له بل سره تړلي وي. د اثر سوژه په اساسي توګه د اشخاصو د کړو وړو، اندیښنو، خبرو اترو او د هغوی د متقابلو اړیکو نه جوړیږي. د کرکټرونو تناسب چې لیکوال ورسره علاقه لري باید

د اشخاصو ځای په ځای کولو، د اثر په سوژه کې راڅرګند شي چې له دې ځایه د هغوی متقابلې اړیکې جوړیږي چې په مکان او زمان کې وده مومي او دغه یا هغه درجه د ټکرونو د هغو د بېلو بېلو شېبو (ترڼه، د ټکر لوړه څوکه او خلاصونه ) په څان کې لري.

### ۲-۲-۳ د اثر جوړښت (کمپوزیشن):

د اپیکو او لیریکو اثارو هنري بڼه تر ټولو د مخه د پېښو د انځور نه جوړیږي، له دې سره سره لیکوال په دغه یا هغه ډول دغه ټولې پېښې په خپلې کیسې او لیکنې کې ځای په ځای کوي. دا یا هغه ځای د اشخاصو د خبرو اترو لپاره ټاکي او په دې ترتیب د اثر جوړښت (کمپوزیشن )جوړیږي.

### ۳-۲-۳ د اثر بیاني جوړښت:

هنرمند په عمومي توګه د اثر د جوړولو لپاره په دغه پروسه کې ورته عبارات، ترکیبونه، په جملو کې د کلیمو ټاکلی ځای په ځای کول، د اثر کلیماتي جوړښت منځ ته راوړي، چې په څان کې نومي (nominal) او حسي ( Expressive ) معنی ګانی انتقالوي. په دې ترتیب هنري بڼه پخپل ځان کې د هنري اثر درې اړخونه داخلوي چې ایډیایي منځپانګه یې بیانوي. (۴۹-۱۰۱)

### ۳-۳ د سبک ډولونه:

د سبک د ډولونو په اړه سید غلام محي الدین هاشمي د شیلي

د اثـر(د ادبياتـو د نړيوالـو اصطلاحاتـو فرهنـګ) د ارسـتو د نظرياتـو پـه اسـاس سـبک پـه اووه ډولـه ويشـلی او ليکلي يـې دي:

(( د سـبک ځانګړنـې پـه لانـدې اووه ډولونـو يادولـی شـو چـې هـر يـو يـې بيا پـه فرعـي ډولونـو او څانګـو ويشـل کيـدای شي:

١- د اثـر وخـت او دورې څخـه، لکـه نـوی سـبک او د منځنيـو پيړيـو سـبک.

٢- د اثـر لـه ژبـې څخـه اخيسـتل شـوی، لکـه الماني سـبک او فرانسـوي سـبک.

٣- له موضوع څخه، لکه عرفاني سبک.

۴- له جغرافيايي چاپيريال څخه، لکه اذربايجاني سبک.

۵- د اثـر د مؤلـف او تخليـق کوونکـي لـه نـوم څخه، لکـه د هومر او خيـام سـبک.

٦- لـه مخاطباتـو څخـه، لکـه عاميانه يـا ولسي سـبک او عالمانه سبک .

٧- له موخې او هدف څخه، لکه طبيعت امیز سبک.

خو په عمومي او کلي ډول بيا سبک په دريو ډولونو ويشي:

**لومړی**- فـردي يـا ځانګـړی او شـخصي سـبک: دا د يـو شـاعر يـا ليکـوال سـبک دی چـې لـه نـورو شـاعرانو او ليکوالـو څخـه بشـپړ جـلا والـی لـري. سره لـه دې چـې ټول ليکـوال او شـاعران خپل ځانګـړی او فـردي سـبک نـه لـري خـو ځينـې شـاعران او ليکوال بيـا د خپـل ادبي ژونـد پـه اوږدو کـې د خپـل ځـواک او غوښـتنې لـه مخـې د ليکنـې او وينـا يـا بيـان بېلابېلـې لارې ازمويلـې چـې پـه همـدې اساس هغـه د

نومورې ځانګړی سبک بلل کیږي. د بېلګې په توګه: د ګل پاچا الفت په نثري او ادبي لیکنو کې ځینې داسې لیکنې وینو چې د هغه ځانګړی سبک یې بللی شو.

**دویم**- دوره یي سبک: په یوه ټاکلې زماني دوره کې ګډې ژبنی، معنایي، بلاغي او نحوي ځانګړنې او نور بیلوونکي عوامل دی. د بیلګې په توګه د دري ژبې د دریمې، څلورمې او پنځمې هجري پیړیو په اثارو کې موجود ورته والی چې هغو ته یې په ګډه د خراساني سبک نوم ورکړی دی.

**دریيم** – ادبي سبک: دا هغه سبک دی چې د علمي، تاریخي، مذهبي او داسې نور سبکونه. په کلي توګه عادي وینا د سبک په وړاندې واقع ده، له نورو سبکونو سره د ادبي سبک توپیرونه د شعر او ادب په ژبه کې جوت دي ځکه چې په ځانګړې توګه په شعر کې بنستیز بدلون مومي او د شکلا پیژندنې اړخ په هغه کې اساس نیول کیږي.(۵۰ – ۲۴۸)

د (ادبي څیړنې ) اثر لیکوال هم، سبکونه د مشترکو اوصافو او ځانګړنو له مخې په اووه ډوله بللي او هغه یې په مفصل ډول تشریح کړي دي چې موږ دلته په لنډیز سره د هغو ځینې ټکي را اخلو:

### ۱- د مصنف په نوم:

ځینې سبکونه د مصنف شاعر یا لیکونکي په نوم شهرت لري، لکه د هومر سبک د شکسپیر سبک، د خوشحال خان خټک

سبک، د حمید سبک، د منشي احمد جان سبک او داسې نور.
یو پیاوړی لیکوال یا شاعر د خپلو لیکنو د ځینو خصوصیاتو له مخې پر نورو لیکوالو یا شاعرانو داسې اغیزه وکړي چې نور د ده تقلید وکړي او بیا د هغه په نوم ځانګړی ادبي مکتب جوړ شي. په پښتو کې یې مثالونه د خوشحال خان خټک او رحمن بابا ادبي مکتبونه دي.

### ۲- د وخت په نوم:

ځینې سبکونه د وخت په نوم یادیږي، لکه: معاصر سبک، تر شکسپیر د مخه سبک، دلاتین ادبیاتو د طلایي دورې سبک. کله چې د یوې خاصې تاریخي دورې لیکنې د هماغه زمانې له جریاناتو متاثره شوې وي او په هغو کې د وخت غوښتنې له ورایه نارې وهي، نو دغه ډول سبک د ځینو تاریخي او اجتماعي شرایطو محصول ګڼل کیږي.

### ۳- هغه سبکونه چې له واسطې ژبې څخه متاثره شوي وي:

د هغه د طریقې له مخې پیژندل کیږي، لکه څنګه چې هماغې واسطې اغیز پرې کړی وي. یو اثر چې په جرمني ژبه لیکل شوی وي، هرو مرو د واسطې په لحاظ له هغه سبک څخه، چې په فرانسوي ژبه لیکل شوی وي، توپیر لري.

### ۴- هغه ډول سبک چې د خپلې موضوع په نوم یادیږي:

لکه : قانوني، تاريخي، علمي، فلسفي، کوميک(خندونکی )، تراجيک (ژړوونکی)، مرثيي (ويرنې) او تعليمي چې هر يو يې د خپلې موضوع په نامه مشهور دی.
د يادونې وړ ده چې يو ليکونکی يا ويونکی په مختلفو موضوعاتو کې يو ډول سبک نه شي کارولی، بلکې له موضوع سره سم بايد يو مناسب سبک انتخاب کړي.

**۵- هغه سبک چې د يو جغرافيايي موقعيت په نوم ياديږي:**
ولايتي، نيوانگلينډي، منځني لويديځ او داسې نور. په لرغونو ادبي فنونو کې سبکونه په همدې ډول تصنيف شوي دي، لکه د فارسي پخواني سبکونه معمولا د جغرافيوي محيطونو په نوم شهرت لري: خراساني سبک، هندي سبک، عراقي سبک او نور.

**٦- هغه ډول سبک چې خپل نوم د مخاطبينو له طبقې څخه اخلي:**
لکه: ولسي او عاميانه سبک، مؤدب يا اشرافي سبک، کورنی سبک چې د خپلوانو، اشنايانو او کورنۍ په مقابل کې استعماليږي.

**۷- هغه سبک چې د يوه ټاکلي هدف او مقصد په نوم ياديږي:**
مثلا احساساتي سبک، چې ليکونکی يا وينا کوونکی د هغې

په وسیله د خپلو مخاطبینو احساسات او هیجانات په خوځیدو راولي. لکه کنایه لرونکی سبک، ډیپلوماتیک سبک او داسې نور. (۳۱ – ۹۱)

### ۳-۴ د سبک د جوړښت عوامل:

د (سبک و مکتب در ادبیات) نومې اثر کې په تفصیل سره هغه ځانګړنې تشریح کړي چې د سبک په جوړښت، وده او پرمختیا یا پیدایښت کې بنسټیز ارزښت او اهمیت لري، دلته په ډیر لنډیز سره هغه ټکي را اخلو:

۱- د نړۍ لید (جهان بیني) نقش او ونډه د یو شاعر یا لیکوال د ادبي سبک په جوړښت او پایښت کې ټاکلې او منلې ده.

۲- تاریخي او فرهنګي شرایط د سبک ماهیت ټاکي، لیکوال او شاعر چې په ټولنه کې ژوند کوي، نو د هغې ټولنې له تاریخي او فرهنګي شرایطو څخه جلا نه شي پاتې کیدای.

۳- د ژبې جوړښت او څرنګوالی هم د لیکوال او شاعر د سبک د جوړښت په څرنګوالي او ماهیت کې دخیل دي.

۴- د ټولنې او خلکو په وړاندې د شاعر او لیکوال ژمنتوب او په اګاهانه توګه د خپل فن او هنر د کمال پوړ ته د رسولو هوډ او تکل هم د سبک د مشخصولو یوه مهمه ځانګړنه ده.

۵- وخت او زمانه هغه ځانګړنه ده چې د انساني ژوند په بهیر کې د سبک اصالت څرګندوي.

٦- د سبک ماهیت او ذات یا اصل هم روښانه دی، نه شو

کولـی سـبک برداشـت او انتقـال کړو، کـه سـبک اصیـل او عـالي و ي، رامنځتـه کوونکـي بـه یـې د پیړیـو په پوړیـو کـې د سـتاینې وړ وګرځـي.

۷- سـبک یـوه مقولـه او سـبکپوهنه د بـشري پوهنـو یـوه څانګـه ده چـې خپلـې ځانګړنـې لـري. د یـو سـبک ذات، کیفیـت او جوړښـت د بېلابېلـو بـشري پوهنـو پـه لـړۍ کـې تثبیـت او پیژنـدل شـوی، پـه داسـې حـال کـې چـې سـبک او سـبکپوهنه لـه نـورو ټولنیـزو پوهنـو سره منطقـي اړیکـې او کلـک پیونـد لـري، پـه خپـل ذات کـې ځانګړې او مسـتقل هـم دی.

۸- د ژونـد او طبیعـت د حقیقتونـو کشـف او موندنـه چـې د ژمـن لیکـوال او هنرمنـد فکـر او دریـځ پیـاوړی کـوي، د سـبک یـوه ډېـره مهمـه او بنسـټیزه ځانګړنـه ګڼـل کیـږي.

۹- د سـبک ځانګړنـه پخپلـه نـه راڅرګندیـږي تـر څـو چـې د تاریـخ، ټولنـې او فرهنـګ د ژورې بیژندنـې لارې چـارې د ادبي اثـر د پنځوونکـي پـه وړانـدې برابـرې شـوې نـه وي.

۱۰- د هغـو لیکوالـو، شـاعرانو او هنروالـو اثـار یا پنځونـې چـې د یـو سـبک خاونـدان وي، لـه داسـې ځانګړنـو څخـه برخمـن دي چـې د هغـه زمانـې پـه نـورو ورتـه او مشـابه اثـارو کـې پـه هغـه بڼـه نـه لیـدل کیـږي.

د (دربـاره ادبیـات و نقـد ادبي ) اثـر لیکـوال، د سـبک د جوړښـت عوامـل پـه درې برخـو ویـشي: فـردي عوامـل، ټولنیـز عوامـل، ژبنـي عوامـل.

## فردي عوامل:

په فردي عواملو کې هوش او حساسیت، ذوق او ادبي استعداد، خویونه او عاداتونه شامل دي، لکه: تندخوی، غم او اندیښنه یا خواشیني، کرکه او بدبیني، خوش بیني، ناروغي، روغتیا او روغه ستنه (تندرستي )، طمع، ځوانمردي، صداقت او رښتینولي، خیانت او ناوړه خویونه.

البته زیاتره یاد شوي فردي عوامل د ټولنیزو او روزنیزو (تربیتي ) عواملو تر اغیز لاندې منځته راځي، لکه : طمع او بدبیني.

## ټولنیز عوامل:

ټولنیز عوامل عبارت دي له اقتصادي، طبقاتي، فرهنگي، مذهبي، اخلاقي، جغرافیایي، سیاسي، ښوونیز روزنیز، دنده ییز او هیوادني او نړیوال عوامل او لاملونه دي.

## ژبني عوامل:

ژبني او ادبي عوامل له ژبې او ادبي عنعنو څخه عبارت دي چې په ژبې پورې مربوط توکي دي. (۵۰ -۲۵۶)

په کوټلي ډول ویلې شو، کله چې یو شاعر یا لیکوال په فردي ډول یا د ټولنې د مشکلاتو له مخې کومه مفکوره غوره کوي. په حقیقت کې دی له خپل محیط څخه په زیاته اندازه متاثره کیږي. دی په دې ټولنه کې اوسیږي، دغه ټولې ناخوالې او بې عدالتي او غلط قضاوتونه ویني او ده ته د ده وجدان اجازه نه ورکوي چې

ویې زغمي نو په دې اساس خپل افکار ټولنې ته منعکس کوي.

## ۳-۵ د سبک او ادبي مکتب تر منځ توپیرونه:

### سبک:

سبک عربي کلمه ده چې معنی او مفهوم یې د سرو او سپینو زرو ویلې کول او په قالب کې اچول دي او په ادبي اصطلاح سبک د یو شاعر یا لیکوال د وینا او لیکنې لارې، اسلوب او روش ته وایي.

### مکتب:

د مکتب لغوي معنا د لیک، زده کړې او ښوونې ځای دی او په ادبي اصطلاح هغه پراخ جریان او لاره ده چې د زیات شمیر ادیبانو (شاعرانو او لیکوالو) د سبکونو له ګډون څخه منځ ته راغلی وي. ځینې ادبپوهان یې په تشریحي ډول داسې را پیژني: ادبي مکتب د هغو نظریو، ادبي او فرهنګي ځانګړنو مجموعه ده چې د یو یا څو هیوادونو د فرهنګي ټولنیزې او سیاسي اوضاع په بهیر کې رامنځته کیږي.

دغه ځانګړنې معمولا د لیکوالو او شاعرانو د یوې ډلې په اثارو کې سره ګډې او مشترکې وي او د نورو شاعرانو او لیکوالو له تخلیقي اثارو څخه د توپیر او بیلتون سبب ګرځي. همدغه ګډې ځانګړنې چې کله ادبپوهانو او کره کتونکو په نښه کړې یا را ایستلې او هغه یې د یو ادبي جریان د بنسټیزو اصولو په توګه ښودلې دي، په همغه وخت او یا را وروسته وختونو کې نورو لیکوالو او شاعرانو د

دغو اصولو پیروي کړي او د هغو پر بنسټ يې خپل ادبي اثار رامنځته کړي دي او دغسې ادبي لاره د يوې لنډې يا اوږدې مودې له پاره ساتل شوې او پالل شوې چې اوس موږ هغې ته « ادبي مکتب» نوم ورکوو.

د ادبي مکتب او سبک تر منځ توپيرونه دا دي:

په دې کې شک نشته چې ادبي مکتب او ادبي سبک په خپل منځ کې سره نږدې اړيکې لري خو دواړه يو شی نه د ي. د دواړو پيژندنې مو د مخه ولوستلې، د هغې له مخې به يې په توپير پوهيدلي ياست، د دې لپاره چې د توپير او بيلتون کرښه پوره روښانه او څرګنده شي، دلته يو شمير توپيرونه ښييو چې د ادبي څيړنو په بهير کې د دغو دوو ادبي اصطلاحاتو په اړه څرګند شوي دي:

۱- ادبي سبک د ادبي مکتب په پرتله ځانګړی، محدود او يا په بله وينا فردي بڼه لري خو د ادبي مکتب مفهوم د هغه په نسبت عام، پراخ او يوه ډله ليکوال او شاعران يا په بله وينا د ادبي اثارو را منځته کوونکي په خپله پراخه لمن کې رانغاړي.

۲- سبک په خپلو ذاتي کلماتو کې يوازې د يوه شخص (چې رامنځته کوونکي يې دي ) څېره څرګندوي خو مکتب بيا د يوې ډلې ( د ادبي اثارو رامنځته کوونکو) د ادبي خصوصياتو او ځانګړنو څرګندويي کوي.

۳- سبک د مکتب په حدودو او حوزو کې ځان څرګندوي خو ادبي مکتب بيا د څو سبکونو له يو شانته والي او ګډون څخه

منځته راځي.

۴- سبک د یوې ټاکلې او محدودې تاریخي دورې ځرګندویې کوي خو مکتب یوه ډېره پراخه دوره راچاپیروي. (۲۰ – ۴۲)

د نتیجې په توګه ویلای شو چې مکتب عام او پراخ دی او سبک خاص او محدود. هر ادبي مکتب په عین حال کې یوه لویه او پراخه ادبي لاره یا سبک وي چې د خو سبکونو له ګډون ځخه جوړ شوی وي خو هر ادبي سبک هیڅکله ځانګړی ادبي مکتب نشي ګڼل کیدای. که دا خبره لږه نوره هم ځرګنده کړو نو به وایو چې: هر لیکوال او شاعر ځانته بېل سبک لري خو دا ضروري نه ده چې د هر سبک خاوند شاعر دې د مکتب خاوند هم وي، خو په ادبي مکتب کې دا ضروري ده چې هغه به خامخا د زیاتو شاعرانو یا لیکوالو له سبکي ګډون ځخه رامنځ ته شوی وي. کله کله داسې هم کیږي چې د یو شاعر یا لیکوال د خاص او ځانګړي سبک د نفوذ ساحه او دایره پراخه شي، نور سبکونه په کې منحل او هماغه ادبي سبک د یو ادبي مکتب په بڼه تبارز وکړي.

## ۳-٦ د سبک د پیژندنې لارې چارې:

د یو شاعر یا لیکوال پر ادبي سبک د پوهیدنې او پیژندنې لپاره ځینې لارې چارې شته چې هغه له مور سره په سبک پیژندنه کې مرسته کولی شي.

سبک د بهرنی نړی په اړه د لیکوال یا شاعر ادراک ښیي: نو

څرنګه چې هر سړی له خپل ګوټه نړۍ ته ګوري نو په کار ده چې د هر پنځګر د سبک راسپړنې پر مهال موږ هم ځان ته هغه معنوي چاپیریال جوړ کړو. دې موخې ته د لاسرسي لپاره د لاندې پوهو لاسنیوی اړین دی.

**د ادیانو پوهه:**

لیکوال یا شاعر که وغواړي که نه، له مذهبه اغېزمنېږي، مثلا د سمندرخان سمندر د شاعرۍ د لوست لپاره په کار ده چې موږ له اسلام سره اشنا و اوسو.

**تصوف او فلسفه:**

په کار ده چې موږ د لیکوال یا شاعر له فلسفې یا تصوفه خبر و اوسو، د بیلګې په توګه د حمزه شینواري د شاعرۍ پر مهال د هغه له تصوف سره اشنايي اړينه ده. همداسې د غني خان د شاعرۍ په لوست کې د وجود او تضاد فلسفې لوست اړین دی.

**عمومي تاریخ:**

د یوه شاعر یا لیکوال د سبک تر څېړنې مخکې ښايي چې د نوموړي له سیاسي او ټولنیز تاریخه خبر شو.

**ژبپوهنه:**

سبکپوه ته ښايي چې د هغه مهال چې پنځګر په کې ژوند کړی او د خپل مهال له ژبنیو مسایلو او ژبپوهنې خبر وي، ګنې سبک سم نه شي څېړلای؛ ځکه چې په سبک کې د غړونو، کلمو او جملو غوراوی هم راځي او سبکپوه که له ژبپوهنې سره اشنا نه وي، د شاعر یا لیکوال زیات غوره کړي غړونه، کلمې او جملې او

د غوراوي لاملونه يې نه شي په ګوته کولای. بل دا چې نثر په تېره شعر خو له ګرامري جوړښتونو او حقيقي معنی ګانو انحراف هم دی نو که له ژپوهنيزو جوړښتونو سره بلد نه يو، دا انحراف نه شو درک کولای. مثلا زيار صاحب اوږدو جملو او نويو کلمو ته ډېر تمايل لري، شاه سعود تفکر، خيال، وجدان او همدا راز هغه کلمې ډېر انتخابوي چې په خپله د انسان په اروا پورې تړاو لري.

**معاني او بيان:**

ځينې شاعران يا ليکوال تشبيهات کاروي، ځينې استعارې، ځينې سمبولونه او ځينې کنايې، نو د دې ټولو لپاره د بيان پوهه اړينه ده. همدا راز ځينې ليکوال اطناب او ځينې لنډون غوره کوي چې دا په فصاحت او بلاغت کې نقش لري او فصاحت او بلاغت د معاني څانګې دي.

**ادب تاريخ:**

ادب تاريخ له سبکپوهې سره نژدې اړيکې لري؛ ځکه سبکپوه ته بويه چې د ليکوال يا شاعر له مهال او ځای سره سره د اړوند مهال له ادبي بهيره خبر وي. (۳۷- ٦۷)

د دې بحث د پايلې په توګه په لنډيز سره ويلای شو چې د يو ليکوال يا شاعر د ځانګړي ادبي سبک د پيژندنې او پرې پوهيدنې لپاره سبک پيژندونکی ته په کار دي چې د شاعر يا ليکوال له شخصيت ټولنيزو، سياسي او فرهنګي حالاتو، هغه چاپيريال چې د اثر ليکوال يا شاعر په کې سترګې غړولې او رالوی شوی دی، مفکورې او داسې نورو ضروري شيانو ښه خبر او په دې اړه لازمه

پوهـه او معلومـات ولـري نـو د اثـر د تخليـق کوونکـي يـا ليکـوال پـر سـبک ژر او اسـانه پوهيـدای او خبريـدای شـوو.

## ۷-۳ سبک به څنګه معلوموو؟

الفت صاحب د سـبک پـه بـاره کـې ليکـي: (( د سـبک حقيقـي معنـی سره يـا سـپين زر ويلـي کـول او پـه قالـب کـې اچـول دي، مجازا د بيـان د اظهـار خـاص طـرز تـه سـبک وايـي)).

د سـبک يـو څـه مفصـل تعريـف دا رنګـه هـم شـوی دی:« د ژبـې د کارولـو خاصـه طريقـه چـې د يـوه ليکـوال، ادبي مکتـب، ادبي پېـر يـا صنـف ځانګړنـه وي، سـبک بللـی شـو.

د لغتونـو د انتخـاب طرز، د جملو د جوړښـت ډول، خيال انځورونه، وزن، د بديعـي صنايعـو د راوړلـو طريقـه او يـا بلـه هر ه ژبنـۍ ځانګړنه د يـو خـاص سـبک پـه پيژندنه کـې مرسـته را سره کـولای شي.

پـه اروپـا کـې لـه پخـوا وختونـو راهيسـې د سـبک د «ارسـطويي» او «افلاطـوني» معنـی تـر منځ توپيـر شـوی دی. سـبک پـه افلاطـوني مفهـوم يـو داسـې خصوصيـت دی چـې خپلـو مطالبـو تـه د اظهـار د مناسـبې طريقـې لـه موندلـو پيـدا کيـږي، پـه دې حسـاب سـبک يـو مثبـت صفـت دی چـې ځينـې ليکـوال يـې لـري، ځينـې يـې نـه لـري خـو پـه ارسـطويي تعبيـر کـې هـر ليکـوال د سـبک څښـتن دی، دلتـه سـبک مثبـت يـا منفـي صفـت نـه دی بلکـې داسـې صفـت دی چـې د يـو کـس ليکنـې د بـل لـه ليکنـو بېلـوي.

اراښـاد محمدصديـق روهـي پـه خپـل کتـاب (ادبي څيـړني) کـې

د سبک په اړه لیکي:

(( ایم ارنولډ د اپلاتون مفکوره، هلته چې د مشهور شاعر ورډز ورث د سبک په باب غربږي، داسې توضیح کوي: داسې ښکاري لکه چې طبیعت پخپله ... د ده له لاسه قلم اخلي او د هغه لپاره پخپل ساده، لطیف او موثر قوت لیکنه کوي، همدغه د اپلاتون نظریه ده چې وروستنیو لیکوالو د هغه په اساس ځینې اصطلاحات؛ لکه د «سبک نشتوالی» او داسې نور اختراع کړي دي)). (۳۱-۹۰)

استاد غضنفر د سبک په اړه (د نثر لیکلو هنر ) نومې اثر کې لیکي :

په یوه سبک کې هغه څه چې یو لوستونکی درک کوي، یواز ې لیکل شوې مفکوره نه ده بلکې ځینې نورې ضمني اشارې ورسره شته، همدا ضمني اشارې دي چې فکرونو ته رنګ ورکوي او د رنګونو توپیر او ترتیب پخپل ذات کې ډیر اهمیت لري. دلته زما مقصد له رنګ څخه د لیکونکي احساسات او ذهني حالات دي چې د یوه فکر د افادې پر ډول اغیزه کوي. دغه ضمني اشارې د استاد روهي په قول فکرونو ته رنګ ورکوي.

په یوه اثر کې د سبک اصلي عناصر په لاندې جملو کې:

«هغه مړ شو.»

«هغه وفات شو.»

«هغه له فاني دنیا رخصت واخیست.»

په درې واړو جملو کې مفهوم یو دی، خو احساسات بیل دي.

د لومړۍ جملې ویونکی په عاطفي لحاظ بې طرفه دی، د دویمې جملې ویونکی هم بې طرفه دی خو څرنګه چې د نن سبا پښتانه ممکن د «مړ شو» په نسبت« وفات شو» د بیان محترمانه انداز وګڼي نو ویلی شو چې متوفی ته تر لومړي کس، دویم کس په درنه سترګه کتلي دي، د درېیمې جملې ویونکی د احساساتو په لحاظ بې طرفه نه دی، دی د متوفی په مړینه غمجن ښکاري.

استاد غضنفر زیاتوي: موږ کولای شو چې د یوه لیکوال سبک د مقایسې له لارې معلوم کړو، دی لیکي:

دا لاندې جمله په سبکي لحاظ شنډه ده.

کابل د افغانستان مرکز دی.

دې جملې ته د سبک له جهته ځکه شنډه وایو چې په خورا معمولي او عام انداز بیان شوې او د ویونکي د خپلو احساساتو او تمایلاتو نښه په کې نه وینو. اوس موږ غواړو د دې جملې سبک معلوم کړو چې:

کابل د افغانستان زړه دی.

همدا جمله له پاسنۍ جملې سره پرتله کوو او طرز یې معلوموو، موږ په دویمه جمله کې مثبت احساسات وینو، ځکه ویونکي افغانستان یو ژوندی موجود ګڼلی او کابل یې د هغه زړه بللی دی. که یو کس ووایي چې:

کابل د افغانستان پلازمېنه ده.

دلته هم سبک له ورایه ځان راښيي او د پښتو له سوچه کلمو سره د ویونکي دلچسپي په کې وینو. د یوې لیکنې د سبک پېژندنه

د هغـې د بيابيـا لوسـتلو او د هغـې روح تـه د ننوتلـو لـه لارې ممکنـه ده، پـه هـر اثـر کـې سـبک يـو پـټ راز دی چـې د ليکنـې د مختلفـو تمايلاتـو، ځانگړنـو او انحرافونـو د پرتلـه کولـو له لارې ور رسـيدلی شـو. (۳۱-۴۰)

### ۳-۸ د پښتو معاصره شاعري او سبک يې:

د پښـتو ژبـې د معـاصرې دورې د ادب د پيـل پـه هکلـه زياتـې نظريـې پـه کتابونـو او ليکنـو کـې راغلـې دي. د دې موضـوع پـه ارتباط علامـه حبيبـي خپلـه رايـه داسـې څرگنـده کـړې ده:

(( پـه افغانسـتان کـې هـم پښـتو ادب لـه پنځوسـو کالـو څخـه پـر دې خـوا روان شـوی دی، ملاعبدالباقـي افغـان کندهـاری کاکـړ خيـل تبيـن الوجبـات پـه همدغـه رنگـه د امیـر عبدالرحمـن خـان پـه عصـر کـې شروع کـړ او د سراج الملـه الديـن امیـر حبيـب اللـه خـان پـه نامـه يـې ختـم کـړ، دی وايـي:

د ضيا په نور روښان وم، مقتبس شوم له سراجه
را اخيستی مي قلم دی، بېلوم دين له رواجه

د پورتنـي شعر پـه اسـتناد ويـلای شـو چـې د پښـتو ژبـې د شـعر مضمـون يـو څـه بـدل شـوی او د سـوژې پـه لحـاظ يـې د معـاصر شـعر څـرک بلـلای شـو. دا شـعر د قالـب پـه لحـاظ همغـه زوړ شـعر دی مگر د مضمـون لـه پلـوه د معاصريت پـه لور پـه داسـې باريکـه لار تللی دی چـې د پـل پسـې اخيسـتل او پيـدا کـول يـې يـو څـه گرانـه خبره ده، البتـه گرانښـت يـې هـم د (ديـن او رواج) د کلمـو پـه توضيـح او تشريـح

کې نغښتې دي، که چیرې نوموړی شعر ته ځیر شو نو د نوي والي نښې په کې موندلی شو. د امیر حبیب الله خان د سلطنت په دوره کې د سراج الاخبار افغانستان د جریدې لومړی ګڼه په کال ۱۳۰٦ کې د مولوي عبدالروف کندهاري په مدیریت په (۳٦) مخونو کې له چاپه راوتلې مګر له یوې ګڼې څخه زیاته خپره شوې نه ده، دا په دې وجه چې په دغه جریده کې د وطن پالونکو ځوانانو له خوا داسې مضامین نشر شول چې بهرني او خارجي ارتجاع د هغو د زغملو توان ونه شو درلودلی، جریده د انګریز په امر د داخلي سر کار په اجراء اطاعت او نورو شیطانانو په لمسون بنده شوه. (۳۰-۳۸)

د سراج الاخبار د دوهم ځل پیل او په هغه کې د پښتو ژبې خپرونې، په یقین سره ویلی شو چې د مضمون په لحاظ د پښتو ژبې معاصر شعر له همدې وخته شروع کیږي. د شعر قالب زوړ دی مګر مضمون یې بالکل بدل شوی دی، د سراج الاخبار د حمل د میاشتې د (۲٦) نیټې په ګڼه کې د مولوي صالح محمد خان یو شعر راغلی دی چې د مطلع یو څو بیتونه یې په لاندې ډول لولو:

ته کره د مځکې ګوره
نظر وکه زما وروره
دنیا ده پر شور راغلې
توریدلې قهریدلې
لوی دول چې په دنیا کې
په یورپ کې په اشیا کې

ټول په جنگ سره اخته دي
په سرو وينو اغشته دي
انگريزان په وير اخته دي
ډير مغموم خورا خپه دي

په سراج الاخبار کې لومړنی پښتو چاپ شوی شعر چې نوې سوژه لري او د قالب په لحاظ زوړ دی، د هغه وخت د شعر یوه ټيپيکه بيلگه ده:

دا څه عجب دوران دی
چې راغلې پر افغان دی
رنگارنگه ترقی دی
څه عجيب محبوب عنوان دی
ته سراج اخبار ته گوره
چې د ملک په تن کې ځان دی
تې مدير صاحب ته گوره
محمود بيگ طرزی افغان دی
ښه شرينه پښتو واوره
چې مضمون په ډير اسان دی

پورتنی شعر چې د دوه یزې په قالب کې ويلې شوی دی، د سوژې له پلوه د نوي ارمان او پيغام لرونکی بريښي. دا هغه وخت دی چې د ملي دولت جوړيدو په خاطر هڅو، غورځو پرځو په شعر کې پوره انعکاس موندلی دی. ( سياسي، فلسفي، ملي يووالی) مفاهيم په پخواني شعر کې ځای نه لري. له خوشال خان خټک

نه پرته که یو نیم دیوان کې داسې مفاهیم د افادې لپاره راوړل شوي یا کارول شوی وي، هغه به ډېره مبتدي جوله لري خو په نوي عصر کې د شعر مضمون نوي مسایل او نوې پدیدې توضیح کوي، خپل وطنوال او ځوانان له درانه خوبه راویښوي، هغو ته د عبرت درس ورکوي، د منځنۍ دورې د ادبیاتو په څیر د زیات تخیل نه کار نه اخلي. د رحمان بابا په شان اسماني یا لاهوتي محتوا نه بیانوي، نه داسې سکون غواړي چې هر څه ورته په تیاره ور ورسیږي او نه د حمیدبابا غوندې په دومره نرېو لارو ځي چې اسمان ته د شعر زینې ږدي او یا هم د کاظم خان شیدا غوندې چې د حمید مرید دی او د هغه د لارې پیروي یې کړې ده چې شعر د شعر لپاره وایي یا په بله وینا (هنر د هنر لپاره ) استخداموي، بلکې په دې کې بالکل بدلون پیښ شوی دی نو ځکه ورباندې د نوي یا معاصر شعر حکم کولی شو. (۳۰ – ۴۱)

په دې دوره کې که هر لور ته سترګې وغړوو بیا مو هم د امید سترګې د سراج الاخبار جریدې ته اوړي. د نوي فکر او نوې محتوا لرونکې جریده همدا بللی شو. د معاصر شعر بیلګې لومړی ځل په سراج الاخبار کې وینو. په زاړه شعري قالب کې د نوو مفکورو وړاندې کوونکي او د ازادۍ، ټولنیزې ترقۍ او د اجتماعي عدالت غوښتونکي شاعران لکه: مولوي صالح محمد خان، غلام محی الدین افغان، عبدالهادي خان داوي، عبدالعلي مستغني، مولوي عبدالواسع، ملامحمد افغان نویس او داسې نور نومونه د یادولو وړ دي.

په شعر کې د نوي فکر اوښتون په لړ کې هغه مثنوي ډوله شعر مطالعه کولی شو چې د (بلبل گرفتار) تر سرلیک لاندې ویل شوی دی. د دې شعر اصلي ویونکی عبدالهادي داوي او د هغه وخت پریشان دی چې بیا مولوی صالح محمد خان په پوره مهارت ژباړلی دی.

د نوموړي شعر له سرلیک څخه معلومیږي چې د منځنۍ دورې له شعر سره د مضمون له پلوه یو څرگند توپیر لري خو د قالب په لحاظ شاعر په کلاسیکه لار تللی دی:

یو سحر زما تر غوږ سوه له بلبله
په قفس کې یې ژړل دا یې ویله
چې بندي سوم د صیاد له سخته دله
ولې نه پوښتي څوک حال زما یو له بله
ولې نسته بې قضا نه کاروبار زما
ولې حبس ابدي راغی په وار زما...

په پای کې داسې وایي :

سر مې بایلود په هـــــوا د ازادۍ
شکر شکر سوم فدا د ازادۍ

په دې لړ کې د تکړه شاعر غلام محي الدین افغان دا په زړه پورې شعر چې بالکل له کلاسیک شعر سره د موضوع له پلوه خپله پوله او برید ټاکي، د ژور قضاوت له مخې موږ د شعر د موضوع معاصریت او نویوالی په غوڅه توگه د دې نومیالي مبارز

شاعر په شعرونو کې کتلی شو:

زړه زما ډک دی له مینې د وطن
خپل وطن ما ته عزیز دی تر خپل تن
هر یو گل مې د وطن پر ما ډیر گران دی
تر کشمیره، تر پاریسه تر لندن
شیرین ځان مې په شیرین وطن فدا دی
زه خو دا رنگه فرهاد یمه کوهکن...
مدرسې او مکتبونه اوس جاري دي
د هر علم د هر کسب، د هر فن
استغنا مو سوه له گروپه د جرمن
هم اخبار مو شایع کیږي په وطن کې
ډیر مرغوب لکه محبوب ښه مزین

نوی او تازه نفس، په نوو قالبونو کې په غوټو ساه باسي، سره له دې چې په لیکلي ډول د دې زمانې په شعرونو کې د نوي قالب لرونکي شعر ښه بیلگه زموږ په لاس کې نشته، مگر په شفاهي ادب کې یې نسبت لیکني ادب ته بیلگې څرگندې دي.

په دې ارتباط پوهاند حبیبي داسې ویلي دي:

(( ... د استقلال تر بیا موندلو وروسته، موږ ډیر شاعران لرو چې په فکري لحاظ نوی، او د فورم له خوا ازاد دي، مگر په دغه ډله کې مرحوم حاجي ولي محمد مخلص د خاص امتیاز خاوند دی. دې سړي په کندهار کې د پښتو شعر نوی مکتب پرانیسته، ډیر اصلاحي او انتقادي اشعار یې وویل، خو ده ځان د پخواني

مکتب پـه قیـد او وزن پـوري مقیـد نـه کـړ، خپـل افـکار یـې پـه داسـې قالبـو کـې واچـول چـې د عوامـي ادب لـه اوزانـو څخـه اقتبـاس شـوي وو)).

دا ډول ازاد شـعرونه یـا پارکـي لـه (۱۳۱۱) کال څخـه را پـه دې خـوا زیـات د طلـوع افغـان پـه نشریـه کـې لوسـتلی شـو چـې هـم پـه فکـري لحـاظ او هـم د قالـب لـه پلـوه د پاملرنــې وړ دي.

دې شـعر زوړ قالـب مـات کـړی او ځـای یـې د معـاصر یـا ازاد قالـب لرونکـو شـعرونو نیولـی دی. تـر دې وړانـدې شـعري قالبونـه هغه پخـواني دي، داسـې کـوم بدلـون او نوښـت پـه کـې نشـته چـې حسـاب دی پـرې وشـي. یـوه نیمـه بیلگـه پـه ډیـر مشـکل سره پیـدا کولـی شـو چـې د معـاصر شـعر پـه لار بـه یـې قـدم ایښـی وي، مثـلا لانـدې شـعر د مضمـون او قالـب دواړو لـه پلـوه معـاصر بریښـي:

کښېنه له خوابه

پاڅه پښتونه

پام کړه چې نشي

ته سرنگونه، ولاړ سه گوره

ای زما وروره

مشي نسکوره، ووزه له کوره

وکړه کتنه ،ښور ما ښور ته د عالم

پورتنـی شـعر د ((پښـتو تـه د پښـتو نـوی شـعر)) تر سرلیـک لاندې پـه طلـوع افغـان کـې راغلـی دی. دغـه شـعر لکه څنگـه چې لـه عنوان څخـه یـې معلومیـږي، هـم د مضمـون او هـم د قالـب لـه پلـوه د وخت

په تناسب بیخي معاصر او نوی دي چې د نوی یا معاصر شعر اصول او قاعدې پرې تطبیقیدای شي. (۳۰-۴۳)

ځینې انسانان د نظر پراخې لري او ځینې د بدبینیو او تنګ نظریو په رنځورتیا اخته وي له ځان او له خپلې ګټې پرته نور وطن په سترګو نهویني، دغه پراخ نظر د پښتو ژبې تکړه بلبل الفت صاحب په خپله شاعرانه انداز کې داسې بیانوي:

ورور دې خواري او مزدروي کوي له پلاره سره
تا په مستي کې امیل وشکاوه له یاره سره
هلته د ښځو په سر خاورې دي د ناز میرمنې
ستا سروکار دی تمام عمر له سینګاره سره
په سر او مال چې د وطن خدمت ته نه دی تیار
مه ګوره هیڅ د هغو خلقو له ریباره سره
ور سره مه خانده! چې خاندي په خوارانو باندې
د ناز خندا کړه د وطن له خدمتګاره سره

په دې شعر کې چې توصیوي مضمون لري، شاعر ځینې کلتوري پدیدې او ارزښتونه تشریح کړي دي او هم منځنۍ طبقې ته اخلاقي درس ورکوي او په مروجو کلماتو او ګړنو خپل هدف بیانوي. د ده په شعري سبک کې رنګارنګ مضامین لوستلی شو. لکه: په ټولنه کې د ازادۍ، ډیموکراسي او وروسته پاتې فرهنګي پدیدو یادونه د شاعر د نړۍ لید پراخولی، تعصب نه لرل، ورولي، صلح او نړۍوالي دوستي ته په درنه سترګه کتل او نور مطالعه کولی شو. (۳۰-۱۰۳)

د پورته څرګندونو په نتیجه کې ویلای شو چې د معاصرې دورې د سبکونو عمده مضمون ازادي، استقلال غوښتنه، وطن دوستي، د نوي او مترقي فرهنګ دودول او داسې نور مترقي مسائل جوړ وي.

د دې دورې شاعرانو او لیکوالو د معاصر سیاسي او ادبي میتود په پیروي خپلې اندیښنې، غوښتنې، ګډ ارمانونه، پیغامونه، انتقادونه او پیشنهادونه په شفاهي او تحریري ډول د شعر، نظم، نثر او نور کنایوي ادبي ډوله لیکنو په بڼه د خپلو ګاونډیو هیوادونو او نړۍ د خلکو خبرولو لپاره وړاندې کړي دي.

د دې دورې په اشعارو کې تاکید په دې شوی چې خلک اتفاق او اتحاد ته را وبولي او همدارنګه د ظالم او استبدادي نظام په مقابل کې ودریږي. د دې دورې اشعار له خپل وخت، چاپیریال او زمان څخه ډیر سخت متاثره شوي دي. نوي فکرونه، نوي خیالونه او نوي هیلې له خپلو ټوکیدونکو امیدونو سره په نوي انداز په سلیس او روانه ژبه د خلکو د خبریدا لپاره بیان شوي دي او د د ې دورې شعر د کلاسیکې دورې په نسبت نوي مسأیل خلکو ته وړاندې کوي.

## ۴- د عبدالرحمن پژواک د کلام سبکي ځانګړنې

### ۱-۴ د عبدالرحمن پژواک د شعري سبک ځانګړنې:

وايي چې لومړی شعر حضرت ادم (ع) په «سرياني» ژبه کې د هابيل د مرثيې په لړ کې ويلې دی. د محمد هوتک د «پټې خزانې» په حواله زموږ د پښتو لومړنی شعر ۱۳۹ ه کال کې ليکل شوی دی.

په فرهنګ عميد کې شعر داسې مانا شوی دی.

(( شعر عربي کلمه ده د «ع» په زور د انسان يا ځاروي د بدن ويښته، او د «ش» په زير هر هغه څه ته وايي چې د انسان له تخيل زيږيدلی وي.))

عربانو د شعر د تعريف په هکله ويلي: (( شعر په لغت کې پوهې او خبريدو ته وايي او په اصطلاح کې هر بليغ کلام، سپيڅلي او خوندورې وينا ته چې وزن او قافيه ولري شعر وايي.)) (۴۱-۱٦)

د پښتو ادبياتو د اوسنۍ دورې ستر مفکر، ريالست شاعر او ليکوال ګل پاچا الفت د شعر په هکله په خپلو بېلابېلو اثارو کې

ځینې څرګندونې کړې دي. هغه په خپل مشهور اثر (( غوره نثرونه )) کې شعر ته د عواطفو او احساساتو مجموعه ویلې ده او په اړه یې داسې لیکي:

(( شعر له زړه نه الهام اخلي او له زړه سره کار لري .... عواطف او احساسات چې د شاعر له زړه را نقل شي، شعر ترې جوړ شي او په زړونو اثر کوي)). (۳-۵۶)

د عظیم قلم څښتن او ښه پوخ لیکوال ارواښاد اکاډمیسن محمد صدیق روهي د شعر او شاعر په اړه وايي: (( د اهنګ لرونکو عبارتونو په واسطه د واقعیت تخیلي او بیا ځلې انځورولو ته شعر ویل کیږي، شاعر غیر عادي خبرې کوي چې د محاورې له سویې پورته دي. هغه په دغه غیر عادي او ساحرانه خبرو زموږ ذهن تسخیروي .... نه پوهیږو چې دی څه وايي او که یې نه وي ښکلی یې وايي)).

د ایران د تکړه څیړونکی او کره کتونکی محمد رضا شفیعي کدکني په اثارو کې په دې اړه لولو:

(( شعر په ژبه کې رامنځته کېدونکې پیښه ده، په حقیقت کې شاعر د شعر په مرسته په ژبه کې داسې کار کوي چې لوستونکی د ده د شعر او ورځنۍ ژبې تر منځ توپیر احساسوي)). (۲٦ – ۱۴)

د پښتونخوا ځوان او تکړه لیکوال په جرس مجله کې د شعر په اړه لیکي: (( انسان چې عموما کومه تجربه وړاندې کوي، که هغه جذباتي انداز ولري نو هغه شعر وي او که عقلي او منطقي

طرز کې وي نو هغه به نثر وي، یعنې یو کې تجربه جذباتي او په بل کې عقلي انداز کې پیش کړای شوې وي، ځکه خو اول الذکر تجربه لوستونکو د پاره د مسرت او انسباط باعث ګرځي. لکه چې ښرګنده ده اریایي قومونو ټول قدیم کتابونه او اثار منظوم دي، دغسې د هند د اریانو قصې او روایات لکه مهابهارت او رامائن او نور- اکثر علوم لکه طب، نجوم، ریاضي او نور اکثر دیني علمي او ادبي کتابونه یې هم په نظم کې لیکلي شوي دي، دغسې نظم په ویدي علومو کې دومره اهمیت لرلو چې هر عالم دا لازمه ګڼلې وه چې دا علم زده کړي چې په دې وجه اریایي منظومات په سنسګریت، اوستا او پهلوي ژبو کې د هجا په حساب دي)). (۲۵ -٦۵)

همدارنګه اوس مهال د شعر د تعریف، تعبیر، رسالت او هدف په باب نظریات د پخوا په شان بیلابیل دي؛ طبري په خپل یوه اثر کې د شعر څلور اړین توکي داسې په ګوته کوي.

۱- مفکوره
۲- احساس
۳- تخیل
۴- اهنګ
(۴۱ – ۲۰)

**۱- مفکوره :**

په شعر کې له مفکورې څخه د شعر ملتزم والی دی، هر

شعر بايد له ځانه سره يو قضاوت او يو پيغام ولري او په هر شعر کې بايد يوه مفکوره نغښتې وي، د(بايد) کلمه له منځه وباسو .
لنډه دا چې په هر شعر کې يو ډول مفکوره شته خو تش د مفکورې شته والی د شعريت دليل نه ګڼل کيږي، مفکوره بايد په شاعرانه ډول وځليږي.

## ۲- احساس:

په شعر کې احساس او عاطفه ضروري شرط دی، که شاعر درد، هيله، احساس، انديښنه، قهر او تاثيرونه لري او دغه احساس په شعر کې ځای نه کړای شي نو لوستونکي او اوريدونکي له داسې شعر څخه خوند نه شي اخيستلای او که شاعر وتوانيږي چې دغه کار تر سره کړ ي يعنې خپل غم، وحشت، کرکه، قهر، حسرت، مينه او نور عواطف لوستونکو يا اوريدونکو ته وليږدوي نو ويلای شو چې يو هنري کار تر سره شوی دی.

## ۳- تخيل:

تخيل په مختلفو ويناوو تعريف شوی دی؛ خو که په ساده ژبه ووايو نو تخيل د داسې ذهني انځورونو يا مفهومونو د جوړولو عمليه ده چې په واقعيت کې موجود نه وي، په تخيل کې د مشابهتونو له لارې د شيانو او پيښو پرتلنه ډير اهميت لري. په شاعرانه تخيل کې د داسې شيانو تر منځ اړيکي هم ټينګيږي چې عقلي او منطقي نه ښکاري، لکه: د عقل لاس، د شفق سور

گریـوان، د افتـاب کمنـد، سـترېي ارزوگانـېي، متحـرک جسـدونه او داسـې نـور....

**۴- وزن:**

کـه څـه هـم وزن د عـربي او پـارسي شـعرونو لپـاره اسـتعمالیږي او د عروضـو د علـم مقولـه ده، خـو پـه دغـو ژبـو کـې لنـډه ( هجـا – سـلیبل) او اوږده څپـه عمـده رول لـري، پښـتو شـعر څپـه ییـز خجیـز (سـیلابوتنیک) دی او د اروپایـي ژبـو لـه اهنـګ سره نږدیوالـی لـري. پـه سـلاوي او جرمنـي ژبـو کـې خـج او پـه فرانسـوي کـې د هجـا برابروالـی د اهنـګ اسـاس ګڼـل کیـږي، لـه دې څخـه داسـې اټـکل کیـږي چـې وزن او اهنـګ سره مـترادف نـه دي.

شـعر د انسـانانو تـر ټولـو پخوانـۍ هـنري پدیـده ده چـې لومـړی نښـې یـې هغـو سـندرو او اوازونـو تـه رسـیږي چـې لومړنیـو انسـانانو به د کار پـه لـړ کـې لـه هغـو څخـه اسـتفاده کولـه .

دا چـې شـعر د هماغـه ملت عقلـي ژونـد ښـه څرګنـدوي، اخلاق، دودونـه، دیانـت، عقلیـت او نـوري ټولـې ځانګړنـې په کې پرتـې دي نو پـه شـعر کـې د ملتونـو اجتماعـي نفس، روحـي سـاختمان او فکـري بنسـټ لکـه هنـداره ښـکاري. د بیلګـې پـه توګـه د پښـتنو پـه اشـعارو کـې د پښـتونولۍ ښلابلـې ښـیګڼې پرتـې دي چـې د پښـتنو طبیعي او اجتماعـي چاپیریـال یـو صحیـح ښـکارندوی دی. د پښـتنو شـعر هـم لکـه د دوی ژبـه د حقیقـي عقلیـت اسـتازی ګڼـل کیـږي، هغـه شـعري نـارې، غږونـه او بدلـې چـې د پښـتنو لـه کومـو (حنجـرو) څخه

راوتـلي، د دوی د روحیاتـو صحیـح او روښـانه مظاهـر دي. شـاعران د ملـت پـه وګـړو، کورنیـو او ټولنـو کـې ګـډ وګـړي دي، هغـه احسـاس چـې د ملـت پـه زړه کـې غورځنګونـه وهـي، د شـاعر روح هـم کـټ مـټ د هغـو تـر اغیـز لانـدې راځـي، ځکـه خـو مـوږ شـاعران د ملتونـو د اخلاقـو، افـکارو او روحیاتـو ښـه ژباړونکـي بللـی شـو.

ښـاغلی عبدالرحمـن پـژواک پـه پښـتو او دري شـاعرۍ کـې ځانګـړې ځـای او مقـام لـري. نومـوړي د معـاصرې دورې لـه کـړاوه ډک ژونـد ډېـر پيغامونـه خپلـو دردمنـو خلکـو تـه وړانـدې کـړي دي. د ده پـه شـعرونو کـې د معـاصرې دورې د شـعر دواړه اړخونـه، هـم ازاد شـعرونه او هـم ديـواني شـعرونه ليـدل کيـږي. دی پـه خپلـه د شـعر پـه هکلـه داسـې نظـر لـري: (( هـر شـاعر لـره ځانتـه يـو جهـان دی چـې يـوازې دی يـې جهـان دی، شـعر راز دی، پـه راز بانـدې خـبرې کـول پـه زړه بانـدې تجـاوز او پـه روح بانـدې تيـری دی. زه پـه شـعر بانـدې تقريـظ او انتقـاد ګنـاه ګڼـم)). (۲۱ – ۱۱)

البتـه پـژواک صاحـب نيـک انتقـاد منـي خـو هغـه انتقادونـه چـې د کينـې او يـا د کـوم بـل غـرض لپـاره وي، لـه هغـه سره خپـل مخالفت ښرګندوي.

نـو پـه دې توګـه اروابـښاد پـژواک د نويـو غوښـتنو پـر بنسـټ نـوي قالبونـه جـوړوي او د دغـو دواړو خـواوو د پـوره تناسـب پـه صـورت کـې خپـل شـعر د (شـعريت) تـر بريـده رسـوي او پـه دې برخـه کـې يـې زيـات شـهکارونه پريښـي دي چـې لـه هغـې جملـې څخـه يـوه هـم کليمـه داره روپـۍ ده.

کلیمـه داره روپـۍ، هغـه خـوږه ډرامـه ده چـې پـه هغـه کـې د ښـکېلاکګرو پـه وړانـدې د افغانانـو د مـلي پاڅـون، جهـاد او ولـسي مقاومـت بیلګـه تمثیـل او انځـور شـوې ده.

عبدالغفـور لیـوال د کلمـه داره روپـۍ پـه هکلـه لیکـي: (( لومړۍ منظومـه ګوتـې اروانښـاد عبدالرحمـن پـژواک پـه ۱۳۳۷ ه ش کـې خپـره کـړه چـې قالـب یـې ازاد دی او «کلمـه داره روپـۍ» نومیـږي، حـماسي رنـګ لـري، ژبنـۍ ښـکلا یـې تاریخـي او ډراماتیـک ارزښـت لـري)).

د حماسـو پـه هکلـه عبدالغفور لیـوال لیکـي: (( حماسـه د ادبیاتو پـه موضوعـي یـا معنـوي ډولونـو کـې یـو ډول دي چـې د یـو ملـت، قـوم او یـو شـخص د میړانـې او تـورې کیسـې او جنګـي کارنامـې پـه حکایتـي ډول بیانـوي .... کـه پـه حماسـه کـې یـو اتـل یـو شـخص، یـوه قبیلـه او یـا یـو ملـت وي، امـا شرط پـه کـې دا دی چـې د شـخص، قبیلـې، قـوم او ملـت کارنامـې، تـورې او میړانـې بـه یـې پـه داسـتاني شـکل بیـان کـړې وي)). (۴۵ – ۱)

د ازاد نظـم پـه اړه ښـاغلی پوهانـد مجـاور احمـد زیـار، پـه خپـل کتـاب پښـتو بدلمیخ(پښـتو شـعر څنګـه جوړیـږي؟) کـې داسـې لیکـي: (( دا چـې وایـو، پښـتو ازاد شـعر د یـو شـمیر نـورو ختیـزو ژبـو پـر خـلاف د اروپایـي ازاد شـعر پیښـې یـا کاپـي نه، بلکـې د خپـل ازاد (و) ګـړني او لرغـوني (فولکلوریـک او کلاسـیک ) هغـه بشـپړتیایي بڼـه بلـل کیـږي، غـوره لاسـوندیې دا دی چـې اروپایـي ازاد شـعر یـوازې بې قافیـه نـه، بلکـې لـه هـر راز شـعري قانـون یـا قالـب څخـه پخشـو دی؛

نـه هغـه پخوانـی ټاکلـی مـسره ييـز دود سـمبالوي نـه هغـه ټـاکلي ژانرونـه او څومـره والـی يـا کـچ و ميـچ او نـه هغـه کلاسـيک تـول و تـال يـا ريتـم پـه ټولـه مانـا رانغاړي، تـر ډيـره زمـوږ د «سـپين شـعر» پـه څيـر وزن و قافيـه دواړه نـه لـري او پـه دې توګـه يـې لـه «منثـور» هغـه سره پولـه او بريـد زياتـره د «موزيـکال » اهنـګ لـه مخـې نومـول کيـږي.
د پښـتونخوا پښـتانه بيـا د اردو ژبـې پـه پښـتو ازاد شـعر تـه «مـبرا» او سـپين تـه «معـري » وايـي)). (۳۴-۳۱۶)

د ازاد نظـم پـه اړه بحثونـه اسـتاد لعـل پاچـا ازمـون په خپـل کتاب (د پښـتو ازاد نظـم) کـې داسـې پـه لنډيـز سره راوړي: (( ازاد نظـم پښـتو تـه د ګـړني ادب پـر وره راننوتـی دی، پرمختـګ يـې موندلـی دی او د ليکنـي ادب پـه پاټـو کـې يـې هـم ځـای را څرګنـد کـړی دی.
پـه بشـپړ او نيمـه ازاد نظـم پيژنـدل شـو ی دی، مـوږ بشـپړ ازاد نظـم هغـه نظـم تـه وايـو چـې هغـه د قافيـې او مقيـد وزن لـه بنديـزه خـلاص وي.
نيمـه ازاد نظـم هغـه نظـم تـه وايـي چـې هغـه مقيـد وزن ولـري او کلـه ناکلـه قافيـه او سـجع هـم پـالي، د مسرو څپـې يـې سره برابروي.
د ازاد نظـم لويـه ښـيګڼه دا ده چـې پـه هغـه کې موضوع تسلسـل ولـري او لفظـي او معنـو ي ښـېګڼې پـه کـې پـه سـمه توګـه وړانـدې شـوې وي)) . (۱-۳)

د دې لپـاره چـې پـه ازاد نظـم مـو رڼـا واچولـه، اوس بـه ډرامـه هـم لـږ ه روښـانه کـړو. ډرامـه لکـه د نـورو هـنري داسـتاني ادبياتـو پـه څيـر د ليکلـو ځانګـړې چـوکاټ او د جوړښـت اسـاسي توکـي لـري.

ډرامه هم د ناول او لنډې کيسې په شان موضوع، کيسه، پلاټ، کرکټرونه، مکالمې او نور ضروري توکي لري.

د ډرامې په هکله په کابل مجله کې داسې بحث شوی چې په لنډه توګه يې را اخلو:

(( ډرامه د نثري ژانرونو په څير تر هر څه مخکې موضوع ته اړتيا لري، داسې موضوع ته چې د خلکو له ژوند سره نه بيليدونکي اړيکي ولري، د موضوع لپاره هيڅ ډول قيد نه شته. په ډرامه کې هر ډول موضوعات ځاييدای شي خو د ډرامې ليکوال ته لازمه ده چې د نوې موضوع لپاره زيار وباسي. يوه جالبه، ښکلې او په زړه پورې موضوع دې پيدا او انتخاب کړي، که چيرې موضوع جالبه، ښکلې، په زړه پورې او کاميابه وي، د خلکو د خوښې او دلچسپۍ وړ به وګرځي او که چيرې موضوع يې ښکلې او جالبه نه وي؛ نو د نندارچيانو د خپګان باعث ګرځي.

د ډرامې بل مهم جز کيسه ده، هره ډرامه، ناول او داستان يوه کيسه لري، همدارنګه بې له کيسې څخه د ډرامې جوړښت هم امکان نه لري.

همدا شان د ډرامې ليکوال مجبور او مکلف دی چې د خپلې ډرامې لپاره په پيل کې يو پلان يا يو چوکاټ جوړ کړي چې دغه چوکاټ د ډرامې پوهان پلاټ بولي. د ډرامې پلاټ بايد دومره ښکلی، جذابه او زړه راښکونکی وي چې اوريدونکي او نندارچيان هره شيبه د ځان خوا ته راکاږي.

د ډرامې بل مهم عنصر کرکټر دی چې ډرامه پر مخ بيايي،

دروني او بيروني کشمکشونه او ټکرونه ایجادوي او بالاخره له همدې کشمکشونو او ټکرونو نه پيښې منځ ته راځي چې د ډرامې د دوام سبب ګرځي.

کرکټر په درې ډوله دي:

۱- اصلي کرکټر

۲- فرعي کرکټر

۳- مرستندوی کرکټر

د ډرامې د جوړښت بله مهمه برخه مکالمې ډيالوګ يا خبرې اترې دي. مکالمې د ډرامې په جوړښت کې مهم او ضروري رول لري، ډرامه کې د مختلفو اوصافو د ادا کولو او ابلاغ لپاره چې کوم کسان په ژوندۍ بڼه کار کوي، هغه د ډرامې کردارونه بلل کيږي او دغه کردارونه چې د مقصد د ابلاغ او د کيسې د حرکت لپاره کومې خبرې اترې په خپلو منځو کې کوي، هغې ته مکالمې وايي.

د ډرامې په جوړښت کې چې ډير او مهم رول لوبوي، هغه درې وحتونه دي، لکه څنګه چې د هنري ادبياتو نور ډولونه د جوړښت ځانګړې توکي لري، همدا شان درې وحتونه هم د ډرامې په جوړښت کې اساسي او مهم توکي ګڼل شوي دي. د ارسطو له نظره چې په خپل کتاب بوطيقا کې يې څرګند کړی دی، د ډرامې وحتونه درې دي: د زمان وخت، د مکان وحدت او د تاثير وحدت. ارسطو په دغو وحدتونو کې په وحدت عمل باندې ډير تاکيد او ټينګار کړی دی او د مکان وحدت او د زمان د وحدت

په اړه يې څه نه دي ويلي.

په ډرامه کې بله مهمه برخه د ډرامې ژبه ده، کومه ژبه چې په ډرامه کې کارول کيږي، بايد ساده، عام فهمه او د عامو خلکو، دليدونکو او اوريدونکو د فهم او درک وړ وي، ورځنۍ خبرې بايد کټ مټ د ډرامې ژبه نه وي.

د ډرامې په ژبه کې بايد اصطلاحات، متلونه او نورې رنګينۍ موجود وي. د ډرامې ژبه په حقيقت کې د کرکټرونو معرفي کوونکي وي او هغه حال او احوال ښکاره کوي، که چيرې ډرامه کوميډي وي، خبرې بايد په کوميډيکو کلماتو ولاړې وي او اکټور هم په خپلو حرکتونو او ژيستونو کې ډيالوګ سره ورته حالت ولري.

ډيالوګ: د دوو تنو تر منځ خبرو ته ډيالوګ وايي. ډيالوګ د کرکټرونو حالت بيانوي، د ډرامې پېښو ته روح وربخښي، د ډرامې ډيالوګ بايد خوږ او روان وي او ډرامې او له صحنې سره بايد کلک تړاو ولري. (۵۲-۸۲)

په لنډو ټکو بايد دومره ووايو چې په يوې ښې ډرامه کې، دپيښو منطقي تسلسل، د ډرامې او کردارونو پوخ تړون، د واقعاتو او حالاتو له کرکټرونو سره ژورې اړيکي، د واقعاتو مسلسل ترتيب او جوړښت، موضوع، رواني حالت، ژبه، زمان، د سوژې پټه دبدبه، د چاپيريال او کرکټرونو تر منځ تناسب هغه ضروري او مهم توکي دي چې د ډرامې ليکوال يا ډرامه ليکونکی يې بايد قدم په قدم تعقيب کړي او په پام کې يې ولري.

د هيواد تکړه ليکوال او شاعر ګل پاچا الفت د (کليمه داره

روپۍ) په اړه لیکي:

(( په کلیمه داره روپۍ کې مادي او معنوي دواړو قیمتونه موجود دي او د دین او دنیا د وصال ډیره ښه نښه ده، په پښتو ادب کې کلیمه داره روپۍ د ښکلو پیغلو له اوربل سره ډیر ارتباط لري او په همدې وجه د جمال پلوشه او د عشق خاطره هم په کې پټه ده، په همدغه سبب دا نوم له دې کیسې سره ډیر ښه تړون لري او لیکونکي د خپلې کیسې اساسي ټکي ګڼلي دي)). (۱۴- ج)

د کلیمه داره روپۍ د نوم په اړه ښاغلی عبدالله خدمتګار بختانې داسې نظر لري:

(( ځینو پخوانیو بادشاهانو په خپلو سکو باندې کلمه طیبه «لا اله الا الله محمد رسول الله» لیکله. د امیر شیر علی خان سکه هم دغسې وه. دې ته به پښتنو کلیمه داره روپۍ ویله. دې سیکو ته به خلکو په زرګرانو کونډې ورکولې او ښځو د پیسو په ډول ترې کار اخیست. د پژواک په ډرامه کې کلیمه داره روپۍ د حرمت، درنښت او ګرانښت له موضوع سره په ملي، رزمي او اسلامي روحیه د هیواد د خاورې او استقلال د دفاع مسایل منعکس شوي دي.)). (۴۳ – ۱۷۲)

په هر حال اوس به کلیمه داره روپۍ تر څېړنې لاندې ونیسو:

یو لیکوال راسموس نیلسون د ښځې په اړه لیکي: (( ښځه د اقیانوس په شان ده چې د لړ او سپک فشار مقاومت نه شي

کولای او درانه بارونه ورېږي)).

یو بل لیکوال اره تین لیکي: (( ښځه هغه فرشته ده چې په هلکتوب کې زموږ روزنکې، په زلمیتوب کې زموږ کام بخښونکې، په زوړوالی کې موږ ته ډاډ او تسلیت راکوونکې ده)).

(۷ – ۵)

د لومړۍ صحنې په لومړي پارټ کې د هوښیارۍ او وفادارۍ ښځې هغه ښځینه احساس بیانیږي چې کله خپل خاوند په غم او اندیښنه کې ویني، زړه یې تر هغه پورې طاقت نه کوي چې په اصلي مطلب باندې ځان پوهه نه کړي. ځکه دا زغمل ورته ډېر گران وي چې پر خاوند یې څه تیریدونکي وي او دا ترې ناخبره وي، لکه د ښارنوال په شکل له خپل گران او زړه ته نږدې خاوند څخه پوښتنې پیلوي او غواړي چې هر څه ځان ته معلوم کړي او په درد کې ورسره ځان شریک وگڼي. دغه صحنه ښاغلی پژواک داسې تمثیلوي:

گلشکه: ولې دلگیر یې نن؟

په څه غم گیر یې نن؟

غرزی: یاره دلگیر خو نه یم

په غم کې گیر خو نه یم

خو د بیلتون له لاسه

گلشکه: د چا نه بیل یې ته!

غرزی: تر اوسه بیل خو نه یم

خو د بیلتون له بویه (۱۴-۲)

بله ډیره مهمه خبره چې ده په خپله ډرامه کې بیان کړې ده، له ښځو سره د مېړه اړوند ډیري اندیښنې دي او تر ټولو لویه اندیښنه هغه که اروپایي ښځې وي که غربي او که شرقي هغه له بلې ښځې سره د هغې د خاوند اړیکي دي نو په دغه حالت کې ښځې ته ډیره ناامیدي دریږي او له مېړه څخه د خپلې وفادارۍ کومې هیلې چې لري سترګې په لار وي. په دې حالت کې غرزی کوشش کوي چې د یو خاوند وظیفه اجرا کړي او هغه وعده یې چې خپلې میرمنې سره کړې وه بیا تازه کوي او وریادوي:

گلشکه: هغه ستا مینه څه شوه؟

هغه زما هیله څه شوه؟
اوس په بل چا مین شوې
یاره د خدای د پاره
څه اور دې بل که په ما
څه ټوکه وشوه په ما
ته خو دا هسې نه وې
زرشه خبره کوه!
غرزی: ارمان، ارمان، ارمان
افسوس، افسوس، افسوس
څه بدګمانه شولې
مه ژاړه ځان به مړ کې
زما وفا ډیره ده
اوښکې دې مه تویوه (۱۴-۳)

بلـه ځانګړنـه چـې پـه دې ډرامـه کـې لیـدل کیـږي، د پښـتنو ښـځو ژونـد او د پښـتني کلتـور سره سـم ژونـد کـول دي ځکـه چـې مـور او تاسـو اوس وخـت کـې ګـورو چـې ډیـرې پښـتنې ښـځې د خپـل خاونـد پـه انتظـار کلونـه کلونـه پـه بیلتـون کـې ژونـد تیـروي او دغـه ټـول عمـر پـه پټـه خولـه پـه خپـل درونـد او د زړه پـه تـل کـې زغمـي. دغـه انځـور ښـاغلی پـژواک داسـې جـوړوي:

اوښکې دې مه تویوه
زړګی مې مه ځوروه
پښتنه کله ژاړي
ګلشکه: زه سمه ناسته یمه
خو ته خبره وکه
زړګی مې ډک دی زیاتي

(۱۴-۴)

زمـوږ پښـتنې میرمنـې هغـه وخـت ډیـر ځـان خوشـاله او سـوکاله بـولي چـې د دوی خاونـد پـه خپـل قـام او خپلـه قبیلـه کـې پـه ښـه او درنښـت یـاد شي او هغـه وخـت افتخـار کـوي چـې پـه خپـل قـام او تربورانـو کـې یـې خاونـد د هـر ډول قرباني او جګـو سـترګو خاوند وي:

ګلشکه: دا خو ښادي شوه کنه
یا به غازي راشي
یا به شهید سردار یې
زه به په جګو سترګو
قام او تربور کې ګورم

ته به په هسکه غاړه
جنت کې ګرځې واړه
دا نو غم............
دا نو غم............
دا خو ښادي ده کنه

(۱۴-۵)

کله چې کوم پښتون له خپل کور څخه چیرته په سفر ځي او کلونه کلونه مسافر وي نو د کور او کلي غم ورسره دومره نه وي ځکه چې هغه په دې باندې مطمینه او ډاډه وي چې که کور کې نه یم خو داسې څوک شته چې د خپل کور اداره مخې ته یوسي. د دې وعدې له مخې غرزی خپلې میرمنې ته خپل احساسات داسې بیانوي، د ښاغلي پژواک کمال په دې کې دی چې دغه احساسات یې په داسې الفاظو بیان کړي دي:

غرزی: یاره رشتیا دې ووې
دا ستا له سترګو جار شم
زړه مې ډاډه شو زیاتې
ټوپک مې راکړه چې ځم
چې غیر حاضر نه شمه
دغه پیسې در واخله
خرڅې د کور پرې واخله
خدای دې وي ستا ساتونکی

که چیرته مړ شومه زه
دعا کوه راپسې

(۵-۱۴)

د ملي احساس له مخې ګلشکه دې ته حاضریږي چې هر ډول قرباني ورکړي او په ملي کارونو کې له بل چا ځان وروسته نه پریږدي. ګلشکه دغه ملي احساس او دعا په لنډیو کې زمزمه کوي چې دلته د لنډیو ویل د دوی د مینې اړیکې نورې هم کلکوي او د زړه له کومې داسې احساسات څرګندوي:

یوازې مولا دې تا لرې خوشحاله
که زما عمر په ضرور وي تیر به شینه
په تور ټوپک ویشتلی راشی
د بې ننګۍ غږ دې را مه شه له مرچله
په تور ټوپک ویشتلی راشی
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

(۷-۱۴)

(( یو مشهور نظر دی چې هر شاعر صرف یو اصلي شعر وایي او په مختلفو کتابونو کې یوه اصلي خبره په مختلفو بڼو وړاندې کوي.

شاعر د عاشق غوندې په ظاهره د هوا، اقتصاد، فلسفې، اخلاق او سیاست په باره کې د هر څه په باره کې خبرې کوي خو اصلي خبره یې یوه وي. د مجنون په صحرا کې په هوسۍ باندې مینه راغله، ځکه سترګو یې د لیلا سترګې وریادې کړې

او په یوه حکایت کې لولو چې مجنون ته چا وویل: کومه کلیمه دې ډیره خوښیږي؟ ده ځواب ورکړ: لا «نه» پوښتونکي ورته وویل: نور خلک خو نعم«هو» خوښوي، ته ولی «لا» یادوې؟ مجنون ورته وویل : کله چې مې لیلا وپوښتله چې دربانديې ګران یم؟ هغې ځواب راکړ: لا، نو «لا» چې د هغې له خولې راوتې ده، رابانديې ښه لګیږي)). (۳۹ -۵۳۴)

رحمان بابا وايي:

د رحمان په عاشقۍ کې سترګې وشوې
چې څوک وايي، عاشق ړوند دی، هغه خوار شه

اکثر وخت مینه په سترګو کې کیږي. همدارنګه غرزی او ګلشکه دواړه خپله ښتنه مینه په سترګو کې څرګندوي او په قلاره قلاره او په مینه مینه یو له بل نه اجازه اخلي او د خدای «ج» له درانه درباره ورته دعاګانې غواړي چې همدغه احساس پڅواک دا رنګه په الفاظو کې رانغاړي:

د دې سپينې خولې دې ځار شم
اوس رخصت راکړه چې لاړم شم

څه په مخه دې رڼا
په خالق مې يې سپارلی
(۱۴- ۷)

استاد غضنفر په خپل اثر (جادوگر هنر) کې د خیال په اړه لیکي :

په تصور مې ځان پاچا کړ
چې سر مې پورته کړ ملنګ د دوهۍ ومه

خوشحا ل خان خټک بیا وایي:

که یې ناز که یې خیال دی ما به یووړ
ولې ما سره ډیر کبر کا هر ګوره

کبر د توهین په نیت وي، ناز له مینې وي او خیال دلته د غرور په معنی دی. خیال د ارواپوهنې په اساس له حواسو سره د شیانو د مخامیدنې په نتیجه کې چې په ذهن کې کوم صورت او شکل پیدا کیږي هغه احساس یا حسي ادراک بولو چې دغه ذهني صورتونه له شیانو سره له مخامیدو پر ته په ذهن کې پیدا شي، د خیال یا جزیې په نوم یې یادوه.

په دې حساب خیال له حافظې راوځي خو زموږ حافظه د کمپیوټر د حافظې غوندې نه ده چې ور کې ثبت شوی انځور هر ځل د اول ځل غوندې راوښیي. له بلې خوا زموږ عاطفه زموږ له احساس او ادراک سره اخښل کیږي او په ذهني تصویرونو کې مو تغییرات راولي « د خپلو احساساتو او ادراکو په مقابل کې د بنیادم غریزي غبرګون ته عاطفه وایي » مثلا زموږ په ذهن کې د یوه بې رحمه سړي تصویر ممکن زموږ د ورت او ویرې د عواطفو تر اغیز لاندې بڼه بدله کړي او هغه ځناور وبولو، کله چې وایو چې شاعر د شعر په ذریعه خپل احساسات او عواطف څرګندوي

منظور مو تر ډېره حده همدا د عاطفي په وجه د بدل شويو ذهني تصويرونو بيان وي.

په اووه لسمه ميلادي پېړۍ کې انګرېز مفکر هابس وويل چې د خيال سر چينه حافظه ده. حافظې ته هر څه د حواسو د دروازو په لاره ورځي. ده ويلي دي، د تخيل استعداد د تکړه سپي غوندې د ليکوال د حافظې په کرونده کې ښکته او پورته ځغلي چې خپل ښکار پيدا کړي.

د هابس رايه چې ساينس يې هم ملاتړی وو، په ورپسې پېړيو کې وار په وار بشپړه شوه؛ مثلا وويل شول چې د خيال په زېږېدلو کې تداعي لوی لاس لري، له تداعي څخه منظور دا دی چې يو شی، بل شی را په ياد کړي، تداعي معمولا په دريو بڼو رامنځته کيږي، مجاورت، مشابهت او تضاد. تروږمۍ شايد سپوږمۍ او د سپوږمۍ رڼا د ډېوې لمبه او د ډېوې لمبه پتنګ راپه ياد کړي)).
(۴۵۱-۳۹)

غرزی په خپل ذهن کې د خپلې کور وداني په اړه هغه فکرونه کوي چې د ده په خيال او تصور کې هم نه راتلل چې ګلشکه ما ته داسې ځواب راکوي نو دغه حالت له خپلو ټولو هم قطارانو څخه پټ په خپل زړه کې له خپل ځان سره کرل او ريبل کوي او هغه معصومانه او د مينې پاک احساسات يې نور هم د خپلې پښتنې ميرمنې په اړه ډېرېږي.

د دي له خولې نه ځار شم
ما ويلې خنګه به شي؟

زه به جګرې ته ووځم
دا به په اوښکو ناسته
د بې کسۍ نه ژاړي
زه به په وينو کې سور
مساپرۍ کې مړ شم
خبر مې نه لرلو
چې د نر لور به ما ته
ننګ او غيرت راښيي
ياره نو څرنګ يې زه
لاس او پښې چپ نه کم
دا خو د خدای لار نه ده
ښه څنګه ويلې ما ته
ولې دلګير يې نن؟
په څه غم ګير يې نن؟
نيکبخته نه پوهيده
چې زه د دې په غم وم

(۱۴-۹)

بلـه خـوا هغـه پښـتنه ميرمـن لـه ځـان سره چـرت وهـي او خپـل د مينـې ډک زړګـي تـه پخپلـه ډاډګيرنه ورکـوي. ولـوړه، تنده، سـتونزې، بيلتـون، درد او د ژونـد ناخوالـو تـه تـن ورکـوي او يـوازې يـوه هيلـه لري چـې هغـه د خپـل خاونـد جګـې سـترګې پـه تولنـه کـې او لـه خپلـو سـيالانو سره سـيالي ده.

گلشکه (له ځان سره ) : عجبه ټوکه وشوه
د خدای نه جار شمه زه
هغه خدمت ته ووت
دا څو روپۍ هم چې شته
چې ډیر پې وچلیږو
ځه! دا څلور میاشتې
که تر هغه دی راشي
خو لا یوه خبره
که چیرته څنډ شي نو بیا
ځه خو بلا راپسې
ځلمی غریب ته ګوري
ځه ! رب دې خیر ورپېښ کي
تنګسۍ به تیرې شي خو
چې دی غازي شي یو وار
زه به کومه څرخې
څرخې به کمه پیدا
خدای دې پخیر راولي
خدای دې غازي راولي
خدای دې مېړه راولي
له جګو سترګو سره
په دنیا..........
(۱۴- ۱۳)

په دویمه صحنه کې ښاغلی عبدالرحمن پژواک په شاعرانه ژبه له وطن او دین سره مینه په ډېرو ښو الفاظو تمثیل او انځور کړې ده.

داسې ویل کیږي، کله چې د اسلام سپیڅلي دین سپیني لښکرې افغانستان ته راغلې نو زموږ پلرونو او نیکونو ورسره پوره دیرش کاله سختې جګړې وکړې او په ډېرې سختې سره یې اسلام قبول کړل. ډېر اصحاب کرام دلته شهیدان شول خو کله چې دوی د اسلام سپیڅلی دین قبول او پرې مشرف شول نو د اسلام مبارک دین په خپرولو کې تر نورو ډېرو قومونو ډېره ونډه همدوی اخیستې ده او په دې لار کې له حده زیاتې قربانۍ یې ورکړې دي.

همدغه دیني جذبه ښاغلي عبدالرحمن پژواک ډېره ښه په خپلو شعرونو کې بیان کړې ده او دغه صحنه یې ډېره ښکلې انځور کړې ده.

سکندر: ځما ورونو!
یو کال تیر شوی چې موږ
د سرحد غرو کې پراته
د دښمن پته نشته
د دښمن حال دی معلوم
د جګړې پته نشته
نن یو مخبر راغلی
وایي انګریز خوځیږي

نو ما راوغوښتلئ
چې جنګ نژدې راغلی
ځانونه ښه تيار کئ
ورته ملا وتړئ ټول

(۱۴-۱۷)

وروسته عبدالرحمن پژواک ديني جذبات، پښتني غيرت او ننګ ډير په شاعرانه الفاظو کې رانغاړي. په بستره کې مرګ شرم او عار ګڼي او دا د پښتون شان سره برابر نه بولي. مرګ هغه وي چې د دښمن په مقابل کې سړي ته نصيب شي.

ګورئ غليم کاپر دی
مور، مسلمان يو شکر
د دين او دولت خدمت ته
د زړه نه ملا وتړئ
پيغلې کورو کې ناستې
مونږ، ته يې سترګې په لار
ننګ او ناموس د وطن
په خطره کې دی پروت
مېړه چې تاوکي بريت
بيا د مرګ پروا نه کړي
يا
چې هم مسلم هم پښتون
يو د ځښتن شکرونه

ځانونه مړه کئ په دین
او د وطن په ناموس
چې جګې سترګې لاړ شئ
یا خو بې ننګه سترګې
د خاورو لاندې ښې دي
له پښتنو نه پټې
(۱۴-۱۸)

زموږ په ګران هیواد باندې څو څو ځله ګاونډیانو او یا د نړۍ نورو قوي امپراتورانو تېرى کړى دى، خو تر اوسه پورې دې ویښ او بیدار ه ملت د غلامۍ کړۍ غاړې ته نه ده اچولې، د سر په بیه یې ورسره جنګونه کړي تېپیان، یتیمان، کونډې او شهیدان یې ورکړي خو چا ته یې سر ټیټ کړى نه دى او دښمن چې کوم ګوزارونه له افغانانو خوړلي تر اوسه یې ټپونه په اسانۍ روغ شوي نه دي. پژواک صاحب یې داسې وړاندې کوي:

غرزى: په مرچل هاغه سړى ښېجې
چې یا مین وي یا یې پیغله ناسته وینه
دا کار ځما تر غاړې
ماپه کاله کې ویلې
چې بې بري نه راځم
یا به ژوندى نه راځم
یا
که سړى ډېر په زړه محکم وي

چې يې اشنا راځي ژړا ورځينه
مخ د قمبر لب د گوهر دی
صبر زما دی په ژړا در پسې مرمه
زياتي راځه دښمنه
په انتظار دې مړ کړم
وينې خوټيږي ځما
راځه ميدان ته ووزه
ته به سکه وايې چې زه
ځان ته مورچل جوړوم
ځان ته مې قبر ساز که
گور خو همداسې خوندکړي
چې پخپل لاس يې جوړ کړي

(۱۴- ۲۲)

وايي چې امانت ځمکه هم نه خيانت کوي امانت، وفاداري او زړه ورتوب دغه ټول هغه څه دي چې د پښتنو په ختّه کې اخښل شوي دي چې دلته دغه وفاداري او امانت ساتلو ته شاعر په ډير ښه شاعرانه ژبه اشاره کوي:

کاپرفيلډ: خبره دا ده چې زه
تا ته پيسې درکوم
لاکن چې ما خوشې کړې
طلا به درکړم ډيرې
چې په ژوندون دې بس وي

او د لمسو دې وشي
یا
غرزی: زه به ایمان خرڅوم
راځه چې ځو افسر ته
چابک شه مه دریږه
کاپرفیلډ: د خدای وروره
پښتو خو داسې نه وي
غرزی: زما پښتو همدا ده
روان شه مه دریږه
دغه دی و مې ویشتې
(۱۴-۲۸)

نښه ورکول یا نښه ساتل دا د پښتو فولکلور کې یو پخوانی دود دی چې اوس هم په کلیوالي سیمو کې کارول کیږي، دغه دود د ورکړې بیلابیل حالتونه لري چې دلته د موضوع د ښه وضاحت لپاره پرې رڼا اچوو!

۱- ځینې پښتانه په ځانګړي ډول چې په خپله سیمه کې د نسب او قبیلې له مخې شهرت لري، د خپلو اسلافو (پلرونو او نیکونو) ځینې توکي د نښې په ډول ساتي او هغې ته د ډیر احترام په سترګه کتل کیږي، دغه نښې مختلف شیان وي، لکه: توره، پیشکاوزه، توپک، د ښکار لینده، زاړه اثار....

۲- په ځینو حالاتو کې په ټولنیز ژوند کې د ښو او مناسبو اړیکو له مخې د دوو کسانو تر منځ یو بل ته د ځان یو محبوب

شـی د ښـې پـه توګـه ورکـوي، کیـدای شي دغـه ورکـړه لـه يـوه اړخـه وي يـا د دواړو اړخـو، خـو هغـه شـيان هرڅـوک تـر ډيـره لـه ځـان سره سـاتي. لکـه: د زرو ګوتـه، د لاس سـاعت، قلـم، دسـتمال ....

د پـژواک صاحـب کـمال پـه همـدې کې دی چـې دغـه فولکلوري دود پـه ښـه شـان پـه خپلـو اشـعارو کـې ځـای پر ځـای کـړي دي:

ګلشکه: کلیمه داره روپۍ

کلیمه داره روپۍ

يوه بې کسه پيغله

مینه شوم په تا

يا

هو! دا راکړې وه تا

کلیمه داره روپۍ

دا به تر مرګه ساتې

اوس چې ځلمی د لوړې

مرې نوره څه وکمه

ښه که دا خرڅه کمه

او ته ژوندی را نه شې

ستا به په ښې پسې

کلیمه داره روپۍ

خدای خو دی لوی ساتونکی

تا به ژوندی راولي

چې اوس مې زوی مړ نه شي

له تا نه عفوه غواړم
په هیله منو سترګو
او ستا بخښش ته ګورم
بله چاره نه لرم

(۱۴-۳۵)

کلیمه داره روپۍ د ټولو افغانانو د میړانې او تورې د تاریخي کارنامو یوه برخه را اخلي او د افغان انګلیس د جګړې تصویر انځوروي. د حماسو یوه ځانګړتیا دا ده چې اتل به په کې غیر عادي او ان غیر طبیعي عادتونه لري، مبالغه امیز ي پېښې په کې پېښیږي، کلیمه داره روپۍ همدا خصوصیت لري.

## ۴-۱-۱ د کلیمه داره روپۍ ځانګړتیاوې:

۱- عبدالرحمن پژواک په کلیمه داره روپۍ کې په فکري لحاظ د پښتو او پښتونولۍ کلاسیک سوچ او فکر په خپلو شعرونو کې څرګندوي او اخلاقي روایات او پښتني دودنه یې راپېژندلي. لکه حیا ، ننګ، توره، پښتو د پښتنو اروا ده چې د پښتون قوم د ژوند مهم توکي دي، په خورا خوږ او سلیس نظم موږ ته بیانوي.

۲- کلیمه داره روپۍ په ازاد نظم لیکل شوې ده او هغه ټولې ځانګړتیاوې چې یو ازاد نظم یې لري په ښه توګه په کې مراعات شوي دي. کله کله د نظم د رنګین کولو لپاره قافیه هم مراعتوي چې دا نوره رنګیني نظم ته وربخښي.

ولې دلگیر یې نن
په څه غم گیر یې نن
(۱۴-۲)
هغه ستا مینه څه شوه
هغه زما هیله څه شوه
(۱۴-۳)

په پورته بیتونو کې (دلگیر، غمگیر، مینه ،هیله ) د قافیې کلمې دي او همدارنگه د قافیې کلمې تر څنگ کله نا کله ردیفونه هم راوړي (یې نن، څه شوه ) چې په پورته بیتونو کې ذکر شوي دي.

۳- یو عمده ارزښت چې په دې ډرامه کې تر څېړنې لاندې نیول شوی، هغه د ده د قلم روانوالی دی چې عادي کسان هم پرې پوهیږي.

۴- د ډرامې ډیالوگونه په غیر طبیعي بڼه ښودل شوي چې په نظم لیکل شوي دي چې موضوع یو څه له واقعیته لرې باسي.

۵- ځینې صحنې داسې په کې راغلې دي چې په ازاده فضا کې تر سره کیږي او د ستیج پر سر ستونزې جوړوي، مثلا: د شپږو اسونو ځایول په یو وړوکي ستیج باندې د امکان نه لرې خبره ده.

٦- د ډرامې کرکټرونه د پښتني ټولنې له ټیپونو څخه په ډېره ماهرانه او هنرمندانه توگه غوره او بیان کړای شوي دي او په

ټولو کرکټرونو کې د پښتني رنګ سیوری وینو.
۷- د پژواک صاحب په ډرامه کې کردار لیکنه کې لنډون ته زیاته پاملرنه شوې چې ډیره مهمه او غوره ځانګړنه ده.
۸- د ډرامې د لاښکلا او جذابیت لپاره پښتو لنډۍ چې د شجاعت او میړانې څرګندویي کوي، مناسب او دقیق ځای کې راوړل شوي دي.
۹- په ډرامه کې باید د ډرامې بحثونه ډیر اوږده او د ډرامې کرکټرونه هم زیات نه وي چې عبدالرحمن پژواک تر ډیره حده دغه موضوع په پام کې نیولې ده.
۱۰- ډرامه په نظم لیکل شوې او طبعا شعري ژبه د موسیقیت او وزن د مراعاتولو لپاره تکرار ته ضرورت لري نو په دې ډول د یوې موضوع د وړاندې کولو لپاره د کلمو تکرار زیات راغلی دی چې دغه تکرار ښاغلی پژواک د نورو شاعرانو څخه جلا کوي. لکه: افسوس، افسوس، افسوس، ارمان، ارمان، د خدای دپاره، اطاعت، اطاعت، راځه، راځه ....
۱۱- د عربي، انګلیسي او فارسي ژبې لغات ورکې لیدل کیږي، لکه: لین، مخبر، لاکن، اطاعت، منصبدار، ګلچین، تصور....
۱۲- په ډرامه کې د ده د خپلې لهجې تاثیرات ډیر زیات لیدل کیږي، خصوصا(زیاتي) کلمه چې ډیر واري یې استعمال کړې ده او نورې لهجوي کلمې، لکه: ماسکه، خرڅې، سرسبیلي، والله، هن، دا ټول کلمات د ښاغلي پژواک د سبک ځانګړنه بللی

شـو.

۱۳- د ده پـه شـعر کـې دلتـه ډېـر اصطلاحـات هـم لیـدل کیـږي، لکـه: پښـه دي شـوه غلـط، پـه هغـه پـلار دي رحمـت شـه، خــو لا یــوه خــبره، هــو دی مــلا دم کــړی، نــه بابــا....

۱۴- یـوه بلـه عمـده ځانګړنـه دا ده چـې کلـه دی کـوم کرکټرونه لوبـوي، کـه نارینـه کرکټـر وي نارینـه ژبـه اسـتعمالوي او کـه ښځینه کرکټـر وي، پـه ښځینه انـداز کـې یـې وړانـدې کـوي.

۱۵- د ده پـه شـعرونو کـې ټرویيکـي ډېـر اسـتعمال شـوي دي. پـه ځانګـړي ډول د (کـه ) تـر وییکـي چـې د ده سـبک لـه نورو شـاعرانو څخـه جـلا کـوي او سـبکي ځانګړنـه یـې ده.

د یادولـو وړ خـبره دا ده چـې د ده د کلیمـه داره روپـۍ، چـې پـه ازاد نظـم کـې ډرامـه ده، چـاپ شـوې خـو نـور شـعرونه یـې د ځانتـه شـعري ټولګـې پـه بڼـه نـه دي چـاپ شـوی. د ده شـعرونه پـه کابـل مجلـه او د هیـواد نـورو مجلـو کـې پـه تیـت و پـرک ډول چـاپ شـوي دي.

پـژواک پـه پښـتو او دري شـاعرۍ کـې خپلـه بـرلاسي ثابتـه کـړې ده، د ده پـه شـعر کـې د معـاصرې دورې د شـعرونو ځانګړتیـاوې پـه بشـپړ ډول لیـدل کېـږي، پـه ځانګـړي ډول پـه ازادو نظمونـو کـې چـې د معـاصرې دورې پیـدا وار ګنـل کیـږي.

د محتـوا لـه مخـې د ښاغلي پـژواک پـه شـعرونو کـې ډېـره برخـه انتقـادي ریالیـزم جـوړوي. غـم و هجـر، مسـافري، پـه افغانانـو بانـدې

د بهرنیو لـه خـوا تپـل شـوي مفکـوري، د ازادۍ غـږ او مبـارزه دا ټـول هغـه څـه دي چـې د ده پـه شـعرونو کـې خـاص ځـای لـري.

د هیـواد تکـړه لیکـوال محمـد صدیـق روهـي پـه خپـل اثـر ( د پښـتو ادبیاتـو تاریخ ) کـې ښـاغلی پژواک د معاصرې دورې د ویښـتیا پـه پړاو کـې راوړي: (( هغـه شـاعران چـې د اشـعارو کمیـت یـې لـږ او کفیـت یـې زیـات دی: عبدالحـی حبیبـي، عبدالشـکور رشـاد، محمـد موسـی شـفیق، عبدالرحمـن پـژواک، حبیـب اللـه تـږی، محمـد جـان فنـا او طالـب کندهـاری دي)). (۳۲-۸۹)

عبدالرحمـن پـژواک د ملـي وحـدت ټینـګ پلـوي لا څـه چـې د ملـي وحـدت سـمبول یـې ګڼلـی شـو. د ده لـه نظـره چـې کومـه خبـره بـه لـه ملـي ښـیګڼو سره برابـر ه نـه وه، لـه هغـه سـزه یـې خپـل مخالفـت ځرګنـد کـړی.

نومـوړی وایـي: کـه مـوږ خپـل ملـي وحـدت وسـاتو، څنګـه چـې پخـوا مـو سـکندر، هلاکـو، چنګیـز هـلاک کـړل، همدارنګـه اوس چـې د بـشر د حقوقـو چیغـې وهـي او پـه نـړۍ کـې یـې غوغـا جـوړه کـړې ده، هـلاک او ټولـې دسیسـې بـه یـې لـه ناکامـې سره مخامـخ شي، دغـه مبـارزه غلـې کـولای نـه شي. دی پـه دې هکلـه داسـې خپـل خیـالات بیانـوي:

**د حق لمر**

بیا بشر بې سره شوی جوړ پر شر دی
بشر دوستو اړولی په محشر دی

زیر و بم د بم په هر خوا کـــېږ -
په هر گام کې لویې کندې لوړ پاڼونه
مخ په وړاندې توپانونه دي خطر دی
مکاني اثر پرې شوی دی د غرونو
په کنډو د زمانې مو تل سفر دی
روغ زړه نه دي له دې خاورې نه وتلي
که چنگیز که هلاکو که سکندر دی
د انګریز جهاني زور دلته اوبه شو
په زاریو د تزار نوی لښکر دی
سرخرویــې یې تل په وینو د دښمن ده
د کابل بالاحصار کې دا اثر دی
که د روس شاپرک هر څو بمباري کړي
چا وژلی په گولیو د حق لمر دی
شپه اوږده ده، تاریکه ده څو ورځې یم
خبر په زړه یې د سپید ځلند خنجر دی
دا منمه شپه اوږدیږي کله کله
څو سنجر نه مري په دې مې هم باور دی
یخ به تیر شي مختوري به د سکرو وي
پایښت یو له استثناء، قانـــون گذر دی
(۵۳-۴۲)

ښـاغلی عبدالرحمـن پـژواک د وطـن خـراب حالـت تـه ډیر سـخت متوجـه دی. خپلـو ټولـو هـم فکرانـو او هـم نظـره خلکـو تـه داډینـه

ورکوي چې ناهیلي او تسلیم نه شي بلکې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي، که هر څومره رقیبان راباندې خواري وکړي او خپلې خوا ته مو وبولي، یوه ورځ مو بریا په نصیب کیږي او هغه د حق غږ چې مو جګ کړی، په هیڅ وجه مو څوک له دغه هوډ څخه نه شي ګرځولی. دغه غږ او پیغام ښاغلی پژواک داسې په الفاظو کې رانغاړي:

پام کوه چې رقیبان دې ریبار نه شي
په خندا ورته که خوله د پرهار نه شي
مضحکه به ښه د توري ګوزار نه شي
چې خزان راشي چمن واړه شي مړاوی
څوک به نه وایي چې بیا به بهار نه شي
ډیرې شپې دي په هر چا باندې راغلي
چا ویلي دي چې بیا به سهار نه شي
چې له خپل وطن نه څوک ژوندي وتلي
له پردي وطن نه تګ ورته عار نه شي
د جهان خواري که ټول ورباندې وشي
د ایمان خاوند به هیڅکله خوار نه شي
بې مغزان به ارسطو او اپلاتون شي
خو د میني لیوني به هوښیار نه شي
که د زړه اشنا دیدار ته دې وي سترګې
پام کوه چې رقیبان دی رویبار نه شي

بیا به نشم مهاجر په دې وطن کې
کـه پخپله دوی محتاج د انصار نه شي
په رحمان او په خوشحال مې سلام وایه
بیا گذر به زما د دوی په مزار نه شي
د مومند او د خټک د غږ پژواک یم
خو افغان مې جگ د دوی له کوهسار نه شي
(۸-۱۴۵)

د عبدالرحمـن پـژواک پـه شـعرونو کـې ځینـې وختونـه د ناهیلـۍ توکـي ځـای پـه ځـای محسوسـیږي. د دغـې ناهیلـۍ داخـلي او بهـرني عوامـل یـې پـه شـعر کـې ثرگنـد دي چـې د خپـل زړه اواز داسـې راوبـاسي:

که پخپله دوی محتاج د انصار نه شي
په رحمان او په خوشحال مې سلام وایه
بیا گذر به زما د دوی په مزار نه شي
د مومند او د خـټک د غږ پژواک یم
خو افغان مې جگ د دوی له کوهسار نه شي
(۸-۱۴۵)

د عبدالرحمـن پـژواک پـه شـعرونو کـې ځینـې وختونـه د نهیلـۍ توکـي ډېـر محسوسـیږي. د دغـې نهیلـۍ داخـلي او بهـرني عوامـل یـې پـه شـعر کـې پـوره ثرگنـد دي:

که شـم ړوند په دواړو سترگو وطنداره غازي واوره
د زړگي په رڼه سـترگه کې مې ستا خوا له نظر دی

که څوک راشي زما کلا ته او پوښتنه وکړي وايه
کور يې وران دی اور يې مړ دی او پخپله در په در دی
دا وينا ده ډېره ښکلې خو تر څو به پرې غولېږم
تروږمی پسې رڼا ده تورې شپې پسې سحر دی
(۸-۲۲۸)

د افغانستان په ښوونځيو کې (مضمون) د هغو پوهنو څانګې ته وايو چې زده کوونکو ته ورښودل کيږي. په مطبوعاتو کې بيا مضمون د څو سوه يا څو زره کليمو لنډه ليکنه ده چې ليکوال په کې خپل نظر څرګند کړی وي. که په لنډه ليکنه کې تحقيقي انداز ډېر وي نن سبا ترجيع ورکوو چې (مقاله ) يې وبولو او که د ليکوال خپل نظر او تبصره په کې اصلي ټکی وي، ممکن(مضمون) يې بولو.

استاد اسدالله غنضفر د دې کلمې په اړه ليکي: (( د هندي سبک شاعرانو د مضمون کليمه د کره کتنې او شعر پيژندنې د يوې اصطلاح په توګه ډېره راوړې ده، نوی مضمون، تازه مضمون، مبتذل مضمون، باريک مضمون، نازک مضمون او رنګين مضمون د همدې اصطلاح مشهور ترکيبونه دي چې د پښتو د کلاسيکو شاعرانو په ديوانونو کې ورسره مخ کيږو.

خوشحال خان خټک وايي:

هر شاعر څخه تازه مضمون د خان دی
د ښه ليندۍ صدقه خوري د ښکار شاړي

محمدي صاحب زاده بيا وايي:

د تازه مضمون دې قند و خوند په کې وي
چې مې خوړ دی د ګني تر بند حدیث
(۳۹-۳۵۱)

کاظم خان شیدا په پښتو کې د هندي سبک بشپړ استازی ګڼل کیږي. دی هم د مضمون په اړه وایي:

لکه زلفې په بیاض باریک مضمون ږدم
زه شیدا چې چیرې ساز مشکین قلم کړم
شیدا خم کړل د خاطر لبریز په وینو
زه چې بند لکه غنچه رنګین مضمون کړم
(۲۲ – ۲۹۸)

د معاصرې دورې له مخې مضمون اوس موږ د پیغام په معنی هم معنی کولای شو. ښاغلی عبدالرحمن پژواک دغې موضوع ته ډېره ښه اشاره کړې ده. دی وایي، هر څه چې زه وایم دا زما د چاپیریال غوښتنه ده چې خلکو ته یې ورسوم، هر څه زما په شعرونو کې تاویږي، زما د زړه درد دی او زه د چا منت باره نه یم، یوازې منت باره د بیلتون یم.

## نوی مضمون

د لیلا نه په یو ټکي ډېر ممنون یم
چې په ډاګه راته وایي چې مجنون یم
د وصال خوبونه نه وینم تل ویښ یم
که د چا یم منتباره د بیلتون یم

خوا شين نه يم چې د غم نه مې زړه شين دى
څو د اوښکو باران ووري زه زرغون يم
اينده مې ده پخپله جوړه کړې
نه يم ګرم که زه د خپل صورت فتون يم
سکندر د زمانې يم بې هندارې
چې خاوند د خپل ګريوان او خپل زنګون يم
دغه ساه چې ما کې ويني څما نه ده
ژوندى بل دى زه يې سيورى د ژوندون يم
مرګ منزل دى د سپيڅلو ژونـدون لاره
لا لهاند څکه په لاره د ژونـــدون يم
څما شعر کې به نوى مضمون نـه وي
خو پخپله ابدي نوى مضمون يم
هوښياران مې ليونې بولي پژواکه
د مستانو خمخانه کې افلاطون يم

(۱۷-۱۱)

د يـو شـاعر پـه کلام او پـه ځانګـړي ډول پـه غـزل کـې د سـوز و ګـداز عنـصر ډيـر ضروري دى. کلـه چـې انسـان تـه ډيـر زيـات تکليف ورسي نـو بـې اختيـاره يـې احساسـات لـه خولـې څخـه د اور د بخـري پـه شـکل راوځـي.

د ښـاغلي پژواک شـعرونه هـم د سـوز و ګـداز، درديـدلي جذبـات او د غـم د احساسـاتو څخـه ډک دي. دغـه شـيبې پـه ده بانـدې هغـه وخـت زيـات زور کـوي چـې لـه خپـل هيـواد څخـه پـه هجـران کـې

خپلې ورځې شپې تيروي. دغه د درد ډکې شيبې داسې په خپل کلام کې انځوروي:

**غزل**

د بېلتون له لاسه عمر مې په دار دی
د ژوندون پېټی مې درونډ په اوږو بار دی
خندنی شوم دوست دښمن را پورې خاندي
ای زړګيه راته ژاړه نن دې وار دی
د هجران په لنبو وسومه ايرې شوم
چې زما سره د مينې نور څه کار دی
په هيڅ فصل کې مې رنګ د زړه وانه وښت
نه پوهيږم چې دا ګل د کوم بهار دی
بېګانه زړګی مې ډېر مطلب اشنا و
چې مطلب مې د اشنا شو اوس مې يار دی
اور دې مړ دی اوس دې هسې سترګې ژاړي
ای پژواکه زړه دې خوشې نا قلار دی
(۱۳-۱۰)

وايي هر چا ته خپل وطن کشمير دی. د وطن مينه يو فطرتي امر دی. هر څوک چې کومه خاوره کې پيدا شي او خاپوړې يې په کې کړې وي، له هغې خاورې سره خامخا مينه کوي او داسې به ډېر کم بدبخته خلک وي چې په يوه وطن کې پيدا او لوی شي خو مينه او وفاداري به د يو خاص او ځانګړي مقصد لپاره له

بـل وطـن سره لـري.

ډاکتـر اقبـال نسـيم ختـک پـه خپـل کتـاب ( د رنـگ اوبـو قافلـه ) کـې داسـې ليکي:

(( پـه پښـتو شـاعرۍ کـې د وطـن مينـې بنيـاد خوشـحال خـان ختـک ايښـی دی. خوشـحال خـان ختـک چـې د وطـن د مينـې پـه موضـوع کـې کـوم دردنـاک او لـه سـوزه ډک شـعرونه ويـلي دي، نـن هـم پـرې ټـول پښـتانه پـه ويـاړ سره فخـر کـوي:

د وطن مينه ای جانه
را پيدا ده له ايمانه
هغه ملک د زړه ارمان وي
چې په کې خواږه ياران وي
که يې سپیويني په سترگو
هم يې ځای کوې په سترگو
نه د خپل وطن خارونه
نه د بل وطن گلونه
نه د خپل ديار پلوسې
نه د بل د يار نلگوسې
(٢٢ – ٢٦٠)

پـژواک دغـه د بـې وطنـۍ او بـې کـورۍ انځـور ډيـر پـه زړه پـورې او پـه شـاعرانه الفاظـو کـې راغونـډ او بيـان کـړی او زياتـوي چـې دا ټـول حالتونـه تيريدونکـي دي او يـو روښـانه راتلونکـې بـه ولـري:

## ښنګه وايي لوی اختر دی

پخپلو وينو لمبېدلي شهيدان په کې پراته دي
چيرته کلی که کلا ده، که مرچل دی که سنګر دی
ښه پوهيږم چې يوه ورځ به په نړۍ باندې قيامت شي
خو افغان باندې جوړ شوی د دنيا په سر محشر دی
بيا دوستان مې راته وايي «لوی اختر دې مبارک شه »
چې په قام يې لوی محشر وي ښنګه وايي لوی اختر دی
زه پژواک د وطنوالو مې ندا يم تل تاويږم
په جګ غرونو د وطن کې که پيچومی که کمر دی
(۸-۲۲۸)

د مسلمانانو دا عقيده چې د دنيا ژوند او خوندونه ډير فاني او عارضي دي او زموږ ژوند د يو څو ورځو لپاره دی، د علم او پوهې خاوندان د دې دنيا د ارايشونو او خوندونو سره زړه نه تړي.

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د دنيا او دنياوي ژوند د حقيقت نه ښه خبر وو، ځکه هغه خپل ځان او خپل اصل د دنيا د چړچو په سبب نه دی هير کړی:

زه پخپله خبر نه يم خو خالق مې پرې خبر دی
چې که نن وي که سبا وي د دنيا نه مې سفر دی
زه د دې سفر لپاره توښه نه لرم د لارې
خو تکيه مې د ايمان توښه نه لرم د لارې
چې عمل وي په هغه ستوري زه باور کولای نه شم
که زهره ده ځليدونکې که ځلاند شمس او قمر دی (۹-۲۵)

ازادي يو ډېر لوی نعمت دی خو تر هغه وخته پورې څوک د دغه نعمت په قدر او قیمت نه پوهیږي چې عملا یې لیدلې نه وي. ازادي که جسمي که فکري وي د یو فرد د خوشاله صحت مند او کامیاب ژوند لپاره دواړه ضروري دي.

ښاغلی عبدالرحمن پژواک د خپل ژوند او په ځانګړې ډول وروستي کلونه په ډېرو مشکلاتو کې تیر کړل. ده خپله دغه غوسه کله کله په پردي اسمان او پردي ځمکه باندې وباسي او کله خپل خلک ملامته ګڼي، ګیلې یې زړه ته لکه غر ودریږي. دغه شاعرانه انځورونه دی داسې ځلوي:

**اختر مبارکي**

خلک وایي چې راغلی بیا اختر دی
دا چې چا باندې اختر دی خدای خبر دی
مبارک دې شي که چا باندې اختر وي
په افغان باندې اختر نه دی محشر دی
چې په سمه سترګه څوک ورته نظر کړي
پورته ښکته ټول عالم زیر و زبر دی
په پردي اسمان کې بل شانته ځلیږي
که هلال دی که سپوږمی ده که نمر دی
دا هلال چې زه یې وینم په افق کې
نه پوهیږم تش کچکول که مات ساغر دی

تور او سپین حوادث واړه گذران دي
گذران دی که ماښام دی که سحر دی
په دستور د زمانې باندې ځان پوه کړه
پایښت بوله استثنی قانون گذر دی
دا منمه چې که خدای ورسره مل وي
که وگړی یک تنها وي لوی لښکر دی
خو دا نور خبرې واړه د عقبا دي
دا د زور دنیا ده زور د زورور دی
انتقام به د هغه ساده هیرېږي
چې د ده په داوری باندې باور دی
که مغل نه دی او هسې تمغل کړي
د مغلو نه سل ځله لا بتر دی
چې اشنا کله گیېږي گیله من شم
که پردی مدام غیبېږي بې اثر دی
د پژواک زړه د وطن په غرو ولاړ دی
که څه هم ولاړ په څوړند چاود کمر دی
خیالي گرځي په خمتا کې بې خیاله
«رحمن کوږ دستار تړلی قلندر دی»
(۲۵-۹)

(( اساطیر د اسطورې جمع ده. په انگریزي ژبه کې اسطورې ته «Myth » او علم الاساطیر ته «mythos» ویل کیږي د«Myth» د یوناني ژبې له «mythology» څخه مشتق شوې ده چې په

لومړي سر کې د هر ډول کیسې په معنی استعمالیده خو وروسته د هغې مفهوم له نکلونو «Folktales» څخه تر یوې اندازې پورې جلا شو.

اسطورې مقدسې کیسې دي چې عملي هدفونه لري، د پرنسیپ له مخې اسطورې د مافوق الطبیعي موجوداتو او د پېښو او شیانو مبدا او منشاء څرګندوي او په هغو کې د جهاني او دایمي ارزښت لرونکو پېښو په باره کې توضیحات ورکول کیږي، لکه د ارباب الانواعو کړه وړه، د ځمکې او اسمان پیدایښت، نړۍ ته د اور، مرګ او داسې نورو پدیدو راتګ، د ښه او بد تر منځ مبارزه، له مړینې وروسته حالات او داسې نور...)). (۳۳ -۴۸)

ښاغلی پژواک په دري ادب کې د اسطورو راوړلو کې لوی لاس لري، ډیرو شعرونو کې اسطورې افسانې پیدا کیږي. پښتو پنځوونو کې یې هم ځینې وختونه د اسطورو څرک لګیږي خو په هغه اندازه نه دي لکه چې په دري شعرونو کې یې ویلي دي.

**زما لېونتوب**

په یونان کې عقیده وه که لوخ سر څوک
پاتې شي سپینې سپوږمی ته تر سحر څوک
دا سړی به رنځیږي روغ لېونی شي
د هوښیارو په حلقې کې خندنی شي
ښه او بد به دواړه ده ته برابر وي
په ماښام به یې ګمان د لوی سحر وي

ډار به نه لري په خوف به غمجن نه وي
نور به هسې د چا ارمانجن نه وي
په خندا کې به يې حزن و غم څرګند شي
په ژړا کې به چټي هسې مسخند شي
نا روا باندې به حکم د روا کړي
په بقا باندې به ټوکې د فنا کړي
په تور زړه به مرور دی لـه دنيا شي
په سپين زړه به حقيقت سره پخلا شي
نه به چا سره دښمن وي نـه به دوست وي
خو مفرط به وي که کلک وي او که پوست وي
ما هم تا سره لوځ سر شپه سـبا کړې
ډيرې شپې مې مخه ستا مخ رڼا کړې
نو به ولې له دنيا نه دلګير نه يم
مګر ستا د زلفو بند په زنځير نه يم
لېونتوب مې پيدا شوی د رڼا نه
دا ژړا مې پيدا شوې د خندا نه
لېونتوب کې خفه نه يم ډير خوشال يم
که خوشال يم که بد حال يم که بيحال يم

(۱٦– ۸)

شـفيعي کدکنـي پـه پـارسي شـاعرۍ کـې د انځورونـو او ترکيبونـو پـه اړه څيړنـه کـړې ده. هغـه پـه خپلـه دې څيړنـه کـې د تصويـر پـه اړه وايـي: (( تصويـر د ټولـو بيـاني او مجـازي تصرفاتـو مجموعـې لکـه:

تشبیه، استعاره، کنایه،مرسل، مجاز.... ته وایي )).

رضا براهني د انځورونو په اړه وايي: ((تصویر له دوو بېلابېلو جهانونو څخه د کلیمو په مرسته په دوو ټاکلیو نقطو کې د دوو پدیدو غاړه غاړې کېدل دي)). (۲۶ -۲۷۲)

پژواک صاحب په څه کمال خومره هنري انداز شاعرانه انځورونه په خپل کلام کې بیانوي او دغې انځورونې ته یې نوی بڼه ورکړې ده. رنګارنګ کلیمې او ترکیبونه لکه: مرووره څواني، د ځلمیتوب ونه، تشو اوسیلو، د ستورو سپینې سترګې او نور.... په څه ماهرانه ډول یې په هر بیت کې ځای په ځای کړي دي:

**چا وی چې ...**

چا وی چې د مینې ګل رژیږي نه
داسې ګل هڅو ځما یادیږي نه
سل ځل که راشي پسرلی په ما
زړه هغه غوټی ده چې غوړیږي نه
لاړه مرووره شوه ځوانی ځما
بیا په ننواتو پخلا کیږي نه
تل مې شوه کړه د ځلمیتوب ونه
وچه ده دا لښته بیا سمیږي نه
ستا د زلفو ټال کې به ویښ زانګمه
خوب نه مار چیچلې بیا ویښیږي نه
اور چې د حسرت شي په ګوګل کې بل
تشو او سیلو سره بلیږي نه

نه دې مري رڼا د زړه، که ومري
دا ډيوه له سره بيا بليږي نه
تل به په پژواک باندې خندا کوي
د ستورو سپينې سترګې چې شرميږي نه
(۱۷-۳۸)

ننګ، غيرت، شجاعت، خدمتګاري، بيداري دا هغه څه دي چې د پژواک په رګونو کې په ځوښ دي. ده ته خپل وجدان دومره اجازه نه ورکوي چې ځان د يوې سيمې وګڼي بلکې ځان د ټول افغانستان ځوی ګڼي:

**ځوی د افغانستان**

نور له ځان او له جهانه خبردار نه يمه زه
دومره پوه يم چې مجنون يم او هوښيار نه يمه زه
د وطن ليلى بهر کړم د وصال له کجاوې نه
خوب د مرګ وينم هر کله چې بيدار نه يمه زه
مور مې لور وه د سپين غر پلار مې ځوی و د تور غر
زه يم ځوی د افغانستان د مور او پلار نه يمه زه
د ښتن فضلونه ډير دي خو دا لوی فضل د خدای دی
چې د خلکو خدمتګار يم او بادار نه يمه زه
وطندار د هر افغان يم چې له روس سره جنګيږي
د پردي د غلامانو وطندار نه يمه زه
نشم عرش ته زه ختلی د راکې[1] د غرو له څوکو
که ويشتلی په پيچومو د آسمار نه يمه زه



۱ - راکي (په امريکا کې د غرونو يوه سلسله)

که کمشیر او به مري[۲] کي ځان ته جوړې بنګلې کړم
سپیڅلی اتل ځوی د ننګرهار نه یمه زه
اوس چې زوړیږم ته پژواکه د ګناه طاقت دې نشته
لاپې مه کوه چټې چې ګنهګار نه یمه زه
(۲۸۴-۱۰)

ده په خپل فکر کې ملامت او سلامت لټوي چې هیڅ څوک یو بل ته تن نه ږدي. د جنګ ټولې خواوې ځانونه په حقه ګڼي، دی وایي دا خلک خرڅ شوي او د پردیو ګټو لپاره کار کوي او د پردیو لخوا ورته دستور ورکول کیږي او عمل پرې کوي. پژواک صاحب دغه بې اتفاقي او د پردیو لپاره کار داسې انځور کړی دی:

**څه به وشي؟**

چې څه شوي دي غم نه ګڼمه دا
څه به وشي ؟ ده ځما سره سودا
که راضي یا ناراضي یم له پرونه
تل ویریږمه له پېښو د فردا
په نفلونو مې محراب سوری کړ
فرض سنت مې نه کړل هیڅ کله دا
ځان ګڼمه افلاتون د زمانی زه
لویه نښه د جنون مې ده همدا
مساوات به لټوم په ګورستان کې
چې په کې شي برابر شاه و ګدا

۲ - مري (په پاکستان کې یو ښکلی ځای)

د لغړ فقير شړی د اخلاص راکړه
د واعظ ده د ریا جامه ردا
د وطن باغ مې سمسور کړه لويه خدايه
چې يې بيا شي بلبلان په کړيدا
د خپل کام د پريانو انعکاس يم
پژواک نه يم د پرديو د ندا

(۱۰- ۲۸۷)

### ۴-۱-۲ ادبي صنعتونه :

د عبدالرحمن پژواک په شعرونو کې ډير کم ادبي صنعتونه پيدا کيږي. يو څه اشاره به ورته وکړو:

#### ۴-۱-۲-۱ تشبيه:

(( ديوې معنى د بيانولو لپاره تر هر څه د مخه لومړی او ساده فني لاره تشبيه ده چې په شعر، نثر او ان په عادي خبرو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ډير وختونه د تشبيه څخه موخه د يو شي په ستايلو يا غندلو کې د مبالغې کول دي او يا د يو شي حقيقت او ماهيت په داسې توګه بيانول وي چې يو نا پيژندل شوی شی د يو پيژندل شوي شی سره تشبيه کوي.

د تشبيه اصلي تومنه اغراق او خيال زيږونه ده. يو شاعر د هغې مينې يا کرکې له امله چې له خلکو او شيانو سره يې لري، کوښښ کوي چې هغوی له خپل هغه حالت څخه چې لري يې، زيات يا کم وښيي)). (۵-۱۸)

د بیلګې په توګه:

دا وطن د کومې پېغلې تور اور بل دی
چې باد نه يې لا وهلی تار و مار شي
(۸-۸۷)

په پورته بيت کې د وطن پريشانه حالت، د هغې پېغلې له تار و مار اوربل سره په څه ښه ظرافت او ادبي انداز کې تشبيه شوی دی او نوې ښکلا يې زيږولې ده.

**۴-۱-۲-۲ تجنيس:**

د بديع په علم کې د داسې کليمو راوړل چې په تلفظ او ليکلو کې يو شان مګر په معنی کې توپير ولري، تجنيس بلل کيږي:

خلک وايي چې راغلی بيا اختر دی
دا چې چا باندې اختر دی خدای خبر دی
(۹-۲۵)

په پورته بيت کې لومړی اختر اسم دی چې عيد ته ويل کيږي، په دوهمه نيم بيتي کې اختر د خوشالۍ په معنی دی نو په تلفظ او ليکلو کې يو شان او معنی يې تغيير کوي.

**۴-۱-۲-۳ تضمين:**

يو شاعر که په خپل شعر کې د بل شاعر د شعر نيم يا پوره بيت او يا څو بيتونه راوړي، دا تضمين دی. که تضمين شوی شعر مشهور نه وي نو د شاعر نوم يې هم بايد ذکر شي، چې د غلا

گومان پـرې ونـه شي.

خيالي ګرځي په خمتا کې بې خياله
«رحمن کوږ دسـتار تړلی قلندر دی»
(۹-۲٦)

پـژواک صاحـب پـه خپـل بيـت کـې يـې يـوه نيـم بيتـي د پښـتو د مشـهور شـاعر رحمـن بابـا راوړې ده.

**۴-۱-۲-۴ طباق:**

په يو شعر کې د متضادو کليمو راوړلو ته تضاد ويل کيږي.

د وصال خوبونه نه وينم تل وينښ يم
که د چا يم منتباره د بيلتون يم
(۸-۳٦)

پـه پورتـه بيـت کـې ( وصـال او بيلتـون ) دواړه متضـادې کليمـې دي چـې د طبـاق صنعـت يـې منځتـه راوړی دي.

يا:

هم هغسې چې خندا کې هنر نشته
په ژړا کې هم له سره اثر نشـته
(۱۰-۲۷۹)

**۴-۱-۲-۵ مراعت النظير:**

پـه يـو شـعر کـې د دوه يـا ځـو داسـې کليمـو راوړل چـې رابطـه ياتناسـب سره ولـري.

په پردي اسمان کې بل شانته ځليږي
که هلال دی که سپوږمی ده که نمر دی
(۹-۲۵)

په پورته بیت کې د اسمان لپاره د هلال، سپوږمۍ او نمر کلیمې راوړل تناسب لري.

### ۴-۱-۲-٦ تلمیح:

په شعر کې کوم ایت مبارک، حدیث شریف، کومې پیښې، حادثې یا کومې قصې ته اشاره کولو ته تلمیح وایي:

تقدیر مه ګڼه فطرت د هغو خلکو
چې ازاد يې کړي مرى د بل بادار شي
(۸-۸۷)

په پورته بیت کې د حضرت یوسف او زلیخا داستان ته اشاره شوې ده.

### ۴-۱-۳ د عبدالرحمن پژواک د شعر خاصې سبکي ځانګړنې:

د معاصرې دورې له پیل سره د شاعرانو او لیکوالو په نظر او ذهن کې پراخ تغییرات رامنځته شول. له کلاسیکې دورې څخه د معاصرې دورې په ادبیاتو کې مضمونه، پیغامونه، ژانرونه او داسې نورو... کې پراخ تغییرات راغلل، د قافیه وال شعر تر څنګ ازاد شعر هم را خرګند شو، دا ټول هغه څه وو چې معاصره دوره یې له کلاسیکې دورې څخه جلا کړه.

نو ما هم کوښښ وکړ چې د عبدالرحمن پژواک د شعر هغه سبکي ځانګړنې په لنډ ډول را واخلم چې د معاصرې دورې له نورو شاعرانو او لیکوالو سره توپیر لري:

۱- ښاغلي عبدالرحمن پژواک د خپل عمر ډېره برخه په بهر کې تیره کړې ده، د ده شعرونو ته که زیات متوجه شوو، غم او درد نسبت نورو شاعرانو ته ډېر زیات لیدل کیږي، تقریبا هر غزل کې یې څو څو ځایه داسې بیتونه شته دي چې له هغې څخه واضح درد معلومیږي.

خندنی شوم دوست دښمن را پورې خاندي
ای زړګیه راته ژاړه نن دې وار دی
(۱۳-۱۰)

که څوک راشي زما کلاته او پوښتنه وکړي وایه
کور یې وران دی اور یې مړ دی، دی پخپله در په در دی
(۸-۲۲۸)

۲- بله سبکي ځانګړنه یې دا ده چې دی پخپلو اشعارو کې پر کوم ځانګړي فرد یا شخص باندې نیوکې نه دي کړې، که نیوکه کوي یا په ځان او یا هم په ټوله ټولنه باندې نیوکی کوي.

اوس چې زوړ یې ته پژواکه د ګناه طاعت دی نشته
لاپې مه کوه چتې چې ګهنګار نه یمه زه
(۹ – ۵۲)

۳- بله مهمه سبکي ځانګړنه چې د ده په شعرونو کې په پراخ ډول پیدا کیږي، هغه د خبرو ژبې ته ورته انداز دی چې دې ډول شعر کې شعریت ډېر کم پیدا کیږي.

په ظاهر کې ډېر خیالي دي دا وګړي
په باطن کې زښت خالي دي دا وګړي

په عمل کې يې برى موندلى نه دى
په وينا کې بريالي دي دا وګړي
(۳٦-۸)

۴- د شعر بله سبکي ځانګړنه دا ده چې عام لغتونه راوړي، هغه لغتونه چې عامې پښتو محاورې ته ورته وي. مثلا د قافيې کليمې ته يې وګورو: خبردار، هوښيار، بيدار، بادار، وطندار، ګنهکار.

۵- کوم شعرونه چې ما پيدا کړل په هغو کې متلونه او اصطلاحات ډير نه ليدل کيږي، يعنې په نشت حساب دي خو په ازاد نظم کې يې بيا ليدل کيږي.

٦- يوه ځانګړنه يې دا ده چې په ازاد نظم کې يې د خپلې لهجې تاثيرات ډير زيات ليدل کيږي مګر په قافيه وال شعر کې لهجوي تاثيرات هيڅ نه لري.

۷- د ده په شعرونو کې ادبي صنعتونه لکه: مراعت النظير، طباق، تجنيس، تضمين او تلميح شته. د دې ټولو لپاره يې ډير ساده لغتونه غوره کړي دي نه هغه درانه او سخت لغتونه چې نور خلک يې په خپلو شعرونو کې استعمالوي. يعنې د ولس د ژبې تشبيهات لري خو طباق صنعت تقريبا په ډيرو بيتونو يا هر غزل کې پيدا کيږي.

۸- د ده په کلام کې يوه بله ځانګړنه روانوالى او سلاست دى او د شعر موسيقي يې بې زحمته روانه ويل کيږي. هغه کلام چې روان ويل کيږي، د بلاغت عالمانو سليس کلام بللى دى، سلاست

یا روانوالی د وینا د ښکلا یو شرط دی.

هغه گل چې گل خانه کې پریوتلی
په هر فصل کې تازه دی غوړیدلی
د دنیا نه گل خانه جوړه کړه ځان ته
نظر مه کوه بهار ته او خزان ته
(٦ -٢٠٨)

٩- د ده په اشعارو کې سجع هم په پراخه پیمانه مراعت شوې ده چې د ده د اشعارو مهمه ځانگړنه ده.

اریانا کې د سوما تر ځنگ یو گل و
چې اشنا نه د بورا نه د بلبل و
(٦-٢٠٨)

خو دا نور خبرې واړه د عقبی دي
دا د زور دنیا ده زور د زورور دی
(٨-١١٩)

١٠- د عبدالرحمن پژواک په شعرونو کې د (که) وییکی تر نورو شاعرانو زیات کارول کیږي چې د ده کلام نه یې ښکلا اخیستې ده.

چې د ده په داورۍ باندې باور دی
که مغل نه وي او هسې تمغل کړي
زه پخپله خبر نه یم خو خالق مې پرې خبر دی
چې که نن وي که سبا وي د دنیا نه مې سفر دی
(٩-٢٥)

۱۱-د عبدالرحمن پژواک زیاتره شعرونه په چست وزن باندې ویل شوي دي او همدارنګه کله کله یې په کلام وزن ټکنی ښکاري چې دا یوه مهمه ځانګړنه ده.

چست وزن:

بې مغزان به ارسطو او اپلاتون شي
خو د مینې لیوني به هوښیار نه شي
که د زړه اشنا دیدار ته دې وي سترګې
پام کوه چې رقیبان دی خپه نشي
(۱۴۵-۸)

ټکنی وزن:

شپه اوږده، تاریکه ده خو ډاډه یم
خنښ په زړه یې د سپید ځلند خنجر دی
(۴۲-۵۳)

۱۲- بله مهمه ځانګړنه د ده کلام دا ده چې د نورو شاعرانو په شعرونو کې زیات نه لیدل کیږي چې هغه د یو اسم یا فعل لپاره څو صفتونه یا قیدونه راوړي.

د امید ډیوه چې مړه شي هیله مکړه
چې بل بیا په سترګو اور د انتظار شي

۱۳- د ده د اشعارو بله ځانګړنه دا ده چې په شعرونو کې یې د نورو شاعرانو په نسبت د (مینې، بهار، خزان) کلمو تکرار ډېر دی.

د هجران په لنبو وسومه ایرې شوم
چې ځما سره د مینې نور څه کار وي
(۱۳-۱۰)

که ژوندون وي تل بهار دی دا جهان هو!
د ژوندون دپاره نشته دی خزان هو!

۱۴- د پـژواک صاحـب پـه شـعرونو کـې نسـبت نـورو شـاعرانو تـه اسـطورې ډېـرې دي خـو د پـژواک صاحـب ځانګړنـه پـه دې کـې ده چـې د نومـوړي پـه شـعرونو کـې اریایـي اسـطورې زیاتـې دي او ځانته یـو اسـطوره یـي نظـام جـوړوي.

اریانا کې د سوما تر څنګ یو ګل و
چې اشنا نه د بورا نه د بلبل و
(۲۰۸-٦)

## ۴-۲ د عبدالرحمـن پـژواک هـنري نثرونـو کـې سـبکي ځانګړنـې:

د انسـان لـه هسـتۍ سره سـم هـنر هـم رامنځتـه شـوی دی، دپیدایښـت لـه ورځـې څخـه تـر اوسـه پـورې بېلابېـل پړاوونـه وهـلي او ورځ پـه ورځ یـې د انسـاني ژونـد اړتیـاوو د پـوره کولـو لپـاره یـې ډولونـه زیـات شـوي او لـه یـوې ورځـې نـه یـې بلـې ورځـې تـه پرمختـګ مونـدلی دی او نـوي بڼـې یـې رامنځتـه شـوي دي.

د هیـواد تکـړه لیکـوال محمـد صدیـق روهـي پخپـل اثـر (ادبي څېړنـې) کـې د هـنر پـه بـاب داسـې نظریـات راوړي: (( هـنر د ټولنيز

شعور او بشري فعالیت یو ټاکلی شکل دی چې واقعیت په هنري ایماژونو کې منعکسوي او په استیتک ډول سره د نړۍ د پیژندنې او انځورونې وسیله ده.

هنر د ایستتیک فعالیت او د ټولنیز شعور یو خاص شکل دی. هنر عینې واقعیت ( ټولنیز ژوند او طبیعت) منعکسوي او انسان ( د ده کار او باطني جهان) ته خاصه پاملرنه کوي ... په ګرافیک بڼه د ژوند انعکاس د هنر عمده ممیزه ده؛ ځکه په دې وسیله هنر له ساینس او فلسفې څخه بیلیږي. علم او فلسفه جهان د مفهومونو او مقولو له لارې څیړي، لیکن بشریت نه شي کولای چې د جهان په برخه کې یوازې په علمي پوهه باندې بسنه وکړي. انسان د ژوند د پوهیدلو او ثبتولو لپاره له نورو وسیلو څخه هم کار اخلي، داسې وسیلې چې د طبیعي پدیدو له تحرک او روښانتیا سره مرسته وکړي. دا د هنر وظیفه ده چې ژوند په مجرده توګه نه بلکې په مشخصو انځورونو کې ترسیم کړي)). (۳۱ - ۲٦)

نثر په لغت کې تیتولو او پاشلو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې هغه کلام دی چې وزن او قافیه ونه لري. د موضوع له مخې نثر په درې برخو ویشل کیږي.

۱- فلسفي نثر

۲- تاریخي نثر

۳- هنري او ادبي نثرونه

د کابل پوهنتون استاد پوهاند محمد رفیق په خپل

کتاب ( اوسنی پښتو هنري نثر) کې د هنري نثر په اړه لیکي:
(( هنري نثر د ژبنی ښکلا، احساس، عاطفې او عندي ذوق په درلودلو سره رامنځته کیږي، د دې نثر په ایجاد کې د نثر د نورو ډولونو په پرتله د احساس، عاطفې او ذوق تله درنه وي. په هنري نثر کې د نورو علومو په څیر فرضیې، ثبوت، شننې او ازمیښت ته اړتیا نشته، د دې ادبي فورم بنسټیزې برخې هنري ذوق، احساس، عاطفه او ژبنی ښکلا جوړوي. په هنري نثر کې د فلسفي، علمي، تحقیقي، تاریخي نثرونو پر خلاف له ادبي صنایعو څخه کار اخیستل کیږي. په هنري نثر کې هره غونډله او یا پراګراف ځانته سمبولیکه معنی تعبیر او تفسیر لري، هنري نثر د شعر په څېر تعبیر او تفسیر لرلی شي یا شعر ته ورته ځانګړتیاوې لري. هغه ځانګړتیاوې چې هنري نثر لري، په عادي او نورو نثرونو کې نه لیدل کیږي.

هنري نثر چې شاعرانه نثر هم بلل کیدای شي تر عادي نثر نه شعر ته نږدې وي، دغه ډول نثرونه چې شعر ته ورته وي، د عربو په نومونه یې مقامه بولي... .

د هنري نثر سبک د نورو عادي، فلسفي، تاریخي، تحقیقي نثرونو څخه زیات توپیر لري، د دې نثر له لیدو اوریدو څخه په عمومي توګه جاج اخیستنه د کرکټرونو په جوله کې یو څه اسانه کیږي مګر د ټولو انسانانو لپاره بیا هم یو ډول د پوهیدو وړ نه وي.

په هنري نثر کې د ساده او رواني ژبې کارول ډېر غوره توکي

بلل کیږي. ویینو، استعارو، کنایو، تشبیهاتو، علاقو، ملایماتو او قرینو سره د لوستونکي یا اوریدونکي ذهن یې د پروني ازمېښت په څېر ومني.

نه داسې چې له ژبني پلوه په هنري نثر کې هره ګړۍ د لغاتو د مانا او لپاره ډیکشنري ته مراجعه وشي، که چیرې د داسې ویینو شمیر په یوه هنري نثر کې له ټاکلې کچې زیات شي، هغه نثر بیا خپل هنري کیف له لاسه ورکوي)). (۲۹-۲۱)

عبدالرحمن پژواک په هنري نثرونو کې ډېر پراخ لاس لري، جذابه او زړه راښکونکي نثرونه یې له پیغامونو سره خپلو خلکو ته وړاندې کړي دي. اوس به یې نمونې وګورو:

### ۴-۲-۱ سیلۍ

ای توندې سیلۍ له کومه راځې؟

له تا د کوم اشنا بوی رارسي، ولې د پردي او بېګانه په شان له ما تېرېږې؟ ودرېږه! اخر ماته دې د کوم سرور هیڅ پیغام نه دی راوړی؟ تا هیڅ اه او کاته ګېرولای نه شي  نو چیرې ځې، لږ ګړۍ ودرېږه! زما منتظرې سترګې یاءس او تاریکۍ ته مه سپاره، یو وار مخ راوګرځوه، ګوره چې یوازې یم، په زړه مې ننوزه او هلته د ارزوګانو سوی اور مړ که.

ډېره ارزو لرم چې څه ګړۍ ستا په سرو غېږ کې وربېږدم، پریږده چې ستا د لمنې کومه ښنده ونیسم، غواړم چې ما پر خپلو تېزو او توندو وزرو واخلې په غرو، شیلو، درو، جلګو، شنو

کښتو او دښتو مې وګرځوي، پر سیندو، دریابو او لویو ژورو سمندرو د پاسه مې تېر کړي، خو هغه ځای ته ورسو چې ته نوره نه شې تلای، هلته به مې نو خپل روح د لارې مل او لار به راوښيي. هغه وخت به ستړیا ما په داسې خوب ویده کړي چې له خپلو ښکلو خوبو سره یو ځای شوی او له لویو طوفانو څخه به مستغني او بې نیازه شم.

راشه ما ته قصه وکړه چې ته څه شي پردېسه او لالهانده کړې یې، زما د ځنګله د تورو شپو افسانې ډېرې خوښې دي، د بلوط د ونې قصه وکړه چې توندو تېزو الوتو پر هغې تاثیر ونه کړ، د کمزورې درګۍ خبرې راته ووایه چې و تاته پر ملا کږه او تا هیڅ هم ورته ونه کاته، ته ویلای شې چې د رود خانې له خروښه تا څه واروېدل او د دریاچې په سکوت کې څه پټ وو؟

زه غواړم وپوهېږم، هغه وخت چې لمر لوېږي، د شپې تیاره خورېږي، اسماني ستوري او سپوږمۍ ځلېږي، په هغه وخت کې د لمر ارزو وراختو ته یا پردیسې ته چې غواړي په ډېرې چابکۍ لار پای ته ورسوي د ورځو روښانه جاده یاد توپانې شپو تاریکه لار، کومه یوه سمه ده؟ دا د خاورو کوچنې کوچنې ذرات چې ستا لمنه یې ګرځمنه کړې ده، پخپله له تا سره راغلي که تا دوی له ځانه سره راوړي دي.

د بیابان وحشي ګلونو ورمې ولې ته پر نیمې لارې پرېښودلې او دوی له تا سره رانغله یا تا ونه غوښته چې درسره وي؟ څله خپل رازونه له ما پټوې؟

هغـه شـپه چـې لـه غـره نـه راکـوزه شـوې، د دښـت د بوټـو پـه منځ کـې دې کـوم ورک شـوی پلاټه؟

د هغـې بلـې ورځـې ماښـام دې څـه خيـال و چـې د هغـه يـوازې او ارزومنـد شـپانه د دروې (نـی) اواز دې غـلا کاوه، هغـه دې چـا تـه ارمغـان ووړ؟

هغـه ورځ چـې دې د پاچاهـۍ بيـرغ ورپـاوه او پـه يـوه لحظـه دې خپـل ځـان د هغـه بېنـوا و زاړه ځيـرې لسـتوڼي تـه ورسـاوه، تـا څـه غوښـته چـې څـه وکـړې؟ ايـا کومـه پيښـه دې غـلا کـړې وه؟

رښـتيا تـه کـولای شـې چـې د شـپې پـه ظلمـت، سـکون او تنهايـي کـې د شـنې پاڼـې د ريږېدلـو لـه حقيقتـه مـا خبـر کـړې، يـه زه غـواړم چـې يـو وار دا مهمـه او مجهولـه پـرده چـې زمـا پـه سـترګو يـې غوړولـې ده، پـه هـوا پورتـه کـړی بيـا نـو زه کـولای شـم چـې پـه هغـه ښـکلي بـڼ او ښايسـته باغچـه کـې ننـوزم، مګـر هلتـه ښـايي پـه نرمـۍ او ملايمـت سره وګرځـې، مبـادا چـې د هغـه بـڼ ښـکلې غوټـۍ او شـګوفې ورژيـړې! (۱۲ – ۲۵)

### ۲-۲-۴ د شهيد پر مزار شمع

تپـه تيـاره او تـوره تروږمـۍ وه، شـپې خپـل تـور وزرونـه خپـاره کـړي وو، کاينـات داسـې پټـه خولـه وو، چـې تـا بـه ويـلای د لـوی اقيانـوس پـه بسـتر کـې کـوم غـر سـاکت او جامـد پـروت دی.

دنيـا لکـه تـور ديـو چـې ويـده وي، د اطمينـان پـه عـالم کـې لا هـم د هغـې د درونـدوالي او سـام احسـاس پـه زړه کـې کېـده.

یوه مسته وږمه چې د قدسي نفس او د عشق له روحه سره یې ډېر شباهت درلود، چلیدله او د یوې داسې رنګ الوتی او مرتعشی رڼا سره لګیدله چې دا رڼا د هغې نامرادۍ نجلۍ د باړخوګانو په څېر زیږه وه چې د مرګ غم او د زلمیتوب حسرت متاثره کړې او مرګ ته نږدې پرته وي. دې رڼا د شپې په ظلمت او سکوت کې د هر چا کاته و ځانته را اړول، دومره ځینې لرې وم چې ما هغې ته ځان په ډېرې ستومانۍ ورساوه، چې کتل مې یوې شمعې په خپلې رڼا د یو مزار ډېرې روښانه کړې دي. په زرګونو زړونه له ارزوګانو څخه ډک په یوه هدیره کې پراته وو.

اه، دا ټول ښه او بد امیدونه څرنګه د تورې خاورې په زړه کې ځائیدلی شي، ما غونډې سرې ته به ډېر د امید ځای و، که یې قبرونه داسې جوړ کړي وای چې له مخکې څخه یې هیڅ لوړوالی نه درلودای. د مړو نښې او خاطرې مې نه پېژندلې او په دې نه پوهیدلای چې دا هغه ځای دی چې زما له سینې سره مشابهت لري چې دلته هم د هغه زړه سراغ کېدای شي چې ګنې یو وخت به د مینې په حرکت خوځیده او اوس خاموش دی.

موږ چې د تېرو شوو خاطراتو دروند بار نه شو اخیستلای نو ولې داسې مسایلو ته لاس اچوو چې د هیرې لار را باندې وتړي؟

زه به ولې دې ته مایل یم چې تر هغه وروسته چې زما د عمر طومار ونغښت شي او ما په تورو خاورو کې کېږدي نو د قبر یا مزار په نامه کومه خاطره ولرم؟ چې یوه ورځ کوم غمجن پردیس او یا حساس مسافر متاثره کړي او یا شمع پر هغه اوښکې توی

کړي او حال دا چې د ملګرو په خاطر کې به زما هيڅ ياد هم نه وي.

مګر د هغه کسانو د خاطراتو پاتې کېدل روا دي چې د ازادۍ په لاره کې يې کفنونه سره کړي او تر څو چې د دنيا د عمر ډېوه مړه شوې نه ده، د دوی ياد زموږ د زړونو دنيا رڼا کوي. (۱۳ – ۲)

### ۴-۲-۳ د عبدالرحمن پژواک د هنري نثر خاصې سبکي ځانګړنې:

۱- د پژواک صاحب تر ټولو مهمه سبکي ځانګړنه دا ده چې کله د کوم هنري نثر په ليکلو پيل کوي نو په لومړۍ جمله سواليه يا ندايه باندې پيل کوي.

۲- د عبدالرحمن پژواک د هنري نثر بله مهمه ځانګړنه په هنري نثرونو کې خپل مطلب په داسې پوښتنو کې وړاندې کول دي چې ځواب ته ضرورت نه لري.

۳- د عبدالرحمن پژواک د سبک بله ځانګړنه که چيرې څوک د ده هنري نثرونه تر پايه مطالعه نه کړي مطلب ترې په اسانۍ نه شي اخيستلای.

۴- تر ډېره پژواک صاحب کوښښ کړی چې له معياري لغتونو استفاده وکړي خو بيا هم لهجوي لغتونه يې هنري نثر کې پيدا کيږي.

لکه : درګۍ، دروی، چابکۍ....

۵- د هنري نثرونو د جملو جوړښت يې ساده دی، هر جمله

یې فعل لري او لنډې لنډې ویل کیږي.
مثلا: زه غواړم وپوهیږم، هغه وخت چې لمر لویږي، د شپې تیاره خوریږي، اسماني ستوري او سپوږمۍ ځلیږي.
٦- د ده په هنري نثرونو کې بله مهمه ځانګړنه د حسن تعلیل ده. حسن تعلیل شاعرانه دلیل ته وایي، معنا دا چې که دلیل واقعي و، حسن تعلیل نه دی خو که غیر واقعي و او د خپلې ښکلا په وجه اثرناک و، حسن تعلیل دی. دی هم شاعرانه غیر واقعي دلایل په نثر کې بیانوي چې ډیره ښکلا یې د هنري نثرونو ته وربخښلې ده.
لکه: ((یوه مسته وږمه چې د قدسي نفس او د عشق له روحه سره یې ډیر شباهت درلود، چلیدله او د یوې داسې رنګ الوتې او مرتعشې رڼا سره لګیدله چې دا رڼا د هغې نامرادې نجلۍ د باړخوګانو په څېر زیړه وه، چې د مرګ غم او د زلمیتوب حسرت متاثره کړې او مرګ ته نږدې پرته وي)).
٧- خپل هدف ته د رسیدلو لپاره له ادبي استدلال څخه کار اخلي، ذهن راپاروي او لوستونکی دې ته هڅوي چې زیات فکر او سوچ وکړي.
٨- د عبدالرحمن پژواک د هنري نثرونو بله مهمه ځانګړنه دا ده چې په انځور باندې زیات زور د الفاظو موسیقي په قوت اچوي او لوستونکی دومره غرقوي چې اصلي موضوع ورکه کړي.
((تپه تیاره او توره تروږمۍ وه، شپې خپل تور وزرونه خپاره کړي وو، کاینات داسې پټه خوله وو چې تا به ویل، د لوی

اقیانـوس پـه بسـتر کـې کـوم غـر سـاکت او جامـد پـروت دی)).

## ۳-۴ د عبدالرحمن پژواک د هنري ژباړو سبکي ځانګړنې:

عبدالرحمـن پـژواک پـر پښـتو او دري ژبـو سربیره پـه انګلیـسي او فرانسـوي ژبـو پوهیـده او پـه دې ژبـو کـې یـې ډیرې لیکنـې کـړې دي. هغـه د دغـو ژبـو د لویـو شـاعرانو شـعري او هـنري نثرونـه پښـتو او دري ژبـو تـه خـورا پـه خـوږه قریحـه ژبـاړلي دي. دغـه ژبـاړې یـې دري ژبـه کـې ډیرې دي. پـه پښـتو ژبـه کـې یـې ترجمـې ډیرې کمـې دي او دومـره نـه دي چـاپ شـوي.

یـو لیکـوال د ژبـاړې پـه اړه لیکـي: (( ژبـاړه پـه اصطـلاح کـې د لومـړۍ ژبـې د کلیمـو لپـاره د نـژدې او دقیـق انـډول موندلـو تـه وایـي خـو چـې د لیکـوال وینـدود او سیاق خونـدي وي، ژبـاړه لـه یـوې ژبـې نـه بلـې ژبـې تـه د افـکارو، غوښـتنو، قوانینـو، کیسـو، هنرونـو، پوهنـو او نـورو د لیږد وسـیله او د نـا هـم ژبـو خلکـو تـر منـځ فرهنګـي تړښـت او اړیکـه ده .... ژبـاړه ژبـه لـه علمـي او ادبي پلـوه بډایـه کـوي، بډایـه ژبـه هغـه ده چـې د هـرې علمـي او ادبي موضـوع اثـار پـخ کـې وي او دا کار لـه ژبـاړو پرتـه ناشـونی دی.

د عباسـیانو پـه وخـت کـې چـې لـه یونـاني نـه د اپلاتـون او ارسـتو د فلسـفي او ادبي اثـارو ژبـاړل پیـل شـول؛ نـو هـم ورسره عـربي وغوړیـده او هـم پـه اسـلامي نـړۍ کـې پـر علمـي او ادبي مسـایلو بانـدې فکـر پیـل شـو. منطقـي علمـي اسـتدلال تـه یـې لاره هـواره کـړه او د معانـي،

بیان او بدیع علم....

ژباړه په عملي او ادبي موضوعاتو کې ژباړن د فکر کولو لارې ته سیده کوي او د لیکلو مهارت ورښيي. تر ژباړې مخکې سړی حیران وي چې څه ولیکم؛ خو چې ژباړه شروع کړي نو د موضوعاتو دروازې ورته خلاصې شي. ځینې خلک کله یوه نیمه موضوع پیدا هم کړي خو بیا یې د لیکلو په چل نه پوهیږي نو که ژباړن وي، سملاسي پرې لاس پورې کړي، ځکه د ژبې په نزاکتونو او لیک پوه وي او لیکل یې د چپ لاس کار وي. په پښتو کې ډیر کسان د ژباړې له لارې لیکوال شوي؛ نو دا خبره سمه نه ده چې ژباړه د ژباړن فکري خپلواکي اخلي او له تخلیقه یې پریباسي)).
(۱-۳۶)

واصف باختري په خپله یوه مقاله کې لیکي: (( ژباړه د ژبې له پردو څخه تیریدل دي چې موخه یې له یوې ژبې نه بلې ژبې ته د انتقال د اړتیا پوره کول، د احساس او اګاهۍ رسول دي خو په دې شرط چې د هغه احساس حق په دویمه ژبه کې هم په ښه توګه ادا شي .... ژباړه په دوهمه ژبه کې د لومړۍ ژبې د پیغام د ډیر نږدې او طبیعي معادل پیدا کول دي، لومړی د معنا، دویم د سبک په لحاظ یا ترجمه عبارت ده په دویمه ژبه کې د لومړۍ ژبې د ډیر نژدې طبیعي مانیز او سبکي معادل له پیدا کولو څخه )). (۴-۱۹)

که چیرې یو څوک له نورو ژبو څخه ژباړه کوي، تر ټولو لومړی ورته ضرور دا دی چې هغه باید په دواړو ژبو په بشپړ ډول

بلـد وي یعنـې هـم د خپلـې ژبـې او هـم د بلـې ژبـې لـه کلیمـو، ترکیبونـو، اصطلاحاتـو، متلونـو، جملـو، د جملو لـه ترتیـب، ډولونـو او نـورو ژبنیـو بارکیـو او ښـیګڼو خبر وي کنـه ژبـاړه بـه یـې ګونګـه، ګـډه وډه، بـې معنـا، بـې خونـده او بـې اغیـزې وي.

نـو ویلـې شـو چـې ښـه ژبـاړه هغـه ده چـې نـه پـه کـې لـه لیکـوال او نـه خپلـې ژبـې سره خیانـت وکـړي، د لیکـوال خـبره دې بـې لـه کمولـو زیاتولـو دقیقـه راژباړلـې وي او د لیکـوال سـبک یـې سـاتلی وي.

اوس به د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د ژباړو څو نمونې وګورو:

## ۴-۳-۱ مړه بنفشه

هغـه ګل چـې وړمـه یـې لکـه سـتا خوشـبویه مچـې هـو! زمـا روح سر لـوړی کاوه، خپلـه خوشـبویي یـې بایللـې ده.

هغـه ګل چـې خپلـه تـازه ګـي یـې لـه تـا څخـه اخیسـتې وه او سـتا پـر مـخ غوړیدلـی و، خپـل رنـګ یـې د لاسـه ایسـتلی دی.

اوس یـو مـړاوی شـی او بـې ځایـه او بـې صورتـه شـکل دی چـې زمـا پـر سـینه پـروت دی او پـر هغـه زړه چـې تـر اوسـه لا د غلي تـوب او پټـه خولـه او سـوړتیا څخـه تـود دی، لوبـې او مسـخره یـې بـولي، ژاړم منګـر اوښـکې مـې نـه شـوای کـولای چـې دا ګل تـازه او شـین کـړي.

اه کاږم، منګـر نـور مـې نـه شـوای کـولای چـې هغـه ورکـه وړمـه دې پیـدا کـړم. د دې ګل دغـه ګنـګ مقـدرات لکـه زمـا مقـدرات داسـې دي چـې تـر ابـده شـکایت نـه کـوي او نـه غـواړي چـې و یـې

کـړي.(۱۳– ۲۱)

**۴-۳-۲ سوې ناره**

ای نړۍ! ای ژوندونه! ای زمانې!

ای هغـو شـیانو چـې زه خپـل سـتړي قدمونـه د ختلـو پـه لاره کـې تاسـې تـه اخلـم او لـوړ خېـژم، هـم پـه داسـې حـال کـې چـې لـه ډاره ځخـه د هغـه ځـای چـې یـوه گـړۍ مخکـې هلتـه وم، رېږدېـدلم.

ایا هغه ستا د لاسه تللی برم او لویي به کله بېرته راشي؟

هیځکله .... اوه هیځکله !

لـه شـپې او ورځـې ځخـه فرصـت او خوښـي تېښـته کـړې ده، پسرلـی، دوبـی، منـی، ژمـی زمـا زړه و غـم او خوابـدي تـه ورکـوي!

منگر دا چې هغه یې و خوښی ته وسپاري، څه وخت به وي!

هیځکله .... هیځکله !

(۱۳-۲۰)

دا هـم د انگلیـسي د نامتـو شـاعر شـیلي د یـو شـعر ژبـاړه چـې سر لیک یـې دی:

**۴-۳-۳ سبا**

چیرې یې ای ښکلیه سبا؟

هغـه وخـت چـې مـوږ زاړه او زلمـي، غښـتلي او کمـزوري، بډایـان

او بې وزلي، د خوښۍ او خواشينۍ په لحظو کې ستا خوږه خندا پلټو، ستا هر ځای او ستا په عوض کې هغه شی پیدا کوو چې له هغه څخه تبتیدلي یو، هغه څه شي دی؟ «سبا» (۱۳-۲۰)

### ۴-۳-۴ د عبدالرحمن پژواک د ژباړو خاصې سبکي ځانګړنې:

۱- د ده د ژباړو یوه مهمه سبکي ځانګړنه دا ده چې هغه کلیمو کې چې وصلیه (و) ضرورت نشته (و) کارونه زیاته ده. لکه: و غم، و خوښي....

۲- د ده د ژباړې بله ځانګړنه دا ده چې د ژباړې ژبه یې ډېره روانه عام فهمه او ساده ده.

۳- دی په ژباړو کې د مګر کلیمې لپاره د خپلې جملې د موسیقیت لپاره (منګر) کاروي.

۴- دی په ژباړو کې د (او) وییکی تر بل هر وخت زیات کاروي یعنې هغه ځای کې چې ضرورت هم نه وي، کار ترې اخلي.

۵- د ده په ژباړه کې بله ځانګړنه دا ده چې هېڅو د ژباړې ګومان پرې نه کیږي چې دا به ژباړه وي.

٦- د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د ژباړو سبکي ځانګړنه دا ده چې د بلې ژبې ترکیبونو لپاره یې په پښتو ژبه کې شاعرانه ترکیبونه پیدا کړي او کار یې ترې اخیستې دی.

لکه: ښکلیه سبا، خوږه خندا، ورکه ورمه، ګنګ مقدرات....

۷- شاعرانه انځور او تصور یې خپلو ژباړو کې په رنګین ډول ساتلی دی.

۸- په ژباړه کې یې ټکي په ټکي او شډل لغتونه او جملې نه دي کارولي.
۹- د ده د ژباړو بله مهمه ځانګړنه دا ده چې جملې یې لنډې او ساده دي، اوږده عبارتونه او جملې نه لري.

### ۴-۴ دعبدالرحمن پژواک ساده نثرونو سبکي ځانګړنې:

ساده نثرونه هغه نثرونو ته ویل کیږي چې ساده، اسانه او عام فهمه وي. د خلکو محاورې ته نږدې وي یعنې د خلکو تر منځ افهام او تفهیم په اسانۍ وشي، پخوا په کلاسیکه دوره کې نثرونه یو څه په مشکل سره لوستل کیدل خو کله چې معاصره دوره پیلیږي په هغه وخت کې د نثر برخه ډیره ساده کیږي، د عامو خلکو محاورو ته له بل وخته ډیره نژدې کیږي.

ښاغلی عبدالرحمن پژواک هم د خپل وخت په مجلو او کتابونو کې ساده نثرونه لیکلي دي. نوموړي په ډیره ساده او اسانه نثر علمي، سیاسي، تاریخي او ژورنالیستکي لیکنې، څیړنیز تحلیلي او تشریحي اثار لیکلي دي. اوس به یوه نمونه چې په ۱۳۲۰ ه ش کال کابل مجله کې (د استقلال دوریشتم کال) تر سر لیک لاندې چاپ شوې ده، وبه ګورو:

### ۴-۴-۱ د استقلال درویشتم کال

((لومړی د لوی ځښتن نوم یادوو، بیا د هیواد سعادت او هوسایي غواړو. وروسته تر دې د خپلواکۍ د درویشتم کال جشن

تبریک او خپل تاوده احساسات او قلبي جذبات ښاغلو گرانو وطندارانو ته او د دې مجلې محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو او پس له هغه شهید شانداره پادشاه چې دا ټولې رڼاگانې د هغه د توري د برېښ او سیوری لاندې زمونږ نصیب شوی دی، احترام او یادونه کوو. په پای کې خپل لوړ سرونه د نیاز په خاورو ږدو چه دا راکړل شوي نعمتونه په مونږ پیرزو کړي او مونږ ته طاقت او توفیق راکړي چې خپله خپلواکي او ملي شانونه د ځلمي ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهر شاه تر توري او سیوري لاندې وساتو او لکه خپل شانداره پلرونه مدام د خپل حق محبت په خپلو وینو مهر کړو او په هسکه غاړه او سر لوړی ژوندون تر سره کو او راتلونکي نسل ته هغه میراثونه پریدو چې مونږ ته له پخوانیو څخه پاتې دي او مونږ په هغه فخر او مباهات کوو.

خپلواکي! هو هغه خپلواکي چه زمونږ د خوشحالی پنگه ده او مونږ یې په لار کې چراغونه بل کړي دي.

خپلواکي! هغه کلمه ده چه په حقیقي سعادت او ثابت حق ترجمه کیږي او د صحیح افتخار، شانداره ژوندون او د وتلی ارماند مترادفه کلمه ده.

خپلواکي! هغه سوال چه گرد فلاسفه په اتفاق وربانديې ټول شوي او ویلي دي چه دا هغه شی دی چه بشر ورته احتیاج لري او دا احتیاج یو فطري او طبیعي احتیاج دی چه لکه هوا د ژوندون لومړی شرط گڼل کیږي. خپلواکي او اختیار په حیات کې یوازې د انسان ثابت حق او ضروري احتیاج نه دی بلکه حیوانات او نباتات

هم په دې کلیه کې شامل دي.

حق د هر چا په نظر کې یو شانی نه وي، حق هلته پیژندل کیږي چه یو واری لاس ته راشي او سړی د هغه په لذت پوه شي، ډیر داسې مثالونه شته چې دا مدعا ثابتوي. د مثا ل په ډول میراث هلته د زوی په زړه کې خوږ شي چه وپوهیږي دا د پلار نه پاتی حق دی.

نو د پښتون د زوی مینه له خپلواکی سره ډیره زیاته ده او د پښتون زوی پوهیږي چه خپلواکي او توره د ده لومړی میراث دی.

نو مونږ په دې خوښ یو چه مونږ خپل حق پیژنو او د حق ساتنه هم په سر او زر او د زړه په وینو هم مونږ ته په میراث پاتې ده او کلکه عقیده لرو چه دا به تر ابده ساتو او د دې په ساتنه خپل ناموس، شرافت، شان پښتنولي او ژوندون ساتو)). (۱۱-۱)

پورته لیکنه په عام ډول ساده، روانه او سلیسه وه. کوم سخت او مشکل لغتونه نه لري او په لوستونکي باندې کوم بد تاثیر نه کوي. اوس به یې یوه بله لیکنه د ملي اشعارو تر سر لیک لاندې وگورو:

### ۴-۴-۲ ملي اشعار:

((البته دا ټول به د دې دپاره وي چه تاسې دا میل درلود چه څو دقیقې د سپین غر سرودونو او د ننگهارا ترانونه ته غوږ ونیسئ او یا دا چه غوښته مو چه تاسې هغه مستانه نغمې چه د گندهارا او کاپیسا د تاکستان د شکلی نسیم په غیږ کې روزلی شوی او

ستاسې د پهلوانانو او (پروتو) پلرو او ورونو د غښتلې او پیاوړې روح له مستۍ څخه ایجاد شوی دی، واوري.

پریږدئ چې څو لحظې د (روه) د هوا ښکلی نسیم ستاسې په مخ لګیږي، هو! هغه کسان چه د دوی روح د عشق او جمال له لوړ عالمه څخه او د صفا او جلال له هسک اسمانه څخه سپیڅلتوب او پاګیزګی راوړې ده، دا غواړي چه د سپینو بازانو او زړورو زمریو د عشق او مستۍ او شوربدګۍ افسانې په دې روڼه او اوریځ لرې فضا او د ستورو ډک افتابي افق کې په صافه بارانی هوا کې، د سر درو په منځ او په لوړو باعظمتو غرو کې، د اریایایي د بزرګ طبیعت په غیږ کې، په ښکلې ځالې او محبوبه زانګو او مقدس وطن کې واوري.

نو یقین لرم چه ستاسې زړه غوښته چه دې عشقي نامو او د محبت طومارو ته چه کوترو له یوه زړه څخه بل زړه ته یعنې د ارغنداو له وادي څخه د اسمار او کامدیش شنو او ښکلو درو ته او له یوه لوی روح څخه و بل عظیم روح ته یعنې له هندوکش څخه سپین غره ته نقلول، تاسې ته ووایم.

خو کاشکې ما کولای شوای چه هغه نغمه او سجعه چه په روحانی وزرو کې یې ځای دی، تاسې ته ژوندۍ کړم! دا باید تاسې له هغه زلمې نه اورېدلې وای چه په دې ګړۍ کې چه پټه خوله یې او زه خبرې کوم، ده له خپلې کېږدۍ څخه لرې و یوې لویې ګارې ته تکیه کړې ده.

چې د غرو او شیلو لوی او ښکلې طبیعت ته ګوري او دا نغمې

يې له خولې را اوزي.

اسمان د ده له ږغه ډک او د غره شیلې د ده د اواز له سوز او گداز ه بهیږي، دغږ څپې یې د غره او درو د ونو پاڼی ښوروي او شاوخوا سنگریزې یې په حرکت کې دي مگر دا زلمی یې په خورا ساده نظر گوري، فقط دومره پوهیږي چه یوه لنډۍ یا یوه چاربیته وایي او ښکلي طبیعت ته یې تقدیموي. ایا ستاسې دا یقین نه دی چه ملي اشعار تر دې چه زه یې ویلای شم، په ډیرو مرتبو ښه او ښکلی دی؟)). (١٦-٧)

## ۴-۴-۳ د عبدالرحمن پژواک د ساده نثرونو خاصې سبکي ځانگړنې:

۱- د عبدالرحمن پژواک د ساده نثرونو یوه ځانگړنه دا ده چې نثر نسبتا ډیر ساده، اسانه او محاورې ته ډیر زیات نژدې دی.

۲- د عبدالرحمن پژواک د نثرونو بله ځانگړنه دا ده چې نثر ته لومړی مقدمه لیکي او وروسته کله چې اصلي موضوع پیلوي، په خطابي جملو پیلوي.

۳- د عبدالرحمن پژواک د نثرونو بله ځانگړنه دا ده د جملو په ځینو کلیمو کې یې موسیقیت پروت دی او هره جمله یو قسم اهنگینه برخه لري.

۴- د ده په ساده نثرونو کې بله ځانگړنه د جملو لنډوالی دی.

۵- د ده په ساده نثرونو کې تر ډیره د (او) وییکی ډیر کارول شوی دی چې یو قسم بې خوندي یې جمله کې منځته ته

راوړي ده.

٦- د ده د نثر بله ځانګړنه دا ده چې د عربي او فارسي لغتونو تاثير پرې ډير دی او د هغه علت معلوم دی.

**۵-۴ د عبدالرحمن پژواک د دري اشعارو سبک:**

وايي چې سبک د انسان د مغز کړه وړه دي، يو پوه وايي چې سبک پخپله انسان او د هغه شخصيت دی. عبدالرحمن پژواک په دواړو ژبو کې په دري او پښتو کې د شعر ويلو پوره استعداد لري. پوهانو د عبدالرحمن پژواک شعرونه مطالعه کړي دي او د ده ټول اشعار يې د معاصرې دورې شهکارونه ګڼلي دي او زياتوي چې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په شعرونو کې خراساني ادبي مکتب ټولې ځانګړتياوې پيدا او ليدل کيږي. په دې اړه د دري ژبې تکړه او معاصر ليکوال ښاغلی واصف باختري ليکي:

(( در آن سال در حدود پنجاه سال از خاموشي دبير المللک واصل کابلی می گذشتر همان که خطر کرد و خواست خلاف جريان شنا کند و از هنجار استادان دبستان هندی سرباز زند، اين يعنی گريز از مرکز، يعنی کوشش برای بردن رفت از حصاری که مقلدان برای شعر ساخته بودند. درست حصار نای مسعود سعد سلمان. از ۱۳۱۰ خورشيدی به بعد در کابل تنها استاد خليلی نمونه های را ارايه کرده بود، در شيوه خراساني و در هرات شاد روان فکری سلجوقی، در همين ازمونگاه کارهايی انجام داده.

درست در همين مقطع زمانی، نام شاعر ديگری بر سر زبانها افتاد که جوانسال بود اما با استادان مکتب خراسانی سرهاوردی

داشت، این جوان به نام و تخلص عبدالرحمن ارمانجن شناخته شده....

و اما مکتب خراسانی غالبا با زبان اوری سروکاری دارد و آن تصویر سازیهای خاص و شهود و اشراق شاعرانه که در مکتب عراقی و هند به آنها بر میخوریم در شعر خراسانی کمتر بود و نمکی هم از اسلوب هندي بر چامه های خویش بیفشاند و این امیزه سازی، شعر او را از جاذبه و تاثیر خاصی انباشته است)). (۸-۲)

دا چې عبدالرحمن پژواک شاغلي استاد واصف باختري د خراساني ادبي مکتب پیرو بللې دی، دلته به د خراساني ادبي مکتب یو څو ځانګړتیاوې بیان او د پژواک په اشعارو کې به یې وګورو:

۱- د واکمنو او نورو چارواکو او اشخاصو د مدحو او ستاینو زیاتوالی او قصیدې ویل.

۲- په شعر کې د کیسو او حماسو رواجېدل، لکه د فردوسي شاهنامه او د خمسه نظامي ځینې مثنوي ګانې.

۳- غزل او اخلاقي شعرونه ډیر لږ وو.

۴- په شعر کې د درنو او ثقیلو کلیمو او اوږدو او مشکلو بحرونو کارول.

۵- لفظي او بدیعي صنایعو ته لږه پاملرنه او د شعري سبک ساده والی.

)

(۷٦۱-۲۴)

خراساني ادبي مکتب تـه کلـه کلـه ترکستاني ادبي مکتب هـم ويـل شـوی دی. دغـه ادبي مکتـب پخپلـه پراخـه لمـن کـې د دري او پـارسي شـعر ادبي جريـان لـه معلومـې ابتـدا او پيلامـې نـه را پدېخـوا د اوومـې هجـري پيـړۍ تـر نيمايـي پـورې رانغـاړي او د طاهريانـو، صفاريانـو، سـامانيانو، غزنويانـو، سـلجوقيانو او نـورو.... واکمنيـو د بېلابېلـو پيريـو پـه پوړيـو کـې د ځلانـد او پيـاوړو ادبي بهيرونـو ځرګندويـي کـوي. د دې ادبي مکتـب پـه نوميالیـو پلويانـو کـې د فـردوسي، فرخـي سيسـتاني، خواجـه عبداللـه انصـاري، حکيـم نـاصر خـسرو بلخي، مسـعود سعدسـلمان، سـنايي غزنـوي، انـوري، خاقاني، نظامـي ګنجـوي، شـيخ فريدالديـن عطـار او نـورو نومونـه د يادونـې وړ دي.

د خراسـاني ادبي مکتـب پـه اړه مـو لـږ څـه معلومـات پـه لنـډ ډول وړانـدې کـړل، اوس بـه د ښـاغلي عبدالرحمـن پـژواک پـه شـعر باندې وغږيـږو. د خراسـاني مکتـب تـر ټولـو لويـه ځانګړنـه دا ده چـې د دې ادبي مکتـب د شـاعرانو پـه شـعرونو کـې زړې افسـانې او حماسـې ډېـرې وي چـې دغـه ځانګړنـه د عبدالرحمـن پـژواک پـه شـعر کـې لـه ورايـه معلوميـږي او دا هغـه حماسـه او افسـانه ده چـې د اريايـي قـوم هغـه زوړ عظمـت يـې خـورا پـه ښـو الفاظـو ورکـې انځـور کـړی دی.

د پـژواک صاحـب پـه حماسي شـعرونو کـې د وطـن د سـوز چغـې اورو او د اريانـا د خـاورې تاريخـي او فرهنګـي عظمـت ځيـر کېـږو. ده پـه خپلـو اشـعارو کـې دې موضوع تـه همداسـې انعکاس ورکـړی دی.

کله چې سکندر مقدوني د دارا خاوره ونیوله نو د اریانا د خاورې نیولو هیڅ درک ونه شو. د سکندر مور په اندېښنه کې شوه او سکندر ته یې لیک واستاوه او احوال یې ترې وپوښته. سکندر د لیک په جواب کې د اریانا د خلکو خصوصیات او ځانګړتیاوې ورته تشریح او دوه جوپې افغانان یې سره له لرې خاورې خپلې مور ته واستول او ورته یې ولیکل چې له شاهي مراسمو سره سم ښه راغلاست ورته ووایه، په دویمه ورځ یو شمېر یونانیان ورته راوبوله او د توشکونو او فرش لاندې دا خاوره هواره. کله چې خاوره یې تر فرش لاندې هواره کړه. کله چې یونانیان کوټې ته راننوځي او پر فرش پښې ږدي. مېلمانه افغانان یو دم راپاڅېږي او پر یونانیانو حملې کوي. پژواک دغه د خاورې مستي او شور په شاعرانه ډول داسې په خپلو شعرونو کې بیانوي.

**مردان پارو پامیزاد**

شنیده ام که سکندر شهنشه یونان
چو بست بهر جهانگیری از غرور میان
نبود به سر راهش کسی فزون از میخ
به چشم خلق نمودی خدای حربه وتیغ
ز نوک حربه او میچکید خون جهان
ز خاک پاش نمودار خاک پادشهان
چو کرد زیر و زبر سر زمین دارا را
بران بشد که بدست ارد اریانا را
کشاید این در پولاد را به پنجه زور

نماید از ره افغان ستان به هند عبور
خبر نبود که این مملکت عدو سوز است
خدنگ چله پکتیسیان جگر دوز است
خلاصه اینکه چهل ماه ماند سرگردان
پی حصول مرام همچو اسیا پی نان
چو مادرش خبر فتح هند را نشنید
ز حال ابتر فرزند در هراس افتید
نوشت نامه که ای نور دیده مادر
یگانه فاتح گیتی کشای اسکندر
ترا نزاده بدم جز برای پیروزی
چه جای اینکه بیفتی باینچین روزی
چرا به هند نرفتی ؟چه در میان افتاد؟
ستاره تو و یا اینکه اسمان افتاد؟
چه ساخت دهر که یونان حریف پیدا کرد؟
چه فتنه ایست ندانم که چرخ برپا کرد؟
دلم ز حرف بد و نیک اهل یونـان خست
که پادشه نتواند دهان مردم بست
یکی ز کوه تر ا سر سنگون کند دگری
بگوید انکه ز تو نیست کمترین خبری
من و ارسطو و اعیان ملک حیرانیم
کجاست راه حقیقت کدام سو رانـیم؟
چو فیلسوف نداند که سد راه تو چیست

خیال میکنم انجا مکان دیو وپریـست
برای خاطر قلب حزین من بنویس
کدام دیو خیالیست نام او پکتیس؟
سکندر از در خبرت به مشورت پرداخت
سوال مادر خود را به افسران انداخت
نوشت نامه سکندر که ای فدای تومن
سکندر و همه یک ذره خاک پای تو من
سوال سخـت ترا میدهم جواب کنون
ولی نه اینکه به خط و کتابت و مضمون
ببین اه چه مشکل جواب پیچیده
جواب انچه ارسـطوش هم نفهمیده
برای یک دو سه هفته ز راه مهمانی
روانه شد به حضــــورت سران افغانی
بشرط انکه گرامی بداری ایشانرا
بدان غط که شهان پرورند مهمانرا
ولی زیاده ز حاجت مخوا نشان پیشت
که با خبر نکنند از صلابت خویشت
بده قبول به دربار شان بروز نخست
بگوی هر چه به فکر و رضا و خوش تست
به مجلس دومی چون بخوانی ایشانرا
به هدیه های گرامی نوازی ایشانرا
که سرفراز بیایند پس به خانه خویش

بدان غرور که شاهین به اشیانه خویش
امید من ز جناب جلیله زینسان است
درین زمینه امیدم بخاک یکسان است
که یک خریطه پر از خاک اریاناهم
روانه شد به حضور تو باسران توام
که قبل مجلس ثانی به زیر فرش اتاق
بگسترند ازین خاک مفخرت میثاق
گرفت نامه فرزند را چو مادر او
گذشت انچه ز حیرت گذشت برسر او
به مجـلس اولی شد ز هر دهن سخنی
ز باغ و گلشن خود چید هر کس سمنی
به مجلس دومی چون رسید نوبت کار
نشانده شد به ته فرش خاک حیرت بار
چو خواستند خوانین اریانا را
نشان فخر و غرور نژاد اریا را
به د رب قصر بهم خورد حالت ایشان
فلک به لرزه در امد ز صولت ایشان
درین مـــــــیانه دوسه تن میان خون غلتید
تو گفتی کنگره چرخ نیلگون افتاد
هزار خم نکند مست می پرستان را
چنانچه ذره خاکی وطن پرستان را
چه شورها که درین خاک پر شور اســت
چه دیده ها که برای امید ان کور است

سکندر است نه تنها که زور ما دیده
هزار اینه را این غبار پوشیده

(۸-۱۲)

د خراساني ادبي مکتب بله لویه ځانګړنه، په شعر کې د عروضي بحرونو په سمه توګه کارول دي. د (وزنپوهنې) نومې اثر لیکوال د بحر په اړه لیکي:

(( بحر په لغت کې سوري کولو ته وایي، لکه څنګه چې د موسیقۍ لحنونه او اوازونه مختلفې دستګاوې لري چې په هماغو خاصو نومونو او اصطلاحګانو نومول کیږي، د اشعارو په وزنونو کې هم بېلابېلې دستګاوې شته چې هرې یوې ته یې د عروضو په اصطلاح (بحر) وایي.

عروضي بحر د څپو د ترکیب یو خاص شکل دی چې د لنډو او اوږدو څپو تر منځ یې ځانګړی تناسب موجود دی. بحر په عروضو کې د شعرونو د سنجش تله او قالب دی چې له عروضي (افاعیل) څخه په یو ځانګړي ډول جوړ شوی دی. دا چې بحر په خپل ځان کې ډیر وزنونه لري نو ځکه یې بحر ونوماوه او یا دا چې بحر د پراخوالي او ژور والي معنی هم لري)). (۵۱ – ۷۹)

ښاغلي عبدالرحمن پژواک دري شعر، له رمز سره پوره بلدیت درلود. د ده په شعرونو کې د عروضي وزن او بحرونو ډولونه کاملا په ښه توګه مراعت شوي او هغه ته یې یه خپلو شعرونو کې مطابقت ورکړی دی. دلته به یو څو نمونې ذکر کړو:

**ارمان غزل:**

وصیتی است ز پیر مغان جوانان را
مفاعلن فعلاتن مفاعله فعلن
که بی شراب نمایند نو بهاران را
بحر مجتث مثمن مخبون

**ساقی غزل:**

ای سینه به که دامن صحرا کنم ترا
مفعول فاعلاتن مفاعیل فاعلن
ای دیده بهتر است که دریا کنم ترا
بحر مضـارع اخر ب مکفوف مخذوب

**تپش غزل:**

روزگاری شـد که گرد ما هوا نگرفته است
فاعلاتن فاعلاتن فاعلاتن فاعلات
دل پیام وصل او را از صبا نگرفته است
بحـر رحل مثــمن مقصور

**تمنا غزل:**

گوش کر گشته اگر ذوق شنیدن باقیست
فاعلاتن فعـلاتن فعلاتن فعلن
چشم گر باخت نظر حسرت دیدن باقیست
بحر رمل مثمن مخـبون اصلم
خواهم که شبی پروین در دامن شـب ریزم
مفعول مفاعلین مفعول مفاعلین

یعنی که به چشم تر در لف تو اویزم
بحر هزج مثمن اخرب

(٤٦-٦٤)

په داستان لیکلو کې ښاغلی عبدالرحمن پژواک رنګین او له ظرافت ځخه ډک قلم لري او په ایجاز خپل احساسات او عواطف په خپلو اشعارو کې خلکو ته رسوي. ښاغلی عبدالرحمن پژواک خپل زاړه عقاید او دودونه، عزت، وقار، د وجدان رضایت، انساني مفاهیم او د افغاني نجونو پاک لمنتوب په خورا ماهرانه توګه د (دوختر کوچي ) نومې داستان کې انځور او منظرکشي کړې. اوس یې په دري کې د نثر برخه وګورو:

### ۲-۵-۴ دختر کوچي

گلهای خود رو در سر تا سر دشت شگفته و هوای صاف بهاری عطراگین شده است، گویی از می و مشک تمثال دوست را بر صحرا نگاشته اند.

روزها خورشید و شبها مهتاب بهار بر غژدی های پراگنده یی که تا دامن در میان گلهای رنگارنگ زیبا و با طراوت فرو رفته اند، روشنی خود را نثار میکنند.

جمعیت ازاد کوچیان روز پراگنده می شوند، نشاط و سرور جوانان تمام فضای بیکران دشت را پر می کند و شب هنگام که جوانان و دوشیزه گان به غژدی های خویش باز می گردند و به دور اتش حلقه می زنند، اواز سرور و شادی از آن ساحه محدود به

اسمان راه می کشد.

این مردم فرزندان واقعی طبیعت هستند و چون، از دامن پر لطف مادر جدا نشده اند، انها طفلی که لبش را، از پستان جدا میکند و معصومانه به چهره مادر می نگرد، به طبیعت نگاه میکنند، اگر حرکتی می کنند همان حرکتی است که طفل در آغوش مادر می نماید، اگر ارام می شوند، ارامش آنها چون خواب اطفال در دامن مادر، بی اندیشه و تشویش است، گریه شان هم گریه طفل بی الایش است که شیر می خواهد و تبسم آنها مانند خنده گلها از روش نسیم پاکیزه یی است که از روی دریاها، کوهسار، وادی و صحرا بر می خیزد. اینها مانند دل روشنی دنیا و طبیعت را معمور و ابادان، دشت و دامن را سر سبز و شاداب، ابرهای بهاری را پر آب، اسمان زمستان را صاف و بی ابر، رودخانه های را مست، چشمه سارها را خروشان، گلها و سبزه ها را رنگین و با طراوت، پستان گاوها را پر از شیر و بره ها را فربه می خواهند و جز این ارزویی ندارند.

وقتی به آهوان دشت رو به رو میشوند، عقیده دارند که نباید ایشان را آزرد، بر کبوتران صحرایی فلاخن نمی زنند و معتقد اند که شکار این مخلوقات بی آزار شگون بد دارد. گر گها را تقویت میکنند؛ زیرا از آنها به بره ها ی معصوم رنج می رسد، به سگها مهربان هستند، به خاطری که می دانند این مخلوق پاسبان ضعیف تر از خود است و احسانهای که دیده با جلوه مجلل و زیبای وفا در هر گاه او می درخشد، بیماری اشتران آنها را

اندوهگیـن مـی سـازد، حتـا از صـدای زاغ خویشـتن را بـه مـژده خوش مـسرور مـی سـازند، بـه عقایـدی کـه امیـد و قـوت مـی بخشـد و خیـر و صـلاح مـی آورد، نـام خرافـات و موهومـات نمـی گذارنـد، قلـب شـان اشـیان راسـتی و محبـت و سـینه شـان خانـه صفـا و معصومیت اسـت، زنـده گـی پـر از ظرافـت و سـاده گـی آنهـا نـزد مـا افسـانه پریان اسـت. کسـی کـه چـون مـن بـه جهـان ایشـان آشناسـت، آشـنایی شـان را بـه جهانـی نمـی فروشـد، هـر کاروانـی کـه از شـب مـی گـذرد و آتـش هـای پراگنـده سـتاره گان خامـوش می شـوند و هـر روزی که بـه پایان میرسـد و خورشـید در غـژدی سـیاه شـب پنهـان مـی گـردد، خاطـرات مـن زنـده میشـوند، بـه یـاد کاروانهایـی مـی افتـم کـه دیگر کـوچ کرده و جـز صحرایـی بایـر از خـود اثـری بـه جـا نگذاشـته انـد، آتشـهای افروختـه آنهـا هنـوز در قلـب مـن مـی درخشـد، هـر نفسـی کـه فـرو مـی رود، ممـد حیـات ایـن شراره هاسـت و چـون بـر مـی آیـد نسـیم فـرح بخش ان آبرهـای تیـره یـی کـه فضـای زنـده گـی پـر از علایـق امـروزی مـرا تاریـک سـاخته انـد، نابـود میکننـد.

مـن از کوچیانـی کـه در دشـت قریـب دهکـده مـا فـرود مـی آینـد، خاطـرات شـیرین دارم کـه روزگار پـر از سرور کودکـی مـن آن را ربـوده، ولـی بـاز هـم سـیل تنـد زمـان نتوانسـته نقـش آن را از صفحـه قلـب مـن بزدایـد، هرگـز نمـی توانـم فرامـوش کنـم هنگامـی کـه در حلقـه کـودکان همسـال خـود داخـل میشـدم، چسـان مـرا بـا شـادی و سرور کودکانـه و تعارفـات سـاده و طفلانـه اسـتقبال میکردنـد، پیـر زنـی کـه بیـش از هشـتاد بهـار گلهـای صحرایـی را دیـده بـود بـا چـه

مهر و لطف از تخم های ماکیان سیاه محبوبش به من تحفه میداد، شوهرش بزرگ قبیله بود و برای آنکه مرا خوش و آن تحفه را گرامی تر ساخته باشد، میگفت: اینها را از من پنهان کرده و برای تو نگهداشته بود.

نواده کوچکش به حسرت طرف آنها میدید، امروز میتوانم حس کنم که از نگاه این کودک همسال من برق اشک و حسادت می جست، او تنها بچه یی بود که از رفتن من به غژدی خوش نمی شد، زیرا در نظر وی دزدی بودم که نوازش آن زن و شوهر مهربان را از او می ربودم.

وقتی به خانه مراجعت می کردم، دوشیزگان جوان هر یکی از گلهای صحرایی و بسته های خوشبو به من میدادند، تا در خانه به خواهر خوانده های شان ببرم، آنوقت از آوردن تحایف به ایشان چقدر مسرور بودم، ولی امروز حس میکنم تحفه یی که از خانه خود به ایشان می بردم، در مقابل ارمغانی که از دشت به خانه ما می فرستادند، تا کدام حد ناچیز و عادی بود.

همینکه روزهای بارانی گذشت، صبح بهار کوچیان میگذرد، این مردم آفتاب گرم را خوش ندارند، کوچ می کنند و بار می بندند.

سه روز از وقت بار بندی گذشته، ولی آنگاه که سکوت و ظلمت شامگاهان بر روی گیتی پهن میشد، آواز عوعو سگها به گوش میرسید، ایا امسال کوچیان کوچ نمی کنند؟ این سوال سراسر دهکده را پر کرده بود. عصر روز چهارم صدای دهل وغیره

جوانان شنیده شد، آیا تمام قبیله برای شیندن همین اواز معطل شده بودند؟

دوشیزه زیبایی که چهارده بهار در بین گلهای دشت مستی کرده بود با جوانی که او را دوست داشت نامزد شده بود، شب نامزدی سحر شد، وقتی سپیده صبح دمید، دوشیزه جوان که تمام شب نخفته بود، برخاست، آیینه کوچکش را برداشته، منتظر روشنی افتاب بود، تا بتواند قیافه محزون خود را در آن ببنید، وقتی چشمش به آیینه افتاد، دید موهای سیاه، مجعد و مشکین او را شب با خود برده و به جای آن یکدسته موهای سپیده آورده است.

چند قطره اشک از چشمانش فرود آمد؛ ولی جز سکوت چاره یی برای آنکه حقیقت را بپوشاند، در صدد شد که بهانه یی جستجو کند و خجالت را، از سیاه مویان و سپید مویان قبیله مخفی دارد. وقتی آفتاب همه جا را روشن ساخت، بین قبیله یکی به دیگری می گفت؛ چرا چند روز بار بندی را معطل کردند، خوب شد موهای دختر شان در یک شب سفید گردید، خدا غژدی های دیگر را از ارواح بد مامون نگهدارد، زود باید کوچ کنیم، تا بلا و گزند دیگر در قبیله راه نیابد.

دوشیزه سپید موی آهسته آهسته در کنار شترش راه میرفت، گلهای دشت و دامن او را بو می کردند، صدای جرس او را محزون تر می ساخت، طوری قدم بر میداشت که گویی می افتد و شتر او از همه عقب مانده بود او چندین روز در روشنی آفتاب

سفر کرد و چندین شب در پرتو ماه و ستارگان توقف نمود، ولی روح او مشوش تر، احساسش رقیق تر و حزین شده میرفت، جز اثار حزن و نومیدی در چشمان او دیده نمی شد، گویی بر روی او اخگر فروزان غباری از غم نشسته بود که دیگر پهلوی روشن زنده گانی را از نظر وی پنهان می ساخت.

خود را در ظلمت و خوف میدید، تصور میکرد شبی بر او حمله میکند، هر جا در کنار چشمه میرسید به عجله میرفت و رویش را در آن میدید که شاید موهایش سیاه شده باشد، وقتی هم به خاطرش میرسید که دیگران از راز او اگاه خواهند شد، رم میکرد و میخواست فرار کند، جز خودش دیگری به وی رحم نمی کرد، وقتی انسان به جز خود کسی نداشته باشد که دردهایش را با او قسمت کند، عواطف و احساساتش بر بدبختی ها به شور می آید و در عظیم ترین اندوه بسر می برد، بزرگترین بدبختی هم آن است که کسی راز خود را تحمل کند و دوستی نیاید که آن را با او در میان گذارد.

آوازه موی سپید دوشیزه به گوش نامزد جوان نیز رسیده بود؛ ولی نمی توانست آن را باور کند. دختر کوچی خیلی شترش را عقب نگه میداشت، تا با جوان مقابل نشود، هر چیز را میتوانست تحمل کند؛ اما نمی توانست با محبوبش رو به رو شود، هر قدر سوال می کردند، نمی توانست حقیقت ان را بگوید.

دو سال دیگر گذشت، جوان چندین سفر کرده و سرمایه یی اندوخته بود، یک غژدی و چند شتر داشت که میتوانست زنده

گی نامزدش را تامین کند، اسباب عروسی مهیا شد، جوانان و دوشیزگان روی سبزه ها رقصیدند، یک غژدی به فاصله کمی دورتر از دیگر غژدی های کوچیان بر روی تپه یی زده بودند، جوان برای نخستین مرتبه دید که موهای نامزدش سپید است، به روشنی مهتاب اعتماد کرد، دوشیزه جز اینکه مبادا حقیقت را از او بپرسد، خوف دیگری نداشت. به غیر از موی سپید در عوالم سعادت آنها اسباب تاثری موجود نبود. پای از شب گذشت، دوشیزه به پای جوان افتاد و فریاد کرد، من به تو خیانت نکرده ام، جوان تکان خورد و در چشمانش شعله یی درخشید که سراپای او راسوخت، ولی ساکت ایستاد و در حالت خوف و حیرت به دختر مینگریست.

دوشیزه باز گفت؛ بلی من به تو خیانت نکره ام؛ ولی چه میتوانستم بکنم؟ میخواهم مرا عفو کنی. من هرگز نمی خواستم به تو خیانت کنم، ولی مجبور شدم، من زن ناتوان بودم.

با تو چه کردند؟ موی را سپید ساختند، من مجادله خود را کردم، من تا زمانی میخواستم، زنده بمانم که باری خود را با تو در یک غژدی ببینیم....

حالا باید بگویی که موی تو چه گونه سپید شد؟

بلی من نیز مایل هستم افسانه خود را به تو بگویم و بعد از آن بمیرم، برای من زنده گی بیش از این ناگوار تر از مرگ است... (۴۶-۲۱)

په نتیجه کې ویلای شو چې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک

په آثارو کې د خراساني ادبي مکتب ټولې ځانګړتیاوې لیدل کیږي. په ځانګړي ډول کیسې، داستان، قصیدې، سخت عروضي بحرونه او تشبیهات یې ډیر کارولي دي. خو ځینې اشعارو کې بیا د عراقي ادبي مکتب رنګ یې شعرونو کې غالب دی. مثلا د غزل په برخه کې، تشبیهات یې ډیر ساده دي چې دا د عراقي ادبي مکتب ځانګړنه ده.

## ۵- د عبدالرحمن پژواک د اشعارو پیغام

شاعر نه یم نوحه گر یم که څه وایم
د پژواک د زړه فریاد دی نه سرور

د افغانستان په معاصر تاریخ کې ارواښاد عبدالرحمن پژواک هغه څېره ده چې وياړنې او کارنامې يې زموږ د هیواد تاریخ په زرینو کرښو ثبت کړي دي. د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د ژورنالیستي کار له پیله، د اصلاح ورځپاڼې د مسوول مدیر او د باختر اژانس د لوی مدیر په توګه یې د هیواد په مطبوعاتي چاپیریال کې د خپل ولس د ويښتيا لپاره هلې ځلې کړې دي.

په پښتو او دري ژبو یې د شاعرۍ او لیکوالۍ له لارې د خپلې زمانې حالات، ظالم ته د جزا ورکولو جدي سپارښت، مظلوم ته د حق غوښتنې تقاضا، د آزادۍ پیغام، جرائت، جذبه، پښتني احساسات او د غلامۍ ضد مفکوره د ولس په ژبه راتلونکو نسلونو ته په میراث پرې ایښې. ادبي او هنري ملغلرې يې زموږ د ادبیاتو نه هیرېدونکې برخه جوړوي. پژواک صاحب غوښتل چې ټول افغانان په اتفاق او اتحاد کې ژوند وکړي او د نورو خلکو دسیسې

ناکامي کړي. ده په سیاسي، فرهنګي او ژورنالیستکو هڅو سره د خپل غریب ولس آواز خلکو ته خورا په ډېر شاعرانه او هنري انداز کې رسوي او خپل پیغام رسا او په روانه ژبه بیانوي.

**۱-۵ د عبدالرحمن پژواک اشعار د فورم او محتوا له مخې:**

تر اوسه پورې چې زما لاس ته د پژواک صاحب کوم شعرونه راغلي، په ټولو کې غزلیزه برخه تر نورو ډېره زیاته ده. ده کوشش کړی هره محتوا په غزل کې ځای کړي.

بل لوی فورم چې د ده په شعرونو کې ډېر لیدل کیږي، آزاد نظم دی. نوموړي هم په دري او هم په پښتو ژبه کې ډېر په روانه ژبه خپل افکار په ازاد نظم بیان کړي دي. سربیره پر دې د ده په شعرونو کې مثنوي، قطعه، مخمس او قصیدې ډېر پیدا کیږي. پژواک صاحب ځینې موارد د ډرامې او داستان په شکل په منظومه ژبه له ولس سره شریک کړي دي.

د محتوا له مخې په اشعارو کې یې حماسي، تمثیلي او غنایي رنګ ډېر جوت دی، چې اشعارو ته یې ډېره رنګیني ور په برخه کړې ده.

## ٦- د عبدالرحمن پژواک اثار

د عبدالرحمن پژواک کوم اثار چې تر اوسه چاپ شوي، په هغو کې یو یې پښتو او نور ټول په دري ژبه دي. پژواک صاحب څه د پاسه اویا کلونو کې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو د علم، ادب، فلسفې او سیاست په برخه کې ډیر شهکارونه خپلو خلکو او نړیوالو ته پریښي دي.

پژواک پخپله کوم خپل اثر نه دی چاپ کړی بلکې ټول اثار د هغه د ملګرو له خوا چاپ شوي دي. تر اوسه پورې د ښاغلي پژواک آثار په بشپړ ډول نه دي چاپ شوي چې دا دوه دلیلونه لري.

لومړی دلیل دا چې ارواښاد عبدالرحمن پژواک د خپلو آثارو د چاپولو لیوال نه و. کله چې به یې کوم اثر ولیکه یا به یې د کورنۍ کوم غړي ته وسپاره او یا به یې خپل کوم دوست ته ورکاوه او په دې توګه یې اثار ضایع کیدل.

دویم دلیل دا چې د وروستیو کورو ورانوونکو جګړو له امله تقریبا ټول رسمي او شخصي کتابتونه، شخصي کتابخانې،

موزیمونه، ملي آرشیف او عتیقه آثار ټول تالاوالا او له منځه لاړل، نو طبیعي ده چې په داسې حالت کې د استاد پژواک هغه اثار چې له دوستانو سره یې وو، ښایي له منځه تللي وي.

د یادولو وړ ده چې د پژواک صاحب ډېر اشعار په ۱۳۱۲ لمریز کال کې د وخت په مطبوعاتو کې د مړاوي، وفا او ارمانجن په تخلصونو چاپ او خپاره شوي دي.

اوس به د نومورړي اثارو ته یوه کتنه وکړو:

## ۶-۱ د عبدالرحمن پژواک شعري اثار:

### ۶-۱-۱ کلیمه داره روپۍ:

دا په پښتو کې د پژواک په قلم لیکل شوې ډرامه ده چې په ۱۳۳۷ ه ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

کلیمه داره روپۍ کتاب د دوهم ځل لپاره د گل الرحمان رحماني په زیار د عبدالرحمن پژواک د شپاړسم تلین په ویاړ گودر خپرندویه ټولنې په ۴۲ صفحو کې په ۱۳۹۰ کال بیا ځلي چاپ کړی دی.

پژواک په دې حماسه کې د وطن ښایښت، د پیغلو له تور اوربل سره تشبیه کړی دی. د پژواک ځواکمن قلم تاریخي پېښې داسې ترسیموي چې له ښکلا ډکه ښکاري، لکه د جړ اوربل ښکلا چې لا بلا کوي. دا انځورگري په حماسه لیکنه کې د ده دقلم زور ثابتوي.

که وگورو دغه مشبه او مشبه به نه یوازې دا چې حماسه

انځورووي، بلکې د دغه هیواد یو اوږد تاریخ هم انځورووي چې د حماسې شکل لري.

کلیمه داره روپی یوه حماسه ده چې د ډرامې په فورم کې راغلې. له دې امله چې د افغانانو له تاریخ څخه یې سرچینه اخیستې نو ځکه ورته تاریخي حماسه ویلی شو.

د تاریخي حماسې په اړه د هیواد تکړه لیکوال اروانښاد دوست محمد دوست شینواری په خپل اثر (د پښتو د ولسي ادب لارې) کې داسې لیکي: (( تاریخي افسانوي حماسه هغه حکایت او کیسه ده چې تاریخي واقعي اتل او تاریخي پیښه شوې واقعه تمثیلوي؛ خو د بیان څرنګوالی او د تفصیل کیفیت یې خیالي او افسانوي رنګ لري. د تاریخي لیکنې له لارې نه؛ بلکې د شفاهي روایتونو له لارې له یوه نسل نه بل نسل ته پاتې او په سینو کې خوندي ساتل شوې وي.

دغه ډول کیسې ته ما ځکه «تاریخي افسانوي حماسه» اصطلاح غوره کړه چې پیښه له یوه پلوه تاریخي حقیقت لري، رزمي بڼه لري او له بلې خوا د بیان او تفصیل له مخې له رښتینوالي څخه یو څه لري او په افسانوي پیرایه افاده شوې وي. په دغسې کیسو کې غالبا پاکه او لیونی مینه له رزم او حماست سره ګډه وي. عشق او مبارزه په کې یو شان پراختیا مومي، لکه د شمس الدین پاچا له ګواریانو سره د فتح خان بریڅي رزمي نقل، د ادم خان او درخانی تر منځه لیونی مینه او د پایو خان د مبارزې داستان، دا یوازې افسانې نه دي ځکه چې په تاریخي

پېښو ولاړې دي.

تاریخي افسانوي حماسه د یوه ولس د ملي غرور او ویاړ هینداره ده. دا د ولس له افتخاره ډکه ادبي پانګه ده چې په هغه کې کله کله د وطن له کورنو او بهرنیو دښمنانو سره مبارزې او سرښندنې تصویروي. د داسې داستانونو په مرکز کې همیشه یو داسې اتل ځای لري چې د خپلو ښو صفاتو، عالي اخلاقو، روحي او بدني پیاوړتیا له امله د اوریدونکو خواخوږي او همدردي ورسره ملګرې وي)). (۲۷ – ۴۸)

ښاغلي پژواک، کلیمه داره روپۍ ډرامه په درې صحنو ویشلې ده چې لومړۍ صحنه یې درې پردې، دوهمه صحنه یې دوه پردې او دریيمه صحنه یې هم دوه پردې لري.

### ۶-۱-۱-۱ د ډرامې کارکوونکي:

۱- غرزی- یو سپاهي – اصلي کرکټر لوبوي.

۲- ګلشکه – د غرزي میرمن- اصلي کرکټر لوبوي.

۳- ځلمی- د غرزي زوی- فرعي کرکټر لوبوي.

۴- سکندر- د لښکر قومندان- فرعي کرکټر لوبوي.

۵- کاپر فیلډ- د انګریزي فوځ قومندان- فرعي کرکټر لوبوي.

۶- سنک- یو زرګر – کمکي کرکټر لوبوي.

۷- سپایان- پښتانه او انګریزان- کمکي کرکټر لوبوي.

### ۶-۱-۱-۲ د ډرامې خلاصه:

په دې ډرامه کې د خپلواکۍ یوه صحنه تمثیلېږي او د تیري او تجاوز په وړاندې د ټیپ په توګه د یوې پېښې تاوده احساسات ښکاره کوي. ګلشکه چې د غرزي مېرمن ده خپل خاوند غرزي دې ته هڅوي چې د ازادۍ په جګړه کې ګډون وکړي څو تربورانو او قام ته په جګو سترګو وګوري.

کله چې غرزی د خپلې مېرمنې له احساساتو ډکې خبرې اوري، د جګړې میدان ته ور دانګي او سختې جګړې ته ځان ورکوي او له شپږو انګریزانو سره په یوه سر جګړه کوي، چې ټول وژني او په پای کې د انګرېزانو د ټولي مشر «فیلډ» ژوندی نیسي. فیلډ غرزي ته زر انګریزي پونډه د دې لپاره ورکوي چې خوشې یې کړي خو غرزی پیسې ترې اخلي او نه یې خوشې کوي او د انګریزانو مشر فیلډ خپل قومندان سکندر ته سپاري. قومندان چې د غرزي مېړانې ته ګوري، پیسې غرزي ته په ډالۍ کې ورکوي او غرزی د سړي په سر یوه طلا په کنډک ویشي او اووه سوه دانې ده ته هم پاتې کیږي او په دې سربېره سکندر ده ته یو ټوپک او یوه تمانچه چې له انګریزانو څخه یې اخیستې وه ور کوي. د شپې له خوا انګریزان را رسیږي جنګ پیل کیږي او ټل فتحه کیږي او غرزی د خپل کور په نیت روانیږي.

دا راز بله صحنه ښیي چې د غرزي د اوږده بېلتون په موده کې په ګلشکې ډېره تنګسه راځي او پر له پسې شپې د خپل ماشوم زوی سره په لوږه تېروي، ځکه چې د وطن د ننګ خبره وي، دغه ټولې تنګسې په خورا زغم زغمي خو کله چې لوږه په

ماشوم زوی یې سخته غلبه کوي او د مرګ ویره یې پیدا شي نو ګلشکه دې ته اړیږي چې کلمه داره روپۍ چې د غرزي د مینې نښه ده خپل زوی ته په اوښلنو سترګو د دې لپاره ورکوي چې زرګر باندې یې خرڅه کړي او اوړه پرې وپیري. په دې وخت کې غرزی هم د تصادف له مخې د زرګر په دوکان کې د ګاڼو د اخیستلو په نیت هلته وي. په دوکان کې خپل زوی ویني چې کله کلمه داره روپۍ پلوري خو خپل زوی نه پیژني خو په نا اشنایي کې کلمه داره روپۍ بېرته ورته ور کوي او یو څه نورې روپۍ د ضرورت د رفعه کولو لپاره ورته ورکوي او دواړه د یوه کور خوا ته روانیږي. غرزی پر دروازې د زلمي له ننوتلو څخه په حقیقت پوهیږي او یو بل سره پیژني.

### ٦-١-٢ بانوي بلخ:

دا کتاب د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په دري ژبه شعري ټولګه ده چې په ۱۳۷۹ ل کې د صبور نشراتي مرکز له خوا په پیښور کې چاپ شوې او د مخونو شمیر یې ۲۹۹ ته رسیږي.

په دې باندې لومړی استاد واصف باختري د (سخنور سرخرود در رودسرخ شعر و شهود) په نامه یو ښکلې او په زړه پورې سریزه لیکلې چې د ده د دري شعر په مختلفو اړخونو یې رڼا اچولې ده. له سریزې وروسته د پیشګفتار تر سر لیک لاندې د پژواک ورور ښاغلي عتیق الله پژواک د دې اثر په لومړۍ برخه کې د ده د ژوند لیک په اړه مفصل بحث کړی او په ۱۳۰ صفحو کې د

نوموړي فرهنګي، سیاسي او ټولنیز شخصیت، د هغه د ژوند او اند په اړه یو روښانه انځور لوستونکو ته وړاندې کړی دی. دیادولو وړ ده چې د دې مجموعې د شعرونو راټولوونکی ښاغلی فرهاد پژواک دی.

همدا شان په دې مجموعه کې څو شعرونه پښتو او نور ټول په دري ژبه راغلي دي. د پژواک د دې مجموعې په شعرونو کې د فورم او قالب له اړخه د کلاسیک شعر پیروي لیدل کیږي. په دې ټولګه کې یې تر ډېره د خاقاني، فرخي سیستاني، بیدل، سعدي او حافظ شعرونه تضمین کړي او له شعرونو څخه یې معلومیږي چې نوموړو شاعرانو ته یې زیات عقیدت درلود خو د مضمون او محتوا له پلوه په کې ځینې ډېر نوي ټکي هم مطرح کیږي. د وطن د مینې، آزادۍ او سمسورتیا هیلې د هغه د شاعرۍ عمده او اساسي مضمون جوړوي. اوس به یوه بیلګه شعر د بانوي بلخ له کتاب څخه چې ټولنیز حقایق یې بیان کړي سره لولو.

**د حمام لنګ**

په ظاهر کې ډېر خیالي دي دا وګړي
په باطن کې زښت خالي دي دا وګړي
په عمل کې یې بری موندلی نـــــه دی
په وینـا کې بریالي دي دا وګړي
نه یې نوم شته نــه یې نخښه خپل وطن کې
امریکا کې نومیالي دي دا وګــړي

د پردی په غلامی کې رقابت کړي
ټینګ ولاړ په خپل سیالي دي دا وګړي
تبعه د امریکې شول دا بې ننګه
ګوره هسې ننګیالي دي دا وګړي
په دنیا کې خو شتمن او مستان ګرځي
خو محشر کې دیوالي دي دا وګړي
واړه واک یــې د پردي خو په وطن کې
مدعي د واکمني دي دا وګړي
لکه لنګ دي د حمام واړه پژواکه
د هر تن د ځان کالي دي دا وګړي
(۸-۳٦)

### ٦-۱-۳ ناهید نامه:

دا پـه دري ژبـه د ازاد شـعر پـه قالـب کـې د عبدالرحمـن پـژواک یـوه شـعري ټولګـه ده چـې د لومـړي ځـل لپـاره د (سـپیدې ) مجلـې پـه دربیـوو پـر لـه پسـې ګڼـو کـې پـه پیښـور کـې چـاپ شـوې ده. وروسـته بیـا پـه ۱۹۹۵ م کال کـې د (اتحادیـه افغانـان مقیـم کانـادا) د اسـدالله شـعور پـه سریـزه او اهتـمام د کتـاب پـه شـکل د کانـادا پـه تورنتـو کـې چـاپ شـوې ده.

ناهیـد نامـه نومـې اثـر، د افغانـې ښـځې د ژونـدي تاریـخ یـوه زرینـه پاڼـه ده چـې د دې زرینـې پاڼـې اتلـه ناهیـد ده چـې خپـل مکتبـې سـپین پړونـې روس پلـوه افسر خـوا تـه غـورزوي او پـه ویاړلـې لهجـه ورتـه وایـې چـې تـه زمـا پړونـې پـه سر کـړه او توپـک دې ماتـه

راکړه چې د وطن له ازادی څخه دفاع وکړم خو هغه بې ننګه افسر دې خوا ته د توپک شپیلې را اړوي او پخپلو وینو یې لمبوي.

اوس به د شعر یوه نمونه وګورو:

ای قریحه شعر!
بمن بیاموز که:
روشنی های گذشته را چگونه باز آورد
و شمع آینده را چگونه بر افروخت
هر گز نیندیشیده بودم
خاطرات خویش را در دل و دماغ بیندوزم
و راه ابدیت را که بی اندیشه بسپارم
راه مرا بسوی آسمان الهام روشن کن!
ابرهای آن را بگمار بر زبان تشنه من ببارند
میخواهم سرود خویش را بپایان رسانم

(۱۸ – ۱۰۰)

**٦-۱-۴ حدیث خون:**

حدیث خون د ارواښاد پژواک د دري اشعارو ټولګه ده چې په ۱۳٦۴ ل کې د امان کتاب خپرولو موسسې له خوا په ۷۸ مخونو کې په پېښور کې چاپ شوې ده.

د هیواد تکړه څېړونکي حبیب الله رفیع د حدیث خون پر ټولګې یوه بشپړه سریزه لیکلې چې د پژواک د ژوند، سیاسي مبارزې او اثارو په اړه یې زیاتې ګټورې خبرې کړې دي.

### ۶-۱-۵ میهن من:

دا د ارواښاد عبدالرحمن پژواک بله شعري ټولګه ده چې په دري ژبه په ۱۳۶۸ ل کې د امان کتاب خپرولو موسسې له خوا په پېښور کې چاپ شوې او د مخونو شمیر یې ۶۳ دی.

د دې اثر له سر پاڼې او کتاب پیژندنې وروسته د امان کتاب خپرولو موسسې له خوا په دري ژبه محمد روحاني یوه ښکلې سریزه لیکلې ده. د یادولو وړ ده چې دې مجموعه کې دري پښتو شعرونه او نور ټول یې دري شعرونه دي. د دې ټولګې دري پښتو او څو دري شعرونه په بانوي بلخ کتاب کې هم شته چې دلته تکرار راغلي دي.

### ۶-۱-۶ گلهای اندیشه:

دا کتاب د عبدالرحمن پژواک د دري اشعارو یوه غوره مجموعه ده چې په ۱۳۴۲ ل کې د پوهنې مطبعې له خوا په ۱۵۹ مخونو کې چاپ شوې ده. دغه شعرونه غلام حضرت کوشان له بېلابېلو جریدو او مجلو څخه راټول کړي او د (گلهای اندیشه ) تر نامه لاندې یې چاپ کړي دي.

بیا ښاغلي فرهادي پرې د (دلپذیر و ستودني ) تر سر لیک لاندې د پژواک پر اشعارو او ادبي شخصیت په زړه پورې بحث کړی دی. ورپسې ښاغلي غلام حضرت کوشان د (پژواک شاعر، نویسنده، سیاستمدار ) تر عنوان لاندې ښه ژوره لیکنه کښلې ده چې په هغې کې د پژواک لنډه پیژندګلوي، د چاپ شویو او

ناچاپو اثارو معرفي او د شعر و شاعرۍ په اړه څرګندونې کړې دي.

## ۶-۲ د عبدالرحمن پژواک نثري اثار:

### ۶-۲-۱ تعاملات حقوقیه و جزاییه ملي:

دا په دري ژبه کې یو فولکلوري اثر دی چې په هغه کې د احمد زو پښتنو کودونه او نرخونه بیان شوي دي. دا لیکنه په لومړي ځل په ۱۳۱۸ کال په سالنامه کابل کې د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده خو په کتابي بڼه د ښاغلي عبدالله بختاني په وینا، په ۱۳۳۴ ل کال د ننګرهار د اتحاد مشرقي د اداري له خوا د جلال اباد په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده. پر نوموړي اثر ښاغلي شاه پور احمدزي او محمد قدیر تره کي تقریظونه لیکلي دي.

د نرخونو په اړه استاد لال پاچا ازمون په خپل کتاب پښتو فولکلوري ادبیات کې لیکي: (( په هغو ټولنو کې چې له حقوقي لاسوندونو او قوانینو بې برخې وي، هلته نرخ پریکړه کوي. په نرخ باندې هیوادني مسایل حل مومي، موږ د احمدزیو نرخ لرو، دغه نرخ د حقوقي تاملاتو زیږنده ده. په نرخ کې مجازات او مکافات دواړه څرګند دي.)).( ۲-۲۲)

### ۶-۲-۲ مذاکرات ژنیو:

دغه اثر په ۱۳۶۶ ل کې د افغان مجاهد اطلاعاتي مرکز له خوا د محمد حسن ولسمل په سریزه او زیار چاپ شوی دی.

په نوموړي اثر کې د پژواک ۴۹ مرکې او نظریې د افغانستان د سیاسي مسالې د حل په هکله په ډېره جالبه توګه راغلي چې د هیواد په ځانګړې زماني مقطع کې زموږ د تاریخ په روښانه کولو کې له ځیرونکو سره د یوه ښه اخځلیک په توګه مرسته کولای شي.

### ۶-۲-۳ یک زن:

دا اثر د (نهاد فرهنگي پژواک) د نشراتو له خوا په ښکلي قطع او صحافت په ۱۳۸۵ کې خپور شوی دی. په دې اثر کې د ده لنډ داستانونه په دري ژبه راغلي چې یو یې د «یک زن» او بل یې «آواره » په نومونو دي.

د (یک زن) داستان کې د یوې اسیرې ښځې د مظلومانه ژوند انځور راغلی چې د یوه زورواکي په لاس کې لکه یوه بې وسه مرغۍ راکیښېوتې او له دغه راز ژوند څخه د ازادۍ په تمه شپې او ورځې سبا کوي. لیکوال غواړي چې د یوې مظلومې ښځې په وړاندې تېری او تجاوز وغندي او ټولنه د اصلاح په لوري وخوځوي او هغه حریصو نارینه وو ته درس ورکړي چې ښځه هم د ده په څیر ازاده زېږېدلې او د خپلو شیطانی هوسونو په لومو کې دې یې نه ایساروي.

دا راز په (اواره) داستان کې لیکوال د دوو ټولنو (غربي و شرقي) پرتلنه تر سره کړې. که څوک د لویدیځ انسان له ژوندانه، افکارو او سیکالوجۍ سره اشنا نه وي او دا لنډ داستان ولولي نو ټوله

غربي ټولنه او د هغې ارزښتونه د همدې کیسې له مخې ارزویلای شي. دغه کتاب ډاکتر فرهاد پژواک په انګلیسي ژبه ترجمه کړی دی.

په دغه اثر کې اووه داستانونه د وظیفه، ضمیر، اواره، دختر کوچې، شهزاده بست، سه عاشق او رودابه زال په نومونو راغلي دي. دغه اثر ۱۳۳٦ هجري شمسي کال په ۱۸۷ صفحو کې په (دولتي مطبعه ) کې چاپ او نشر شوی دی.

دغه اثر په ۱۹۹۸ کال د عمر شیردل او خانم(Jacqueline verdeaux) له خوا (contesd, afghanistan) په نوم او فرانسوي ترجمه یې (stock plus ;Arabic isslami) د فرانسې موسسې له خوا چاپ او نشر شوی دی.

## ٦-۲-۴چند شعر از پژواک:

دا یوه وړه رساله ده چې په ۱۳۴۲ ه ش د (ملي دفاع مطبعه) کې په ۳۹ صفحو کې چاپ او نشر شوی دی.

## ٦-۲-۵ گزیده اشعار عبدالرحمن پژواک:

دا د عبدالرحمن پژواک د دري شعرونو انتخابي مجموعه ده چې محمد امین متین اندخویي له خوا را ټوله شوې ده. دا مجموعه په ۱۳٦۹ ل کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

**٦-٢-٦ احساسات و عواطف:**

دا کتاب ۴۵ صفحې لري او په مختلفو فلسفي موضوعاتو په کې بحث شوی دی (ناچاپ)

**٦-٢-٧ کودک بیگناه:**

دا ۴۰ صفحې داستان دی چې خپلې لور نیلاب پژواک ته یې اهدا کړی دی. (ناچاپ)

**٦-٢-٨ فیلمرغ های شاه:**

دا په دوه پردو کې ډرامه ده چې په ۱۳۲۴ نشر شوې ده.

**٦-٢-٩ یک شب شاعر:**

په یوه پرده کې ډرامه ده.

**٦-٢-١٠ سلامان او ابسال:**

یو وړوکی داستان دی چې ۳۸ صفحو کې لیکل شوی دی. (ناچاپ )

**٦-٢-١١ خاطرات:**

په دې اثر کې د پژواک صاحب د ژوند خاطرې راغلې دي چې په خپل قلم یې لیکلي دي.

## ۶-۳ د عبدالرحمن پژواک ژباړې:

### ۶-۳-۱ عروج بارکزایي:

د دغه تاریخي اثر مولف انګریزي لیکوال ادواردالاسیس پیرس او په دري ژبه ژباړونکي یې عبدالرحمن پژواک او محمد عثمان صدقي دي چې په ۱۳۳۳ کې د زرو ټوکو په شمیر چې د مخونو شمیر یې ۱۸۳ ته رسیږي، د انجمن تاریخ له خوا په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د پیژندنې له پاڼې وروسته د عروج بارکزایي ها تر سر لیک لاندې اروابناد احمد علی کهزاد سریزه راغلې چې د اثر په اړه یې خبرې کړې دي. پژواک صاحب دا ژباړه داسې انداز کې کړې ده چې د ژباړې هیڅ ګمان پرې نه کیږي.

### ۶-۳-۲ باغبان:

دا اثر بنګالي فیلسوف رابندر نات ټاګور په انګریزي ژبه لیکلی دی چې وروسته شاغلي پژواک په دري ژباړلی دی او په ۱۳۳۶ کال کې د کابل راډیو د ریاست له خوا په ټولیز ډول په ۷۲ مخونو کې په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.

لومړی روان فرهادي د ټاګور د شعر او شاعرۍ په اړه خبرې کړې، چې وروسته د (سخن مترجم) تر سر لیک لاندې خپله اروابناد پژواک د اثر په ارزښت باندې خبرې کوي.

### ٦-٣-٣ پیشوا:

دا اثـر جبران خلیـل په انګریـزي ژبه لیکلی دی چې عبدالرحمن پـژواک پـه دري ترجمـه کـړی دی. دغـه اثـر پـه ۱۳۳۴ ل پـه دولتـي مطبعـه کـې چاپ شـوی دی. د کتـاب پـه پیل کـې د (سخن مترجم) تـر سرلیـک لانـدې یـوه وړه لیکنه راغلـې ده.

### ٦-٣-۴ لمحات بنګال یا مراسلات:

دا د رابندرنـات ټاګـور اثـر دی چـې پـژواک صاحـب لـه انګلیـسي ژبـې څخـه ترجمـه کـړی دی. (ناچـاپ).

### ٦-٣-۵ عروس بیکس:

دا کتـاب د لانګفلـو انګلیـسي لیکـوال دی. پـژواک صاحـب دري تـه ژبـاړلـی دی. (ناچـاپ).

### ٦-٣-٦ الماس ناشکن:

دا اثـر د امریکایـي شـاعر ویلیـم پـت روټ دی چې پژواک صاحب پـه دري ترجمـه کـړی او پـه ۱۹۹٦ م کـې د (پیونـد) خپرندویـه موسسـې پـه اهتـمام د (افغـان اکاډمـي ) لـه خـوا پـه ویرجینـا کـې خپـور شـوی دی.

د دوهـم ځـل لپـاره بیـا پـه ۲۰۰۳ م د ګوهـر شـاد پـژواک لـه خـوا د (بنیـاد فرهنګـي پـژواک) لـه خـوا پـه پیښـور کـې چـاپ شـوی دی.

**۶-۳-۷ زن و محمد:**

په اسلام کې د ښځو مقام ته د درناوي په خاطر د حضرت محمد ص د څلويښت حديثونو ترجمه ده (ناچاپ).

**۶-۳-۸ زبور داوود:**

پژواک صاحب دا ژباړه په ۷۰ مخونو کې په روانه دري ژبه کړې ده (ناچاپ ) .

**۶-۴ د عبدالرحمن پژواک انگليسي اثار:**

**۶-۴-۱ اريانا:**

دا يوه رساله ده چې ښاغلي پژواک په انگليسي ژبه ليکلې ده او په ۱۹۴۶ م کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

**۶-۴-۲ زوړ افغانستان:**

دا يوه رساله ده چې ښاغلي پژواک په انگليسي ژبه ليکلې ده او په ۱۹۴۷ م کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

**۶-۴-۳ د پښتونستان ورځ:**

دا رساله هم په انگليسي ژبه ليکل شوې او په ۱۹۴۷ م کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

**۶-۴-۴ د پښتونستان مساله :**

دا یوه رساله ده چې ښاغلي پژواک په انګلیسي ژبه لیکلې ده او په ۱۹۴۷ م کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

### ۶-۴-۵ پښتونستان:

د پژواک دا انګلیسي رساله په ۱۹۴۷ م کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

## ۷- د استاد خليل الله خليلي له نظره د پژواک نظم او نثر

زمـوږ د هيـواد تکـړه شـاعر او ليکـوال اسـتاد خليـل اللـه خليلي په ۱۹۰۹ م کال د کابـل ښـار پـه جهـان ارا نومـې سـيمه کـې زيږېدلـی دی. پـلار يـې ميـرزا محمدحسـين خـان صافـی د اميـر حبيـب اللـه خـان د دربـار لـه مخوريـنـو څخـه و چـې څـه وخـت يـې د ملکـي او نظامـي نايـب سـالاری رتبـه پـه غـاړه درلـوده او بيـا د ټـول هيـواد مسـتوفي وټـاکل شـو.

اسـتاد خليـل اللـه خليـلي پـه نظـم او نـثر کـې ډېـري ليکنـې کـړې دي چـې زياتـره يـې د مقالـو او ځانگـړو شـعرونو پـه بڼـه د هيـواد پـه خپرونـو کـې راغـلي او ځينـې يـې د ځانگـړو کتابونـو او رسـالو پـه بڼـه چـاپ شـوي دي. د ده د ټولـو اثـارو شـمير ۵۴ ښـودل شـوی دی چـې د يـو څـو نومونـه بـه يـې واخلـو:

د اشـعارو کليـات، نـی نامـه، سـلطنت غزنويان(تاريـخ)، ابـن بطوطـه في افغانسـتان (پـه عـربي ژبـه)، رباعيـات خليـلي، بلـخ در ادب عـرب.... (۴۲ - ۱۳۲)

ښـاغلي اسـتاد يـو شـعر پـژواک تـه ليکلـې دی چـې د هغـه د نظم

او نـثر سـتاینه یې کـړې ده.

اندر این اندیشه ها بودم که آمد ناگهان
راز دار کوی جانان حامل پیغام یار
آنکه باشد جیبش از اشعار شیوا پر گهر
آنکه باشد دامنش از نثر رنگین چون بهار
چون کلیم طور معنی طوطی «گویای» راز
نامه یی آورد بیرون از گریبان صبح وار
نامه یی در حرف حرفش آتش دل مشتعل
نامه یی از سطر سطرش سوز باطن آشکار
نامه پژواک اعنی شاعر فحل جوان
شاعر روشندلی آتش زبان و سحر کار
آنکه خیزد شور عشق از خامه اش جای صریر
و آنکه ریزد مشک تر از نخل کلکش جای بار
آتشین گشته نوایش بانوای سرخ رود
تیز بین گشته نگاهش با عقاب کوهسار
شاعری آموخته دریای شمشاد جوان
با سپین غر کرده پیمان سخن را استوار
کاروان فرخي رفت آن جرس ها شد خموش
و آن نوا هاشد نهان در پیچ و ناب روزگار
در فروغ خامه وی می کنم اکنون سراغ
آتشی ز آن کاروان گر مانده باشد یادگار
راز های سامري را مي شگافد باقلم

معجز موسی نماید چون فتد کلکش بکار
باستانی شیوه ها آمیخته در سبک نو
با دو شیوه می نماید در معانی ابتکار
آرزو ها در دلش روشن چو آب اندر گهر
دردها در سینه اش پیچان چو دود اندر شرار
نثر من در پیش نثرش حزن حذف پیش گهر
نظم او پهلوي نظمم همچو گل پهلوي خار
(۱۵– ۴۸)

په پورته شعر کې استاد خلیل الله خلیلي، د ښاغلي پژواک نظم او نثر د اور په انداز ه په خلکو باندې تاثیر کوي. دی وایي چې د فرخي سیستاني د تللي کاروان اور او جذبه د پژواک په اشعارو کېویني او د شعر ژبه وایي چې لرغونې شیوه یې په نوي سبک کې په ښه توګه استعمال کړې ده او شعرونه یې بیت په بیت د سوز او درد ځخه ډک دي. ده خپل نظم او نثر له پژواک سره په پرتله وایي چې خپل نظم او نثر خار او د پژواک نظم او نثر یې له ګل سره تشبیه کړي دي.

## ۸- د پیر محمد کاروان مرثیه ښاغلي پژواک ته

پیر محمد کاروان د پښتو معاصر ادب کې یو ځلانده ستوری دی چې په پښتو کې یې یوه هنګامه جوړه کړې ده. نوموړی ښاغلی پژواک پخپل یو شعر کې داسې یادوي.

**د یوه مرور ستوري په ویر**

لمر اوده دی له مداره ستوري وځي
له ماښامه تر سهاره ستوري وځي
ګړنګونه مړه دي غږ د پژواک نه شته
ننګرهاره ستا له هاره ستوري وځي
ژوند مفلس دی مرګ یې وړي په نیمه بیه
د بې قدرو له بازاره ستوري وځي
پولادي غشو لاسونه را اوږده دي
ویني نه دي له پرهاره ستوري وځي
په زرینو تابوتونو کې یې میخ دی
د وطن پر هره لاره ستوري وځي

پر دیار یې باداشاهي د اهریمن ده
نه وي ګرم چې له دیاره ستوري وځي
لکه ورک لاسونه بیا یې موندل ګران وي
چې له ژامې د ښاماره ستوري وځي
د سپوږمۍ ساقي په غېږ کې یې رانیسه
مرور دي له خماره ستوري وځي
ستر سالار یې د مرګي شوکمارو ونیو
کاروان لوټ شو له مهاره ستوري وځي
(۲۵۹ – ۴۴)

## پایله

شعر یو لطیف او نازک هنر دی چې په ټولنه کې را منځته کیدونکي ټولنیز تحولات، پیښې، ټولنیز ارمانونه، هیلې، غوښتنې او دردونه وربانديې د نورو ټولنیزو پدیدو په څیر اغیز لري او بیرته په هنري بڼه د شعر په نوم انعکاس مومي او د ټولنیز ژوند د هنداري حثیت غوره کوي.

د ښاغلي عبدالرحمن پـژواک د شعر و شاعرۍ یوه خوږلني دا ده چې د ده په شعرونو کې د هماغه خپل چاپیریال انځورونه په ډیره طبیعي بڼه راغلي، په زوره یې دا هڅه نه ده کړې چې مصنوعي صنعتونه وکاروي، بلکې د مصنوعي صنعتونو پر ځای یې په شاعرۍ کې طبیعي انځورونه ځای کړي دي.

که چیرې موږ د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د علمي، فرهنگي، سیاسي ژوند او شخصیت بېلابېل اړخونه په یو ټکي سره را یو ځای کړو، نو ور څخه د هغه ملي احساس او د هیواد پالنې مینه، له خپل گران هیواد، افغاني کلتور او فرهنگ سره مینه او بشریت او انسانیت سره مینه جوړیږي. په شخصیت کې یې د همدغې

مینـې اغیـزې ښـې جوتـې وې او خپل ټـول علمي، فرهنګي، سـیاسي او ټولنیـز فعالیتونـه یـې د همدغـې مینـې پـه بنسـټ کـړي دي.

سره لـه دې چـې ارواښـاد عبدالرحمـن پـژواک زمـوږ د هیـواد د معـاصر ادب او سیاسـت پـه ډګـر کـې یـوه وتلـې او منلـې څیـره ده خـو دا چـې لـه یـوې خـوا یـې د ژونـد او شـخصیت د بېلابېلـو اړخونـو پـه بـاب ډېرې لیکنـې او څېړنـې پـه مطبوعاتـو کـې نـه دي خپـرې شـوې او لـه بلـې خـوا پخپلـه د عبدالرحمـن پـژواک منظـوم او منثـور اثـار چـې زیاتـره یـې شـپږ اووه لسـیزې د مخـه دننـه پـه هیـواد کـې د بېلابېلـو علمـي او فرهنګـي ادارو لـه خـوا او یـا هـم پـه دې وروسـتیو درې لسـیزو کـې لـه هیـواد نـه بهـر چـاپ شـوي، تـر لاسـه کـول یـې سـتونز مـن کار و، نـو زه اړ وم چـې لومـړی ځانګـړې چـاپ شـوي او پـه مطبوعاتـو کـې یـې خپـاره شـوي اثـار تـر لاسـه کـړم او بیـا د تحلیـل او همدارنګـه د ښـاغلي عبدالرحمن پـژواک د ژوند او اثارو او د شـخصیت د بېلابېلـو اړخونـو پـه هکلـه د شـتو خـورو ورو منابعـو لـه مخـې خپلـه دغـه څېړنـه بشـپړه کـړم.

همدارنګـه مـا د ښـاغلي عبدالرحمـن پـژواک د اشـعارو او افـکارو سـبک پـه خـورا دقیـق ډول مطالعـه او څیـړلي دي.

مـا د ده پـه شـعرونو کـې هغـه توکـي چـې دی لـه نـورو شـاعرانو څخـه را جـلا کـوي، پـه دقیـق ډول تشریـح او توضیـح کـړي دي.

د عبدالرحمـن پـژواک ټـول اشـعار خـورا سـاده، روان او سـلیس دي یعنـې لـه کومـو سختـو او مشـکلو کلیمـو او همدارنګـه لـه سختـو ادبي صنعتونـو څخـه کار نـه دی اخیسـتی.

په پای کې ویلی شم چې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک اشعار د معاصرې دورې د ټولو ځانګړتیاوو په اصولو برابر دي او د محتوا له مخې ډېر غني دي.

## مناقشه

دا معلومه خبره ده چې د هرې ښځینې موخه په هغه برخه یا ژبه کې د شته تشې ډکولو هڅه ده او ښځینه لیکوالې کوښښ کوي چې په اړونده موضوع کې شته پوښتنو ته یو شمیر ځوابونه وړاندې کړي. خو د دې ځوابونو موندنه خپله ښځینه لیکوالو ته یو شمیر پوښتنو سره مخامخ کوي چې ښځینه لیکوالو ته یې موندنه اړینه ده. ښځینه لیکوالې اړ دي چې د تیرو ښځینو نیمګړتیاوې په ګوته او دغه نیمګړتیاوې پوره کړي، د موضوع پوښتنو ته معقول ځوابونه وړاندې کړي.

هره ښځینه او هره موضوع د ښځینې بېلابېلې لارې او اصول لري، ما په دې ښځینه کې ځان ته خپله لاره غوره کړې ده او تر خپلې وسې مې د موضوع د سپړلو او څېړلو په لور قدمونه وهلي دي خو له نیکه مرغه په دغه سفر کې تر ډېره بریده بریالۍ وم، خو هره ښځینه په حقیقت کې خپلې ربړې هم لري. زه هم د همدې ښځینې په برخه کې له ځینو مشکلاتو سره مخ شوم چې مهمه او ضروري یې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک په اړه د کافي معلوماتو نشتوالی دی. د نوموړي په اړه ډېرې لږې مقالې

زمـوږ مجلـو او ورځپاڼـو کـې خپـرې شـوې دي مګـر دغـه مقالـې ډېـر کمـزورې او ټـول تکـراري مسـايل را اخيسـتي دي.

بلـه مهـه خبـره داده چـې د ښـاغلي عبدالرحمـن پـژواک پـه شـعر او سـبک بانـدې تـر اوسـه څېړونکـو کومـه څېړنـه نـه ده تـر سـره کـړې او دا لومـړی ځـل دی چـې د نومـوړي پـه شـعري سـبک بانـدې پـه دې اثـر کـې ډېـره برخـه خبـرې او بحـث شـوی دی.

ښـاغلي عبدالرحمـن پـژواک پـه اوسـنۍ دوره کـې د ګوتـو پـه شـمار پـه هغـو شـاعرانو کـې راځـي چـې شـعر کـې يـې قـوي فکـر پـروت او داسـې نـوي اندونـه لـري چـې اوس مهـال زمـوږ پـه رنځـوره ټولنـه کـې ورتـه اړتيـا ده چـې د خپـل هيـواد هـر زخـم تـه تـرې د ملهلـم پټـۍ جـوړه کـړو.

د هيـواد تکـړه ليکـوال او څېړونکـي محمـد صديق روهـي د سـبک پـه اړه وايـي: (( سـبک لـه دوو عنـصرو څخـه مرکـب دی، مفکـوره او د ليکونکـي شـخصيت، کلـه چـې پـه بـشر کـې هيـڅ کلـه هـم دوه تنـه عيـن شـخصيت نـه لـري، نـو ځکـه مـوږ عيـن سـبکونه هـم مونډلـی نـه شـو)).(۳۱-۸۵)

پـه همـدې اسـاس د کابـل پوهنتـون د پښـتو څانګـې د ماسـټرۍ بـورد زمـا د تېـزس موضـوع ( د عبدالرحمـن پـژواک د پښـتو نظـم او نثر سـبکي ځانګړنـې) وټاکلـه. مـا هـم تـر خپـل وس پـورې د دې موضـوع پـه څېړلـو لاس پـورې کـړ. دا موضـوع لـه دوه اړخونـو ډېـره مهمـه وه چـې يـو د نومـوړي سـياسي، فرهنګـي، ژورناليسـتکي شـخصيت و او بـل د ده اثـار او د هغـه مفکـوره وه چـې مـا پـه تفصيـل سره پـه دواړو

موضوعګانو بحث او څېړنه کړې ده. هر ډول فکر او خیال چې د پژواک صاحب په اشعارو، افکارو او شخصیت کې پروت و، هغه لوستونکو ته په ګوته کړي دي.

## پای پایله

د شـعر پخوانیـو څیړونکـو او کـره کتونکـو صنایـع د شـعر پـه ماهیـت او حقیقـت کـې شـامل ګڼـل، یـا پـه بـل عبـارت دا صنعتونـه یـې د شعر اصلـي توکـي ګڼـل او د شعر د معیـار لپـاره یـې تـرې تلـه جـوړه کـړې وه.

خـو اوسـنۍ شـاعرۍ کـې معنـوي او لفظـي صنعتونـه هغـه ځـای نـه لـري او یـوازې د جامـو او ګاڼـې پـه سـترګه ورتـه کتـل کیـږي خـو اصـل خپلـه د شـعر معنویـت دی چـې د نـاوې پـه څیـر ارزښـت لـري خـو دغـه ګاڼـې یـې بایـد د وخـت اوښـتو سره بدلـې او نـوې شي.

پـه اوسـنۍ نـړۍ کـې خلـک شـعر تـه یـوازې د جـمال او طبیعـي ښـکلاوو د سـتاینکې وسـیلې پـه سـترګه نـه ګـوري چـې یـوه شـېبه دې هغـوی وربانـدې وخـت تیـر کـړي. اوسـنی شـعر لـه دربارونـو، میخانـو، شرابـو، بـې ځایـه سـتاینو، د شـتمنو او واکمنـو د درنـاوي لـه وسـیلې راوتلـی او د اسرافیـل د شـپیلۍ پـه څیـر زړونـه لـړزوي او د ملتونـو د ویښـتیا ځـواک پـه کـې نغښـتی دی.

د ښـاغلي پـژواک د شـعر و شـاعرۍ پایلـې تـه پـه کتنـه دې واقعیت

ته رسیږو چې هغه د ځینو کلاسیکو شاعرانو په څیر د تورو ځنو په پیچ و خم کې و نه نښته، له ګل او بلبل سره همنوا نه شو بلکې د دغو مکررو او ډیرو استعمال شویو مضامینو پر ځای یې ملي دردونه او ټولنیزې نظریې څرګندې کړې دي.

د ښاغلي عبدالرحمن پژواک د شعر هر پیغام او هر لفظ د نوي نسل او د وروسته پاتې ټولنو لپاره په تیاره کې د رڼا ارزښت لري چې د انسان ژوند هره برخه یې په خپلو سوژو کې وړاندې کړې او مور ته د مینې، محبت، ورورولۍ، سوکالۍ، پر مختګ او د ژوند د نورو ښیګڼو او بریالیتوبونو رازونه را زده کوي او له هر ډول بدبختیو او کړاونو څخه د خلاصون لاره راته ښایي.

## وړاندیزونه

د هري ځیړنیزي او اکاډیمیکې موضوع تر ځېړنې وروسته کله کله وړاندیزونو ته هم اړتیا لیدل کیږ ي، دا ډول وړاندیزونه اکثره د موضوع د غنامندۍ او د موضوع اهمیت ته په کتو سره د نورو ځیړونکو او اکاډمیکو مرکزونو لپاره کیږي. موږ هم د همدې موضوع په تړاو ځینې وړاندیزونه په لاندې توګه وړاندې کوو:

۱- تر اوسه پورې د ښاغلي عبدالرحمن پژواک پښتو اثار کابل مجله، سالنامه او خراسان مجلو کې په تیت و پرک ډول چاپ او موجود دي. د ټولو رسمي او غیر رسمي علمي او فرهنګي ادارو څخه هیله لرم چې آثار یې له ټولو مجلو څخه را ټول او چاپ کړي.

۲- ښاغلي عبدالرحمن پژواک هم په سیاست او هم په شعر کې د افغانانو یوه لویه هستي ده. لکه څنګه چې لازمه ده د ده په شاعرۍ باندې د هیواد تکړه لیکوالو او ځیړونکو ځېړنې نه دي کړي، له ټولو لیکوالو او ځیړونکو څخه هیله لرم چې په سمه توګه یې اشعار مطالعه او خپلو او بهرنیو وګړو ته یې معرفي کړي.

۳- څرنګه چې عبدالرحمن پژواک په نورو ژبو کې هم زيات مهارت درلود او په انګليسي ژبه کې پنځه څېړنيز تاريخي کتابونه لري، هيله لرم چې د غه اثار هم پښتو ته وژباړل شي.

۴- ښاغلي پژواک د هيواد په دواړو ژبو پښتو او دري ډير ي پنځونې کړې دي خو دغه برخه په دري کې درنه ده، هيله لرم دغه داستانونه له مجلو څخه را ټول او په پښتو ژبه وژباړل شي.

۵- له ټولو رسمي او غير رسمي ادارو څخه هيله لرم چې د خپلې ژبې د بډاينې لپاره د ماسټرۍ بورډ ټول تيزسونه چاپ او د خلکو په واک کې ورکړل شي.

## اخځلیکونه


۱- ازمـون، لعـل پاچـا.(۱۳۹۴ل.ل). پښــتو ازاد نظـم، جـلال کـوټ: ختیـځ خپرندویـه ټولنـه.

۲- ازمـون، لعـل پاچـا.(۱۳۹۵ل.ل). پښــتو فولکلـوري ادبیـات، کابـل: پکتـوس خپرندویـه ټولنـه.

۳- الفـت، ګل پاچـا.(۱۳۳٦ل.ل). غـوره نثرونـه، کابـل: پښـتو ټولنـه.

۴- باخـتري، واصف.(۱۳۵۹ل.ل).ګـذاري بـه آن سـوی حبابهـا، (۲-۳) ګڼـه، کابـل: هـنر مجلـه، اطلاعاتـو او کلتـور وزارت.

۵- بارکـزی، محمـد ظاهـر.(۱۳۸۸ل.ل). ادبي فنـون، کندهـار: خـاور خپرندویـه ټولنـه.

٦- بینـوا، عبدالـروف.(۱۳۸۸ل.ل). اوسـنی لیکـوال، کندهـار: علامـه رشـاد خپرندویـه ټولنـه.

۷- بینـوا، عبدالـروف.(۱۳۲۳ل.ل). پښــتني میرمنــې، کابـل: کابـل مطبعـه.

۸- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۷۹ل.ل).بانـوی بلـخ، پیښـور: مرکـز

نشرات اسلامي صبور.

۹- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳٦۴ل.ل). حدیث خون، پیښور: د امان خپرندویه ټولنه.

۱۰- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۹۳ل.ل). خلاصه فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر، پیښور: انتشارات پـژواک.

۱۱- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۲۰ل،ل). داستقلال درویشتم کال،٦ گڼه، کابل: کابل مجله، د علومواکاډمي.

۱۲- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۲۱ل.ل). سیلی،۱۰ گڼه، کابل:کابل مجله، د علومو اکاډمي.

۱۳- پـژواک، عبدالرحمن(۱۳۲۰ل،ل). غزل، ۵گڼه، کابل: کابل مجله، د علومو اکاډمي.

۱۴- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۹۳ل.ل). کلیمه داره روپی، ننګرهار: ګودر خپرندویه ټولنه.

۱۵- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۴۲ل.ل).ګلهای اندیشه، کابل: د پوهنې مطبعه.

۱٦- پـژواک، عبدالرحمن.(۱۳۲۰ل.ل).ملي اشعار،۱۰گڼه، کابل: کابل مجله، د علومو اکاډمي.

۱۷- پـژواک، عبدالرحمن(۱۳٦۸ل.ل). میهن من، د حبیب الله رفیع او محمد روحاني په زیار، پیښور: د امان کتاب خپرندویه موسسه.

۱۸- پژواک، عبدالرحمن.(۱۳۷۰ل.ل).ناهیدنامه،۳گڼه، پیښور: سپیدې مجله، د افغانستان کلتوري ټولنه.

۱۹-پښتو پښتو تشریحي قاموس، (۱۳٦۱ل.ل). دریم ټوک، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل: د علومو اکاډمي.
۲۰- تڼیوال، عبدالحکیم.(۱۳۹۲ل.ل). د پښتو شعر سبکونه، کابل: د افغانستان علومو اکاډمي.
۲۱- جهاني، عبدالباري(۱۳۹۲ل.ل). ورکه مینه، کوټه: صحاف نشراتي موسسه.
۲۲- خټک، اقبال نسیم.(۱۹۹۱ل.ل). د رنګ او بو قافله، پیښور: اداره علم و ادب پاکستان.
۲۳- خدمتګار، عبدالله بختانی.(۱۳۸۵ل.ل): د غرونو پژواک، (۵-٦)ګڼه، کابل: کابل مجله، د علومو اکاډمي.
۲۴- خسرو، فروشیدورد.(۱۳٦۳ل.ل). در باره ادبیات و نقد ادبي، لومړی او دویم ټوک، تهران: انتشارات جهان.
۲۵- داود، داور خان.(۲۰۰۱م). پښتو ازادنظم، ۳۷ګڼه، کراچی: جرس مجله. احمد پرینټنګ پرس.
۲٦- درمل، احسان الله(۱۳۹۵ل.ل). شعرستان، کندهار: بینوا فرهنګي ټولنه.
۲۷- دوست، دوست محمد(۱۳۸۵ل.ل). د پښتو د ولیسي ادب لارې، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۲۸- رفیع، حبیب الله.(۱۳۹۴ل.ل). هغوي چې بیا نه راځي، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
۲۹- رفیق، محمد رفیق.(۱۳۹۳ل.ل). اوسنی پښتو هنري نثر، کابل، خیبر خپرندویه ټولنه.

۳۰- رفیق،محمد رفیق.(۱۳۹۱ل.ل). په افغانستان کې معاصر شعر سبکونه، کابل: انګار خپرندویه ټولنه.
۳۱- روهي، محمد صدیق (۱۳۸٦ل.ل). ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳۲- روهي، محمدصدیق.(۱۳۸۴ل.ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳۳-روهي، محمدصدیق.(۱۳۸۹ل.ل). فولکلورپېژندنه، د سیدغني په زیار، ننګرهار: ګودر کتابپلورنځی.
۳۴- زیار، مجاور احمد.(۱۳۸۹ل.ل). پښتو بدلمیخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳۵- زیور، زیور الدین.(۱۳۸۹ل.ل). د پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره، ننګرهار: مومندخپرندویه ټولنه.
۳٦- ښکلی، اجمل.(۱۳۹۳ل.ل). د ژبارې اصول، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
۳۷-ښکلی، اجمل.(۱۳۹۰ل،ل). سبکپوهنه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳۸- شینواری، دوست.(۱۳۹۳ل.ل). د ادب تیوری اساسونه، ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.
۳۹- غضنفر، اسدالله.(۱۳۹۳ل.ل). جادوګر هنر، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۴۰- غضنفر، اسدالله.(۱۳۹۲ل.ل). د نثر لیکلو هنر، ننګرهار: مومندخپرندویه ټولنه.

۴۱- غنـي، سـيدغني.(۱۳۹۲ل.ل). د پښـتو لرغونـې شـاعري، ننگرهـار: مومندخپرندويـه ټولنـه.
۴۲- غوربندي،ميراجـان.(۱۳۹۲ل.ل). د نـړۍ ادبيـات، کابـل: مسـتقبل خپرندويـه ټولنـه.
۴۳- قيومـي، عبدالشـکور.(۱۳۸۹ل.ل). د پښـتني کلتـور پـه بډاينـه کـې د عبدالرحمـن پـژواک دريـځ، کابـل: د پښـتو څيړنـو نړيـوال مرکـز.
۴۴- کاروان، پيرمحمـد.(۱۳۸۱ل.ل). چنـار خبرې کوي، پيښـور: دانـش خپرندويـه ټولنه.
۴۵- ليـوال، عبدالغفـور.(۱۳۸۱ل.ل). د وريښـمو تـول، امريکا: د افغانسـتان کلتوري خدمتونـو اداره.
۴٦- مصلـح، شـاه محمـد.(۱۳۹۲ل.ل). دخـتر کوچـي، د مـلي فرهنـگ پـژواک، رفيـع اللـه نيـازي په زيـار، کابل: اسـد دانـش مطبعه.
۴۷- مياخيل، شـاه محمـود او عبدالقيوم مشـواڼی.(۱۳۹۴ل.ل). د وطـن معـماران، کابـل: حبيـب اللـه حبيـب مطبعه.
۴۸- نـاصر، نصراللـه.(۱۳۸۹ل.ل. د شـلمې پيـړۍ پـه فرهنگـي ادبي بهيـر کـې د علامـه حبيبـي دريـځ، کابـل: د علومـو اکاډمـي.
۴۹- وزيـري، محمداقبـال.(۱۳۹۱ل.ل). د ادبياتـو تيـوري، پيښـور: د پښـتونخوا د پوهنـې دېـره.
۵۰- هاشـمي، سـيدمحی الديـن.(۱۳۹۳ل.ل). د ادبپوهنـې ځانگـې، پيښـور: ميهـن خپرندويـه ټولنـه.
۵۱- همـکار، محمدابراهيـم.(۱۳۹۴ل.ل). وزن پوهنه(عـروض)،

ننگرهـار ختیـځ کتابپلورنځـی.
۵۲- هنگامه،ظاهـره.(۱۳۹۳ل.ل). د ډرامـې جوړښـت،(۱۰-۱۱) گڼـه، کابـل: کابـل مجلـه، د علومـو اکاډمي.
۵۳- يزال،يارمحمـد.(۱۳۹۲ل.ل). د معــاصرې دورې منتخـب منظـوم متـون، درسي لکچـر نـوټ، کابـل: کابـل پوهنتـون، پښـتو څانگـه.

هم هغسې چې خندا کې هنر نشته
په ژړا کې هم له سره اثر نشته
که دې غاړه لکه غر ونیسې هسکه
په نیلي تیغ د افق کې جوهر نشته
تل يې خلک په خاورين ستورو غولېږي
د آسمان په شين درياب کې گوهر نشته
د ژوندون نه به کوم خوب پریشانه نه وي
له دنیا نه ناراحته بستر نشته
دا چې خاورې شوم د مینې لار کې ښه وي
خو د چا زما په خاورې گذر نشته
زه پژواک یم په پیچومو کې لوی شوی
دا چه چُپ یم دلته غر او کمر نشته

پژواک



Pazhwak Foundation Inc.
بنیاد پژواک
کلید
TKG
THE KILLID GROUP